خراسان غږ

20 ګڼه

دیني، تاریخي، سیاسي، ادبي او خبري مجله

خراسان غږ پنځلس ورځنۍ مجله مؤسسة العزائم يې وړاندی کوي

شلمه ګڼه / شنبه 10 رمضان ۱۴۴۳ هـ

د لیوانو بچي

جمعیتیان که د پاکستان پوځیان؟

مدارات که موالات

دبریلویانو طالبانو عقائد!

د شفق لمنې سرې شوې

روژه

د غزواتو او فتوحاتو میاشت

مؤسسة العزائم الإعلامية
يې وړاندې کوي

خراسان غږ مجله 20 مه ګڼه
رمضان 1444 هـ

سرلیک

سرمقاله 3

د لیوانو بچي

د امریکایي یرغل تازه شپې وې، یوه شپه د ددوی د دوه څرخه غټو طیارو په دروند غرهار د تازه زلمیتوب له درانه خوبه راویښ شوم، د بام سر ته پورته شوم، زموږ له کلي ورپورته له یو بل کلي څخه د ږزو د تراخو غږونو...

سیاسي برخه

7 جمعیتیان که د پاکستان پوځیان؟
20 د الله حد او د طالبانو بد (۳ برخه)
28 دبریلویانو طالبانو عقائد!
35 طالبان د پلک او سندان په منځ کې (۳)
42 مدارات که موالات

دیني برخه

51 خلافت پیژندنه (۵)
57 روژه د غزواتواو فتوحاتو میاشت
61 په کفري هیوادونو کې د اوسیدونکو په اړه د شیخ صیب ابو فاتح سره مرکه

ادبي برخه

76 د شفق لمنې سرې شوې

د ليوانو بچي

د امريکايي يرغل تازه شپې وې ،يوه شپه د ددوی د دوه څرخه غټو طيارو په درونـد غرهار د تازه زلميتوب له درانه خوبه راويښ شوم ، د بام سر ته پورته شوم ، زموږ له کلي ورپورته له يو بل کلي څخه د ډزو د تراخو غږونو سره يو ځاي د زنانه و او ماشومانو سوي کريکې هم راغبرگيدې ،هغه مهال له داسي کېسو سره نا آشنا وم او شايد ټول ولس ته دا يوه نوې پيښه وه ،او ممکن دا به په افغانستان کې د امريکايي درنده گانو له لومړيو سترو چاپو څخه يوه وه ، وروسته يي بيا پايله دا شوه چې له ډيرو ساحو مخکې زموږ په ولسوالۍ کې د دوی ټغر ورټول شو ، سحاره له لمانځه وروسته چې له جماته راووتلو نو زما همزولي او د کاکا زوی خان افضل (خانو) مې څنگ ته رانيږدې شو ، راته يې کړه : په برکلي لکه چې چاپه ده ، اوس نو ډزو غږونه ولاړ وو، خو غټې طيارې لا هم په ډير ټيټ الوتنو زموږ د کلاگانو په سرونو تاويدې او دچاپې ځاي ته ورستنيدې ، کاکا زوی مې راته وويل : ورځو ؟ ورته مې کړه : هو خو گوره تش لاس يو او داسې نارامه غوندې يې چې کوم مشکل جوړ نه کړې ، د پټو لار مو ونيوله او په يوه تراټ مو ځانونه د پيښې ځاي ته ورسول ، زموږ د ورسيدو سره سم ، اخري غټه دوه څرخه هليکفتر پورته شوه ، د خاورو سيلۍ راڅخه يوه شيبه هرڅه له سترگو پنا کړل ، چې دوړه کيناسته نو ومو کتل چې له شاته کليو نور خلک هم زموږ په لور رامنډې وهي، خو چې رانيږدې شول نو نور يې د مخکې راتللو جرائت ونه کړ .

د خلکو د مرعوب ساتلو او پرې د خپل وحشت د سيورې غوړولو په هدف امريکايانو له پيله هغه کارونه شروع کړل چې ورپسې د افغان اولس د راپورته کيدو لامل شول ، امريکايي داړه مارو د خلکو د ډارولو په خاطر د خپل تبليغاتي جال ترڅنگ د خپل تور وحشت څادر هم په ټول ولس غوړولې و، چې له دې طلسم څخه هغه مهال چا د وتلو زړه نه خه کاوه.

زه او تره زوی مې لومړني کسان وو، چې په خوړ وروپوريوتلو او د لوې کلا په ماته دروازه ورننوتو، د کلي اکثره خلک يې يوه ديوال ته کتار لاس تړلي مخ په ديوال کينولي وو، ددوی لاسونه مو له پلاستيکي لاس بندونو راخلاص کړل او بيا مو چې وکتل د څلورو تنو نا آشنا کسانو په وينو لړلي جسدونه هم پراته وو ، د کور سړي نه تر سترگو کيدل ، هغه يې ټول له ځانه سره وړي وو، لنډه دا چې ددغه کسانو جسدونه مو کټونو ته راپورته کړل او د خپل کلي د لوی هديرې په لور مو راوړل ، په همدې شپه زموږ د قريي په يو بل کلي همماله بله چاپه هم وه ، موږ چې کټونه له اوږو کوز کړل نو د ولسوالۍ عسکر راورسيدل ، او دا هم مالومه شوه چې وژل شوي کسان عربان دي ، د ولسوالۍ عسکرو د وژل شويو کسانو د جسدونو سخته بې عزتي وکړه له کټونو يي راگزار کړل او پرې له پاسه وگرځيدل ، د خانو حوصله ورته ختمه شوه ، يو عسکر سره لاس او گريوان شو ، عسکرو کوشش کاوه چې خانو ونيسي خو د کلي نورو ځوانانو يې ممانعت وکړ ، لنډه دا چې خبر راورسيد بيگايي چې په بل کلي کې کومه چاپه وهلې له هغه کلي امريکايانو د فلاني مولوي صيب زنانه وړې ده .

دا اوازه نو د ځنگل د اور په څېر خپره شوه زه او د تره زوی مې نو هغه څوک وو، چې په دې اور مو تيل وپاشل ، په لرې او نيږدې قريو په منډه ، منډه وگرځيدو او ټول ولس مو

راپورته کړ، ټول ولس له جلال آباد څخه نیولې تر تورخمه پورې پخې لیکې ته د ماتم د تورو بیرغونو سره راوتلې و، دا نو بیخي لومړي پیښه وه چې امریکایان په چاپو کې په لومړي ځل یوه زنانه وژني ، د ولس د راوتلي هجوم څخه د اور طوفان جوړ و، ګیر چاپیره لوګي ، لمبې او لوخړې وې ، ځاېي چاوراکي ددې حالاتو له قابو کولو څخه عاجز وو، د ننګرهار والي او د بټي کوټ والسوال راغي او اولس ته یې په زاریو او ننواتو شروع وکړه چې تاسې ارام شئ موږ امریکایانو سره خبره کړې زنانه به بیرته په عزت راورسوي ، زه د سرک په سر د پول په دیوال والي ته مخامخ ولاړ وم، نور مې ځان قابو نه شو کړای، ځوانانو ته مې ناره کړه : دا خبیثان هسې ستاسې احساسات سړوي ، امریکایان دوی ته د سپیو ارزښت هم نه ورکوي ، دروغ وایي ، موږ ځو او په هوایي میدان ورننوځو، خپله خور په زور د امریکایانوله زندانه راخلاصوو.

د والي عسکر راته له غصې خوله ، خوله وو، خو د ولس له ډاره یې رابانډې لاس نه شو پورته کولې ،خو لکه د لیونیو سپو راپسې تاویدل ، د همدې خبرو په جریان کې زما خانو تیره پورته کړه او یو عسکر یې پرې وویشت، د تیرو سخته نښته جوړه شوه ، والي هم پښې سپکې کړې ، په هر صورت امریکایانو چې د ولس احساسات وکتل نو ډیر ژر یې په همغه وخت کې زموږ کلیواله زنانه راورسوله ، او د کلي سپین ږیرو ته یې حواله کړه .

په هر صورت کله چې وضعه یو څه ارامه شوه نو د خانو راته ویل چې دې خلکو سره نوري شپې نه کیږي . ورته مې کړه : نو څه کول په کار دي ، ما او تا خو هلکان یو تر اوسه نه کوم داسې خوځښت شته او نه هم موږ په دې کېسو پوهیږو ، په هر صورت دا بحث به بل وخت ته پریږدو خو لنډه دا چې بیا نو بسم الله مو کړه ، ما د ممبرونو او دریځونو له لارې ځوانان د امریکایانو په خلاف جهاد ته هڅول او خانو تقبله الله په عملي مبارزه پیل وکړ ، همغه وو، چې لومړي زموږ والسوالي وه چې د امریکایانو له اشغاله ازاده شوه ، او د سختو جګړو او غورځو پرځو وروسته د شپې له تیارو د ورځې رڼا ته خبره راووتله ، خان افضل (خانو) په لومړي ځل د خپل یو بل ملګري سره په رڼا ورځ د ولسوالی په کلیو وګرځید ، له دې وروسته نو نه بیا امریکایانو او نه هم ځایي حکومت دومره جرائت ونه کړ چې کلیو ته راښکته شي او که کله به په سترو عملیاتو کې راکیوتل نو بیرته به مات وګوډ ستنیدل ، د بټي کوټ د مؤحدو مجاهدو زلو له مبارزې د ټول افغانستان ولس رنګ واخست او ټول وطن اشغالګرو امریکایانو ته سور اور شو .

کله چې بټي کوټ ته د اسلامي دولت غازیان بیا د خان افضل په رهبرۍ راکیوتل نو د اي اېس اي او سي اي اي ملېشو ته بې غبرګي منډې ورکړې ، دواړه شبکې پوهیدې چې د خانو ژوندي پاتې کیدل د یو بل ستر انقلاب پیلامه ، د طالب په جامه کې ددوی د پروژې د ناکامی یوه سترخنډ او ځنډ دي په طالب یې چې کومه سرمایه ګذاري کړې ده د خانو په حیر زلو به شتون کې به ورته ونه رسیږي ، څکه یې نو د خانو موټر په بټي کوټ کې له ډرون څخه وویشت او د خپلو ملګرو سره یې په شهادت ورساوه ، او دا هم په بټي کوټ کې لومړي د ډرون ګذار وو چې امریکایي درنده ګانو په کې ددې ولسوالی فاتح شهید کړ ، په هر صورت دا یو بیل بحث دي چې خانو څنګه خپله مبارزه پیل کړه ، او څنګه د اسلامي خلافت لیکو سره یو ځاې شو ، چې په دې اړه به تفصیل د (خانو) په نوم دده په ژوند او کارنامو لیکل شوي ناول کې ډیر ژر ولولئ ان شاء الله .

خو راځو دې ته چې کله زموږ د کورنۍ او ولسوالی هغه مجاهدینو چې په دې سیمو کې د امریکایي اشغال په خلاف لومړي ټوپکي راپورته کړي وې او په سربښندنه او ایثار یې اوس هم ولسونه قانع دي ، دغه ټولو د اسلامي خلافت سره بیعت وکړ، دا مجاهدین ټول د سپین غر په غرونو کې پراته وه ، خو د امارت لنډه غر راتلل او د امریکایانو په څېر یې زموږ په کورونو چاپې اچولې ، یوه ورځ سحار وخته زموږ له کورنۍ د دوه سوه په تعداد کې د امارت هغه غله او لنډه غر تاو شول چې کله زموږ مجاهدین زلمي دلته د امریکایي اشغال له پیله په جګړه بوخت وو، نو دوی چرته رمې پولې او لا تر اوسه هم د اسلام په ابتدایي مسایلو نه پوهیږي ، خو لنډه دا چې یو سحار وختې مو د کلا دروازه په ډیر شدت سره وټکیده ، چې ورغلم د دروازو له درزونو مې وکتل چې طالب ملېشې دي او د دروازې د خلاصیدو اختارونه راکوي ، ورته مې کړه : ستاسې چې څوک په کار دي هغه کور کې نه شته ، او دا وحشت مو کټ مټ د امریکایانو په څېر دې ، داسې ولې کوئ .

زما له همدې خبرو سره یې د دروازې په ماتولو شروع راوکړه ، د هغې کلا د دروازې راماتول یې شروع کړل چې کلونه ، کلونه یې په خپلو ختینو کوټو او کونجونو کې ګڼو مجاهدینو او ددوی اسلحو ته پنا ورکړې وه او په دې ولسوالی کې د اشغال له پیله د یوې مورچې په حېث ولاړه وه ، په هر صورت د کورنۍ زلو ټوپکو ته لاس کړ ، موږ ټول پنځه کسان په کور کې وو ، د باموښو سرونو ته پورته شو ، کله چې بهر راغلو شپنو د ټوپکو د قیدونو ښکته کیدو او لټونو کش کیدو غږونه واوریدل نو زموږ د کلا ګانو له ټولو دروازو شاته شول ، چې وروسته بیا په خپله مخه لاړل . ما هم د هجرت لاړ ونیوله او الله عزوجل رابانډې د اسلامي دولت تمکین ته د هجرت لورینه وکړه ، هلته هم بیا یو وخت داسې راغي چې د کوټ سیمې ځاېي اربکیانو اوحکومت یې د اسلامي خلافت مهاجرې زنانه اسیراني کړې .

دغه وخت د هغه وخت د والي حافظ سعید خان تقبله الله سره نیږدې وم ، ورته مې وویل حافظ صیب دا خلک په بله هوا کې ګرځي ددوی دا کړې خولې په سوک سمیږي ، حافظ صیب چې د ایمان او غیرت غر و، ویل یې الله به خیر کړي ، خلک ورلیږو که ونه شوه بیا به ګورو ، څو پرلپاسې او د مختلفو قشرونو کسان یې دغه اربکیانو ته واستول چې زموږ زنانه راخوشې کړئ خو هغوی پرې کوم غوږ ونه ګراوه او همغسې د ضد په خره سپاره وو، اخر هم حافظ صیب د (خویندو د غچ غزا) په نوم غزوه اعلان کړه او د اسلامي دولت اتلانو بیا د همدې غزوې په لړ کې نیږدې له نیمایي کوټ زیاتې سیمې د خپلې ولکې لاندې راوستلې ، چې له تښتیدلو پاڅونخیلو او اربکیانو څخه بیا خپلې زنانه څه ، چې د پښو څپلې هم پاتې وې .

په هر صورت دا دومره اوږده کېسه دې پورې رایاده شوه چې اوس د امریکا کرایي ملېشو طالب مرتدینو هم د خپلو بادارانو په پل ، پل ایښې او همغه کېسې یې شروع کړې دي . کله چې امریکا طالب مرتدینو ته د ایمان ، غیرت ، شرافت او نورو ارزښتونو په قیمت د افغانستان واک او څواک سپاره ، نو دا یې پرې منلې وه ، چې د اسلامي نظام په نامه په دوحه کې د ډیزاین شوې نوې دیموکراسۍ د تطبیق ترڅنګ د مسلمانانو سره دښمني او د مؤمنو، مؤحدو ، مجاهدینو او مهاجرینو سره هر ډول وحشت او ستم به همغسې جاري ساتي څنګه چې ددوی بادارانو کاوه ، همغه و چې دا د بلک واټر ملېشې د بایډن نوې عسکر د خپلو بادارو صلیبي درنده ګانو په پل روان دي ، په هر قدم او هرحرکت کې د هغوی تقلید کوي .

فرعون له دې داره چې په بني اسرائلو کې به یو ماشوم راپیدا او راستر شي او دده پاچاهي به ړنګه کړي نو هغه هم د بني اسرائلو ماشومان له یوه مخه وژل ، خو موسي علیه السلام الله عزوجل راپیدا او د همدې فرعون په کور کې راستر کړ .

نو نن یې دادې لارویان طالب درنده ګان همغه لاره او چاره تعقیبوي له همدې ډاره چې په دوی کې داسې ځوانان پیدا نه شي چې د اسلامي دولت لیکو ته لاړ شي او یا هم د اسلامي خلافت سره کومه همکاري وکړي مخکې له مخکې یې د عامو مسلمانانو په قتل عام پیل وکړ ، ددوی له جسدونو یې دشتې او نهرونه ډک کړل ، په ډیر وحشت او بې رحمۍ یې په ځلورو لارو کې راوځړول ، ددوی علماء یې بې دریغه ووژل مدارس او مساجد یې وربند کړل ،ډیرې یې د خپلو سیمو پریښودو ته اړ کړل .

دوی له همدې داره چې ددوی دا د ماشومانو باچاهي به راړنګه کړي ، دا تش په نوم اسلامي نظام به له بیخه راونړوي.

هغه مرژواندي نظام ! چې د امریکا

د ډالري کڅوړو سیروم ورته لګیدلې او هسې په کې ساه ځې راځي ، دا به سقوط شي نو له دغه ویرې یې د اسلامي خلافت مجاهدینو سره دومره وحشت او ځناورتوب شروع کړې چې خپل هغه صلیبي بادران یې هم ورته حیران دي .

او وخت په وخت دوی ته د مؤحدینو د وژلو له امله مبارکۍ را استوي او په شا یې ټپوي چې ددوی ورسپارل شوې ماموریت همغسې ترسره کوي څنګه چې ترې ددوی باداران غوښتنه کوي .

نو دا د لیوانو بچې هم د خپلو پلارانو په څېر د شپنیو چاپو په نامه په روانو شبخونونو کې هغه وحشتونه او ظلمونه جاري ساتي چې په تېر کې مثال نه موندل کیږي .

دوی په دغه چاپو او عملیاتو کې د اسلامي خلافت د مجاهدینو ښځې او ماشومان له یوه مخه وژني ترمنځ یې هیڅ کوم توپیر او تفکیک نه کوي لومړي خو کوشش کوي چې خپل دا وحشتونه پټ کړي خو یو نیم ددوی دتمې خلاف ترې رسنیز هم شي .

دوی په پروان کې د اسلامي دولت د مجاهدینو په زنانه او ماشومانو د کوټو چتونه او دیوالونه راړنګ کړل او ددوی معصوم بدنونه یې د خاورو لاندې کړل .

دوی تیر کال په هرات کې د اسلامي خلافت د مجاهدینو ښځې او ماشومان په ډېره بې رحمۍ ووژل او هغه مهال یې خپله دا هم ومنله چې په دغه عملیاتو کې دوی اوه تنه ماشومان او څو تنه معصومې تور سرې هم ووژلې او د یوې مستورې او عفیفې اسیرې مجاهدې خور د ښکاره مخ ویډیو یې هم خپره کړه



دوی په ننګرهار ، کابل او نورو ولایتونو کې هم داسې ، ورته کړنې ترسره کړې چې له ډېر درده ددغه پېښو د لیکلو له کبله ګوتې رېږدي ، ددوی په زندانونو کې چې زموږ د مجاهدینو د میرمنو او بچو سره کوم وحشتونه او ظلمونه کیږي د هغې د لیکلو او ویلو دوی په مزار شار کې د اسلامي دولت د یو مجاهد میرمن لومړي په ډېره بې رحمۍ ووژله او

بیا یې د هغه د جسد بې عزتي وکړه او په یوه ځلور لارې کې یې واچوله . او دا یو څه موده چې د اسلامي دولت ښکاري زمري خپل ښکار ته غلي او په کمین کې وو، نو دوی داسې تصور کاوه چې ګونډې د اسلامي دولت زمري یې ختم کړل ، نو ددغه کاذبې خوشالۍ په نشه کې یې بیا خپلو وحشتونو ته زور ورکړ ، څه موده وړاندې یې په یوه جعلي چاپه کې د اسلامي دولت څو تنه اسیران په شهادت ورسول ، دغه اسیران یې له بل ځایه لومړي دغه کور ته را انتقال او بیا یې له ځانه د جوړې شوې چاپې په لړ کې یې په ډیر وحشت د مجاهدینو ترڅنګ زموږ یوه پاکه ، عفیفه مجاهده خور هم په ډیره بې رحمۍ په شهادت ورسوله او په دې یې هم اکتفاء ونه کړه بلکې لوڅ مخ یې ترې د خپلو خنداګانو په شور کې په داسې حال کې ویډیو کوي چې خپل ناپاک قدمونه زموږ ددې پتمنې خور په جسد اړوي اړاوي .

طالب وحشیان فکر کوي چې په دې وحشتونو به خپل دا د ظلم او کفر نظام دوامداره وساتي .

فکر کوي چې د اسلامي دولت د استشهادیانو کتیبو او د انغماسیانو لښکرو خپل چاودیونکي واسکټونه ویستلي ، موټر بمونه یې درولي او اسلحې یې ایښې دي..

دوی فکر کوي چې ددوی سره ددغه وحشتونو د حساب لپاره د اسلامي امت په بچو کې څوک پاتې نه شول.

هغه وحشتونه او ظلمونه چې ددوی د باداري امریکا او تحالف کونکو د نابودۍ او رسوایي سبب شول ، دوی څه فکر کوي همدغه وحشتونه به

دوی د هلاکت سبب ونه ګرځي؟

څنګه چې امریکایي درنده ګانو زموږ په مستورو خویندو لاسونه اوچت کړل ، زموږ خویندې او میندې یې وژړولې ، ووژلې او اسیرانې یې کړې او ورپسې د استشهادیانو او انغماسیانو لښکرې راپورته شوې ..

نو دغسې یې دغه کرایي ملېشو که همغه کړنه شروع کړې نو همداسې یې په غبرګون کې زموږ له عادي مجاهد هم استشهادي جوړ کړ، او په سلګونو نور ځوانان لله الحمد اوس ددوی په اصلیت پوهه شوي او د اسلامي خلافت د کاروان سره ملګرې کیږي .

طالب ملېشو ته وایو!

تاسې څه فکر کوئ تاسې چې دومره په جرائت او سپین سترګۍ په دومره وحشت او درنده ګۍ زموږ په خویندو او بچو د کوټو چتونه راکینوئ، دوی وژنئ، اسیروئ یې، بې عزتي یې کوئ، تحقیروئ یې ، دا ټولې کړنې به هیڅ کوم غبرګون ونه لري او یا دا چې کله مو داسې تصور کړې چې که موږ ستاسې په بچو

همداسې کورونه راړنګ کړو ، ستاسې زنانه اسیرانې کړو ، او بیا یې دغسې په لوڅو مخونو ترې ویډیوګانې وکړو ، لکه تاسې چې په هرات کې د اسیرې خور څخه کومه ویډیو کړې ده ، همدغسې ورته په زشته او ترخه لهجه د مرګ اختارونه ورکړو، یا همدغسې لکه تاسې چې زموږ یوه مؤمنه اسیره خور په هرات کې له زندانه کوم کور ته انتقال کړه ، بیا مو په جعلي چاپه کې ووژله ، بیا نو هغه لوڅ مخ ده او تاسې خاندئ راخاندئ او خپل ناپاک قدمونه پرې اړوئ را اړوئ ، که موږ ستاسې د کوم یو طالب ښځه ، لور ، مور یا خور ووژنو یا یې اسیرانې کړو او بیا یې لوڅ مخ دغسې ویډیوګانې نشر کړو نو ستاسې درد او ستاسې شور او تبلیغات به څه وي ؟

څه فکر کوئ موږ چې د بدخشان امنیي قومندان د قومندانۍ په دروازه کې د الله په فضل او مرسته وژلې شو او والي مو په ولایت کې دننه د الله په مدد شینډلي شو ، نو ستاسې کورنو ته مو لاسونه نه رسیږي که څنګه ؟

ایا موږ ستاسې بچې دغسې نه شو وژلې لکه څنګه چې تاسې زموږ

معصوم بچیان په وینو لمبوی او د باروتو په لمبو یې سیزئ ؟
ایا موږ ستاسې زنانه دغسې وژلې او اسیرولې نه شو ؟موږ ټولو عامو مسلمانانو ته دا وریادوو چې

تاسې د طالب دغه وحشتونه درسره خه په یاد وساتئ، دوی چې کومې کړنې شروع کړي یوه ورځ به ددې پور خاماخا پرې کوي ان شاء الله .
نو چې تاسې پوهه یاست او بیا د اسلامي دولت مجاهدینو ته څوک د ملامتی گوته ونه نیسی ځکه چې لومړي دوی ددغه کړنو پیل کړی .
موږ خو یې چې وژنو بیا یې نو دغسې د خپلو بچو او خویندو په

انتقام کې په رڼا ورځ په ډک بازار او ددوی د پټیدو په غار کې وژنو.
طالب که هر څومره د خپل وحشت په اوج کې د اسلامي دولت د نابودی سندرې زمزمه کوي او خپلو کافرو بادارانو ته دا ډاډ ورکوي چې نور د اسلامي دولت مجاهدین ختم دي ، خو ددوی کافر باداران نور عام خلک او آن دوی هم خپلو کې خه سره پوهه دي چې یو ځوک د الله په نصرت او فضل دا وړتیا لري چې د خپلې شهیدې خور په غچ کې په همغه منطقه کې د همغې پېښې په سبا په ډک بازار کې ددوی لوړ پورې چاړواکې وژلې شي او یا ددوی د والي په کچه لوړ پوړي چاړواکي په خپلو سوړو او غارونو کې وژلې شي نو ختم او ورک به داسې وي ؟
لنډه دا چې تاسې نه په خپلو داسې باټو او لاپو، نه په دغه شکرورو درواغو ، نه د کفارو په ډالرو او نورو پټو او ښکاره مرستو ، نه په داسې رذالتونو او وحشتونو خپل دا د وحشت اوکفر نظام ته دوام نه شئ ورکولای .
یاد ساتئ چې تاسې به هم د خپلو کافرو بادارنو په سرنوښت اخته کیږئ او دا ځل به مو خپله موږ پاکستان هم د پټیدو ځای درنکړي ،تاسې د اسلامي دولت د زمرو جگړه تجربه کړي چې د الله عزوجل په مرسته د اسلامي دولت د غازیانو په پنځه کسیزه مورچه به مو دري سوه چرسیان نه شو ورختلې ، او د اسلامي دولت دوه تنه مجاهدینو به ستاسې سل تنه په مخه اخستې وو، پگړې به یې غاړو کې راځړیدې .
نو د لیوانو بچوا! انتظار کوئ تاسې د کفارو په خدمت او دوستۍ کې خپلو ځانونو ته د حساب ورکولو ډیر درانده پندونه وترل .
تاسې هم انتظار کوئ او موږ هم منتظر یو باذن الله .



جمعیتیان

که د پاکستان پوځیان؟

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أمابعد:

د نړیوال جنګونو څخه وروسته د هند په ځمکه د اسلامي نظام د بیخ کندي په پار د سیکولرزم تخم وکرل شو، چې د اشغالګرو لخوا د زور او زر د استعمال په نتیجه کې د دغه ضرري بوټي ځانګې او جرړې د سیمې مسلماني ټولنې څخه په کامله توګه تاو شوې، او ډیر د تاسف مقام دی چې د ټولنې د مرضونو طبیبان، د الله د نبي وارثان او د امت روحاني مشران، علماء هم په پراخه کچه د دې فتنې ښکار شول، د هر مسلک د سترو علماؤ، لیکوالانو او خطیبانو تاریخ چې سړی لولي نو دې حقیقت ته رسیږي چې د نن سباني مسلکونو اکثره اکابرین پدغه مرض کې اخته ول، چې نن یې کشران هم د هغوی په نقش قدم روان دي، او دلیل پر ځای د مشر عمل حجت ګڼي. که هغه د دیوبندي مسلک اکابرین دي او که د سلفي مسلک دي او که د نورو دي. د هند په ځمکه د سلفي مسلک بعضې مشران لکه نواب صدیق حسن خان چې د دوه سوه څخه زیاتو مفیدو تصنیفاتو لیکوال دی خو دا د انګریزانو لخوا د هند د بهوپال ریاست نواب و، ځکه د بهوپال مشرې چې په بیګم شاه جهان باندې مشهوره وه، هغې ورسره واده وکړ او نوموړی د خپلې میرمن په شمول د انګریزانو رسمي مامور وګرځېد او د میرمنې په سفارش یې د انګریزانو لخوا ورته د نواب رتبه ورکړه او د ۱۷ توپونو سلامي ورته وشوه. هغه مهال بهوپال د انګریزي استعمار یو مستقل ریاست و. د ثناء الله امرتسري په شان شخصیت چې سلفي علماؤ به ورته د شیخ الاسلام لقب کاروو، محمد ابراهیم میر سیالکوټي چې امام العصر باندې ملقب و، دا دواړه د مفتي کفایت الله دیوبندي په مشرۍ د جمعیت علماء هند مخکښ غړي ول چې د دغه ګوند تذکره به وروسته راشي. ان شاء الله.

دغه رنګ سید داود غزنوي ، چې هغه ۱۹۴٦ م کې د کانګریس لخوا په انتخاباتو کې پنجاب ولایتي جرګې ته بریالی شو، بیا ۱۹۵۱ م کې یې بیا برخه واخیسته او د پنجاب اسمبلۍ ته یې لار وموندله، خبره د احسان الهي ظهیر په څیر وروستي کسانو ته ورسیده، چې هغوی هم د دې عظیمې فتنې ښکار شو، هر یو په غربي سیاست کې خپله برخه واخیسته، د سید داود غزنوي او نورو په هڅو د سلفي عقیدې لرونکو مسلمانانو مهارولو لپاره د مرکزي جمعیت اهلحدیث په نوم سیاسي ګوند جوړ شو او عملا یې انتخاباتو کې برخه واخیسته، د ۱۹۷۰ میلادي کال انتخاباتو کې د مرکزي جمعیت اهلحدیث دوه غړي د پنجاب ولایتي جرګې ته کامیاب شول، په ۱۹۷۷ میلادي کې یې بیا انتخاباتو کې په پراخه کچه برخه واخېسته، احسان الهي ظهیر د تحریک استقلال نماینده و، حافظ عبد القادر روپړي د جمهوري پارټۍ نماینده و او معین الدین لکهوي د مسلم لیګ لخوا کاندید و. [کتاب: اهل حدیث منزل به منزل] چې اوس هم د هغوی کشران لکه ساجد میر وغیره د دغه مشرانو په دغه نقش قدم روان دي، سره د دې چې ځانونه کلک موحدین ګڼي خو بیا هم شرکي انتخاباتو کې برخه اخلي، د قانون سازۍ په جرګو کې ناست دي، پارلمان او ولایتي جرګو او شوراګانو کې د لسګونو کلونو راهیسې د میکالی وضعي قانون په چوپړ بوخت دي!! والله المستعان. دا هغه تریخ حقیقت و چې د امت د پوهاوي په خاطر مو د تاریخ پاڼو ته وسپارو. او د سلفي مسلک داسې وګړي هم شته چې دغه شرکي تنظیم کې نه دي، او شرکي سیاست کې ګوتې نه وهي، هغوی بیا په جمهوریت او سیکولرزم باندې مدلل ردونه هم کړي دي، خو د دوی تعداد ډیر کم دی.

اوس به د دیوبندي مسلک تذکرې ته راشو، په غربي سیاست کې د دیوبندیانو لاس ډیر پراخه دی، یو علت یې دا دی چې پاکستان او هند په سیمه کې د دوی نفوس زیات دی، نو کاندیدان یې هم په انتخاباتو کې یو څه رایې ترلاسه کوي او سیاست کې یې ونډه د سلفیانو څخه زیاته ده. که د دیوبندیانو سیاسي شالید ته وګورو نو کله چې د دارالعلوم دیوبند صدر مدرس مولوي محمود الحسن دیوبندي (چې شیخ الهند باندې معروف دی) په ۱۹۱۹ م کې د مالټې زندان څخه راخوشې شو، نو د خپلې مبارزې لپاره یې د جمهوریت لار غوره کړه.

او خپله تګلاره یې په شپږو نقطو کې راخُلاصه کړه.

اول: د وطن د آزادۍ لپاره پرامن جدوجهد کول.

دویم: د مسلمان او هندو مشترک محاذ رامنځ ته کول.

دریم: د قدیم او جدید علومو ادارو او افرادو په ګډه کار کول.

څلورم: ملکي او سیاسي چارو لپاره د جمهوریت ساتنه.

پنځم: مسلکي تعصباتو او تفرقې څخه

اجتناب.

شپږم: مسلمان قوم لپاره د نبوي سنت او ښایسته نمونې تابعداري، د دین تعلیم او د اسلام تبلیغ.

[دار العلوم دیوبند اور سیاست ص ۱۴٦]

دا هغه وخت و چې جمعیت علماء هند هم تازه رامنځ ته شوی و، مفتي کفایت الله دیوبندي یې لومړی صدر و خو بیا د دیوبند صدر مدرس محمود الحسن دیوبندي یې صدر وټاکل شو، نو دغه وخت راهیسې د دیوبند سترو مشرانو جمهوریت او عدم تشدد خپله تګلار وټاکله.

جمعیت علماء هند په همدغه نظریاتو سره خپل مزل پیل کړ، چې لږه موده وروسته محمود الحسن دیوبندي وفات شو، او د جمعیت صدر مفتي کفایت الله دیوبندي وټاکل شو، او شل کاله یې صدر و، بیا حسین احمد مدني تر مرګه پورې د دغه سیاسي ګوند صدر و.

د پاکستان جمعیت علماء اسلام تنظیم ځان دهند دجمعیت علماؤ تسلسل او په پاکستان کې دهغه ځای ناستی بولي، چې په دې مناسبت یې درې ورځینۍ نړیواله اجتماع هم جوړه کړې وه او خپله(د قمري حساب موافق) سل کلیزه یې ولمانځله.

د ۱۹۱۹ م څخه تر ۱۹۴۵ م پورې د علماؤ په نوم همدغه یو سیاسي ګوند و، چې د دوی نظر دا و چې مسلمان او هندو په مشترک ډول یو ټولشموله جمهوري حکومت رامنځ ته کړي او انګریزان دې اشغال ختم کړي. خو کله چې د هندو او مسلمان ترمنځ د بیلیدو نظریې زور واخیست، نو د هند بعضې ملایانو د جمعیت علماء هند د ټولشموله مفکوره خوښه نه شوه او هغوی د بل ګوند جوړولو اراده وکړه، چې د کلکته په سیمه کې د جمعیت علماء اسلام په نوم دویم سیاسي ګوند رامنځ ته شو او شبیر احمد عثماني یې صدر وټاکل شو او ناظم یې د تقي عثماني پلار مفتي شفیع عثماني وټاکل شو. [اکابر علماء دیوبند ص ۲۱۲ بحواله دار العلوم دیوبند اور سیاست]

د پاکستان قیام څخه وروسته د جمعیت علماء اسلام مشر محمد صادق وټاکل شو. په ۱۹۴۹ م کې شبیر احمد عثماني وفات شو نو حسین احمد لاهوري د ګوند امیر وټاکل شو. او په ۱۹۵٦ م کې د ګوند نظم بیا راجوړ شو، حسین احمد لاهوري امیر، غلام غوث هزاروي یې عمومي ناظم او د فضل الرحمن پلار مفتي محمود یې معاون وټاکل شو. چې پدې سره د تقي عثماني پلار مفتي شفیع او احتشام الحق تهانوي خفه شو او هغوی د مرکزي جمعیت علماء اسلام په نوم جدا ګوند جوړ کړ.

د جمعیت علماء اسلام دریم دور د عبد الله درخواستي د امارت او د مفتي محمود د قیادت څخه شروع کیږي، چې د ۱۹٦۲ م څخه د دغه ګوند واګې د فضل الرحمن پلار مفتي محمود لاس ته ورغلل، او په انتخاباتو کې یې په پراخه کچه برخه واخیسته. مفتي محمود د خیبرپختونخوا (صوبه سرحد) لومړی وزیر وټاکل شو، بیا پارلمان کې د اپوزیشن (حزب اختلاف) مشر و، تر دې چې په ۱۹۸۰ م کې وفات شو.

د جمعیت علماء اسلام څلورم پړاو د مفتي محمود زوی فضل الرحمن د قیادت څخه شروع کیږي. په ۱۹۸۱ م کې جمعیت بیا دوه ټوټې شو، فضل الرحمن ګروپ او درخواستي ګروپ، ۹ کاله پس دوی سره بیرته یوځای شو نو د اکوړه ختک سمیع الحق ترې بیل شو او خپل ګوند یې جوړ کړو. [دار العلوم دیوبند اور سیاست]

نو دا د دیوبندي مسلک د اکابرو د سیاسي ژوند مختصر داستان و چې محمود الحسن دیوبندي، کفایت الله دهلوي، حسین احمد مدني، شبیر احمد عثماني، حسین احمد لاهوري، شفیع عثماني، غلام غوث هزاروي او مفتي محمود په څیر خلک، چې د دیوبندي مسلک مدرسین، مصنفین، لیکوالان او خطیبان وو، د دوی مُسلَّم مشران وو، هغوی دغه غربي سیاست کې ونډه اخیستې ده او دې ته یې وده ورکړې ده چې نن یې کشران هم لار تعقیبوي. اګر که یو شمیر دیوبندي اکابرینو یې جمهوریت باندې رد هم کړی دی، کفر یې ورته ویلی دی، لکه د دوی حکیم الأمت أشرف علي تهانوي، ادریس کاندهلوي، سید سلیمان ندوي، قاري طیب قاسمي، مفتي رشید احمد لدهیانوي، مفتي یوسف لدهیانوي، سید عطاء المحسن شاه بخاري، شاه محمد حکیم اختر، مفتي اعظم دار العلوم دیوبند مفتي محمود حسن ګنګوهي، سلیم الله خان، مفتي نظام الدین شامزئ، شیخ ولي الله کابلګرامي او داسې نورو په جمهوریت ردونه هم کړي دي خو نن سبا اکثر دیوبندیان انتخاباتو کې برخه اخلي او د دغه مرض څخه ډیر لږ خلک محفوظ دي.

لهذا د دې عصر موحدینو ته پکار ده چې نبوي منهج ته خدمت وکړي او امت مسلمه تنده د شرعي چینې په پاکو او خوږو اوبو ماته کړي، نه دا چې د تیر په څیر دوی هم په خلکو د ککړو ډنډو څخه اوبه وڅکي. په همدې اساس نن غواړو چې د پاکستان د یو طاغوتي ګوند جمعیت علماء اسلام حقیقت هم مسلمانانو ته په ډاګه کړو، ترڅو دوی ترې ځانونه وساتي.

د دغه ګوند تاریخي او سیاسي شالید په پورته کرښو کې بیان شو، راځو د جمعیت دستور، منشور او موخو ته. د دوی د دستور یوه ماده دا ده:

7.پاکستان کے موجودہ آئین کو تحفظ دینا اور خلاف اسلام قوانین کو اسلام کے موافق کرنا اور کسی بھی غیر اسلامی قانون سازی کو بننے کے راستے میں رکاوٹ بننا۔

د پاکستان اوسني آئین (قانون) ساتل او د اسلام خلاف قوانین د اسلام موافق کول او غیر اسلامي قانون جوړونې مخنیوی کول.

دې ماده کې د جمعیت علماء اسلام دستور دا ذکر شوی چې دوی به پاکستان د وضعي قانون ساتنه کوي، هغه قانون چې میکالی کافر وضع کړی دی، سیکولري او جمهوري قانون دی، د هغه د ساتنې ناپاکه وظیفه د جمعیت علماء اسلام په غاړه ده او همدغه موخې په پار دوی د پاکستان علماء استعمالول غواړي!!

بیا دې ماده کې وایي چې د اسلام خلاف قوانین د اسلام موافق ګرځول، یعنې دا اقرار هم کوي چې دې شرکي قانون کې د اسلام خلاف قوانین هم شته خو بیا هم د دغه قانون ساتل خپله وجیبه ګڼي. او د غیر اسلامي قانون سازۍ مخنیوي خبره هم هسې د خلکو دوکه کول دي، ځکه اسلام کې تشریعي قانون جوړ دی، نور دې ته حاجت نشته چې تشریعي قوانین وضع شي، پدې کې د اسلامي او غیر اسلامي قانون سازۍ تقسیم او اختیار بندګانو ته نشته. د شرکیت اصلي لامل هم قانون جوړونې اصل دی، خو دوی ځانونه پدغه شرک ککړ کړي دي او په ناولتوب کې د سم او ناسم توپیر بې ځایه دعوې کوي.

نو د دې مادې وروستي جزء په اړه د دوی عمل شاهد دی، تاسې وګورئ چې د اویا کالو څخه زیاته موده وشوه، پدې کې دوی د پاکستان کوم قانون اسلامي کړو ؟ آیا جمهوریت او سیکولرزم یې ختم کړ؟ آیا د انتخاباتو شرکي نظام یې لغوه کړ؟ آیا الهي نظام یې چیرې حاکم کړ؟ د خیبرپختونخوا واک څو ځل په لاس ورغی آیا دغه ایالت کې یې شرعي قانون پلی کړ؟ چې د ۷۴ شاوخوا کلونو د مبارزې نتیجه صفر وي بلکې منفي کې روانه وي نو بیا ولې خلک دوکه کوئ او د اسلامي نظام شعارونه بدرګه کوئ؟

سره د دې چې د کفري قانون ساتنه کول په اجماع د امت مسلمه سره اسلام ماتونکی عمل دی.

د دوی د منهج اتمه ماده دا ده:

8.پاکستان کی حدود میں تقریر و تحریر و دیگر آئینی ذرائع سے باطل فتنوں کی فتنہ انگیزی، مخرب اخلاق اور خلاف اسلام کاموں کی روک تهام کرنا۔

د پاکستان په حدودو کې د تقریر، تحریر او نورو قانوني لارو په توسط د باطلو فتنو فساد جوړونې، د اخلاقو فاسدونکي او د اسلام خلاف کارونو مخنیوی کول.

د دې ګوند منشور دا شو چې د هرې

باطلې فتنې مخنيوی به د پاکستان وضعي قانون په سيوري کې کيږي، او مونږ تاسې ته واضحه ده چې د پاکستان شرکي قانون فتنې ته فتنه نه وايي، او کچيرې ورته فتنه هم ووايي نو مخنيوی يې نه کوي، نو جمعيت علماء اسلام د مجهول مطلق طلب کوي، په فتنه باندې فتنه ختمولو کوښښ کوي، چې نتيجه يې ستره فتنه راوځي.

د دغه منشور لسمه موخه دا ده:

10.تمام دنیا کے ممالک سے برابری کی بنیاد پر دوستانہ تعلقات قائم کرنا۔

د نړۍ ټولو هېوادونو سره د برابروالي په اساس دوستانه اړيکې قايمول.

د جمعيت علماء اسلام موخه او منشور دا دی چې د پاکستان مسلمانانو د زړونو څخه د نړۍ د حربي کفارو دښمني وباسي او دوی د يو بل دوستان وګرځوي. سره د دې چې حربي کفارو سره د دوستۍ حکم د الله عزوجل په شريعت کې روښانه دی. امام ابن حزم وايي: قَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى {وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ} [المائدة: ٥١] إِنَّمَا هُوَ عَلَى ظَاهِرِهِ بِأَنَّهُ كَافِرٌ مِنْ جُمْلَةِ الْكُفَّارِ فَقَطْ - وَهَذَا حَقٌّ لَا يَخْتَلِفُ فِيهِ اثْنَانِ مِنْ الْمُسْلِمِينَ. [المحلى بالآثار ج 12 / ص 33]

ژباړه: د الله تعالی دا وينا [په تاسې کې چې چا له دوی سره دوستي وکړه نو هغه له دوی څخه دی] دا آيت په خپل ظاهر بناء دی، چې دغه کس د کفارو د جملې څخه يو کافر دی. او دا داسې حقه خبره ده چې دوه مسلمانان پکې هم چيرته اختلاف نه کوي.

جمعيت علماء اسلام د جمهوريت د ترسيخ په پار کار کوي: مسلمانانو ورونو!

دغه طاغوتي ګوند د مدارسو علماؤ او طلباؤ په شمول عام مسلمانانو بې دينه کولو په هدف رامنځ ته شوی دی، دوی غواړي چې د پاکستان اوسيدونکي د شرکي جمهوريت مدافعين وګرځي. تاسې ته د دوی يو څو اقرارت وړاندې کوو:

د جمعيت علماء اسلام اوسنی طاغوتي مشر فضل الرحمن د ۲۰۲۲ م کال، د مارچ په ۲۹ نيټه وويل: مونږ د شيخ الهند لارويان يو، هغه مونږ ته د مسلح طاقت پر ځای د سياسي جدوجهد لار راکړې ده، مونږه په همدغه (لار) باندې ودريدو په نتيجه کې ديني ځوان د جمهوريت او پارلماني نظام سره ودراوو. يولسم ستمبر (د امريکا تجارتي مرکز پيښې) څخه تر اوسه زمونږ کوشش باندې اوبه تيرې نشي، د صبر هم يو حد وي..!

Follow

Jamiat Ulama-e-Islam Pakistan
@juipakofficial
Official twitter account of #JUI Jamiat Ulam-e-Islam Pakistan. Any feedback email us: info@juipak.org.pk
Pakistan juipak.org.pk
Joined April 2012
17 Following 229K Followers

Jamiat Ulama-e-Islam Pakistan
@juipakofficial
ہم شیخ الهند کے پیروکار ہیں، انہوں نے ہمیں مسلح طاقت کے بجائے سیاسی جدوجھد کا راستہ دیا ہے، ہم اسی پر قائم رہتے ہوئے مذہبی نوجوان کو جمہوریت اور پارلیمانی نظام کے ساتھ کھڑا کیا، نائن الیون کے بعد سے اب تک ہماری جدوجھد پر پانی نا پھیرا جائے، صبر کی بھی ایک حد ہوتی ہے..!
1/2
Translate Tweet

ګرانو لوستونکو! تاسې وګورئ دا طاغوت څومره واضحه ټکوو باندې دا خبره کوي چې مونږ ديني ځوان (عالم، طالب العلم، ديني ډاکټر، انجنير وغيره) مو جمهوريت سره ودراوو.

د پاکستان په بنو ولسوالۍ کې فضل الرحمن وويل زمونږ کوشش پدې هيواد کې د جمهوريت او قانون باندې عمل کولو لپاره دی.

Jamiat Ulama-e-Islam Pakistan
@juipakofficial
بنوں : ہماری جدوجہد اس ملک میں جمہوریت اور قانون کی عمل داری کیلئے ہے۔مولانا فضل الرحمٰن
Translate Tweet
6:56 PM · 06 Jan 21

بل ځای کې فضل الرحمن وايي: جمهوريت ته د پاکستان قانون تحفظ ورکړی دی نو مونږ د دې د ساتنې جنګ کوو.

Jamiat Ulama-e-Islam Pakistan
@juipakofficial
جمہوریت کو آئین تحفظ دیتا ہے تو ہم اس کے تحفظ کی جنگ لڑ رہے ہیں۔مولانا فضل الرحمٰن
Translate Tweet
12:36 AM · 22 Sep 19

الله أکبر! خپله وايي چې مونږ د جمهوريت ساتنې لپاره جنګيږو، هغه جمهوريت چې په اتفاق د علماؤ سره کفري نظام دی او د دې عصر ستر طاغوت دی.

الَّذِينَ آمَنُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ فَقَاتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطَانِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا (76) سورة النساء.

دغه رنګ د جمعيت علماء اسلام ډلې په وار وار د ډيموکراسۍ په حق کې غونډې کړې دي، د پيښور نه تر کويټې او کراچۍ ټولو سيمو کې يې د ډيموکراسۍ په حق کې لاريونونه او غونډې کړې دي.

د فضل الرحمن زوی اسجد محمود وايي: حقيقي جمهوريت سره دا هيواد د پرمختګ منزلونه رالنډولی شي. جمهوريت د عوامو بين المللي حق دی.

Jamiat Ulama-e-Islam Pakistan
@juipakofficial
حقیقی جمہوریت سے یہ ملک ترقی کی منازل طے کرسکتا ہے
جمہوریت عوام کا بین الاقوامی حق ہے
مولانا اسجد محمود
#14اگست_یوم_جدوجہدآزادی
Translate Tweet

12:16 AM · 14 Aug 18

د فضل الرحمن بل زوی چې فعلا د پارلمان غړی او د حکومت وزير هم دی. هغه د جمهوريت بابا (!) نوابزاده نصر الله خان په تعزيتي غونډه کې د نورو سياست مدارانو سره يوزای ناست دی. په افتخار يې ورسره ليکلي دي د جمهوريت بابا.

Jamiat Ulama-e-Isla... · 26 Sep 18
بابائے جمہوریت **نوبزادہ** نصر اللہ خان رحمۃ اللہ علیہ کی یاد میں اسلام آباد کے ایک مقامی ہوٹل میں قومی تعزیتی ریفرنس ،متحدہ مجلس عمل کے پارلیمانی لیڈر مولانا اسعد محمود سٹیج پر موجود اس موقع پر بلاول بھٹو زرداری ، یوسف رضا گیلانی ، راجہ پرویز اشرف ، سید خورشید شاہ و دیگربھی موجود

د جمعيت علماء اسلام ګوند د ميکالی کافر وضعي قانون محافظ دی:

د جمعيت علماء ګوند مشر فضل الرحمن وايي: مونږ پدې هيواد کې د آئين (پاکستاني قانون) برلاسی (حاکميت) غواړو. [۱۷ اکتوبر ۲۰۲۰ م]

بل ځای وايي: اوس مهال د هيواد بقا په خطر کې ده، ملکي اقتصاد په ډوبيدو دی، مونږ د هيواد د سلامتيا، جمهوريت او آئين حفاظت لپاره راوتلي يو. [۲۸ اکتوبر ۲۰۱۹ م]

Maulana Fazl-ur-Rehman
@MoulanaOfficial
ہم اس ملک میں آئین کی بالادستی چاہتے ہیں ، سیاست میں مداخلت کسی صورت قابل قبول نہیں، جب تک قوم سے معافی نہیں مانگی جاتی معاملات حل نہیں ہوسکتے، جدوجہد جاری رہے گی
#PDMGujranwalaJalsa
Translate Tweet

د ۲۰۱۹ م کال، د اکتوبر په ۱۱ او د نومبر په ۱۹ نيټه يې جلسه کې بيا همدغه خبره وکړه چې مونږ په هيواد کې د جمهوريت او د آئين ساتنې لپاره راوتلي يو.

په ۲۰ جون ۲۰۲۰ م کال باندې فضل الرحمن بيا وويل چې د پاکستان ساتنه، ملکي جمهوريت او د پاکستان آئين او د دې اسلامي پيژندګلوي ساتنه زمونږ تر ټولو لومړی هدف دی. په څنګ کې ورسره د مرکزي جمعيت

اهلحديث مشر ساجد مير هم ولاړ دی.

Maulana Fazl-ur-Rehman
@MoulanaOfficial

اس وقت ملک کی بقا خطرے میں ہے ملکی معیشت ڈوب رہی ہے
ہم ملکی سلامتی ، جمہوریت اور آئین کی حفاظت کیلئے نکل چکے
پاکستان کی مذہبی شناخت کو لاحق خطرات کا دفاع بھی ہم کریں گے۔
#عوامی_سمندر_اسلام_آباد_کی_طرف

Translate Tweet

Maulana Fazl-ur-Rehman
@MoulanaOfficial

پاکستان کا تحفظ ، ملکی جمہوریت اور پاکستان کے آئین اور اسکی اسلامی شناخت کا تحفظ ہماری اولین ترجیح ہے
انشاءاللہ 19 مارچ کو لاہور میں آئین پاکستان کانفرنس ہوگی،
اس سے قبل ملک کے چاروں صوبوں میں اسی عنوان سے کنونشن بھی منعقد کئے جائیں گے،

3/3

Translate Tweet

د پاکستان وضعي او کفري قانون ساتنې په پار په ټول هیواد کې غونډې کوي، خلک هم ورته سوق کوي، هر ځای کې جلسې کوي ترڅو خپله فکري جګړه هر کلي او کور ته ورغځوي. د بېلګې په توګه د پنجاب ایالت (لیه) ولسوالۍ کې ۱۵ فروري ۲۰۲۲ م نیټه باندې یې د قانون د ساتنې غونډه وکړه.

Maulana Fazl-ur-Rehman
@MoulanaOfficial

لیہ :تحفظ آئین پاکستان کانفرنس

Translate Tweet

د سندھ ایالت کې یې هم د پاکستان وضعي قانون ساتنې په پار ستره غونډه جوړه کړې وه. او نور یې هم ډېر ثبوتونه دي چې فضل الرحمن وايي مونږ د پاکستان قانون لپاره جنګیږو. نو

تاسې فکر وکړئ چې د پاکستان پوځ او د جمعیت علماء اسلام کارمندانو کې کوم توپیر شته ؟ د دواړو هدف او موخه یوه ده، دواړه د ډیموکراسۍ ساتنې په پار جنګیږي خو دومره خبره ده چې هغه یې په دریشۍ کې سر ته رسوي او جمعیتیان یې په سپینه جامه کې اهداف پالي. دغه رنګ د پاکستان نور سیاسي ګوندونو او د جمعیت علماء اسلام ترمنځ څه فرق شو ؟

کله چې د مشرف دور راغی، مشرف په یو ټیلیفون باندې امریکایانو ته اډې ورکړې، د پاکستان درې هوایي اډې څخه امریکایي طیارو په افغانستان باندې ۵۷۰۰۰ کرت بمباري وکړه، ۶۰۰ مهاجرینو په شمول سلګونه مسلمانان یې په امریکا باندې خرڅ کړل خو فضل الرحمن د مشرف سره د یو وجود غړي په څیر کلک ولاړ و.

هغه دا چې امریکا دا د پاکستاني پوځ لوي درستیز په څیر قبول نه کړ، نو د ای ایس ای ریاست څخه وروسته ورته ترقي په لاس رانغله او متقاعد شو، نو د مشرۍ د خوبونو تعبیر یې عملي نشو، نو د هغه ورځې راهیسې په هر ډګر کې د امریکا سیاسي مخالف و، او د طالبانو کلک ملاتړی و، د دوی زعیم اختر منصور وینا موافق

د جمعیت علماء اسلام او پاکستاني پوځ ترمنځ موالات:

جمعیت علماء اسلام د پاکستان مرتد پوځ سره له پخوا راهیسې کلکې اړیکې لري، دوی هر حکومت په مخکې د نانځکي په څیر نڅیږي، کله چې د فضل الرحمن پلار مفتي محمود وفات شو نو لومړیو کې فضل الرحمن د جنرال ضیاء الحق مخالف و، خو چې هغه ورته لېږ ډالر ورکړل نو د ضیاء الحق ملګری شو. بیا د بینظیرې په وخت کې ابتداء د هغې خلاف و او دا شعارونه یې ورکول چې د ښځې مشرۍ په اسلام کې جایز نه ده خو کله چې هغې ورته افغانستان ته د ډیزل ورلو پرمټ ورکړو نو بیا د بینظیرې ملګری شو.

هو دا هماغه مشرف دی چې د طالبانو حکومت یې رنګ کړ، د دوی سفیران یې بربنډ امریکایانو باندې وپلورل، د دوی مشران یې ووژل، زندانونو ته یې واچول، چې د همدې فضل الرحمن، قاضي حسین احمد او سمیع الحق په څیر ناکاره ملایانو په فتواوو یې دا کار وکړ خو نن طالبان بیا هم د فضل الرحمن څخه تاویږي راتاویږي!

حمید ګل د هغه د وجود لاس و. نو د امریکا بي بي څخه د خپل سیاسي انتقام په پار دغه جنرال حمید ګل د پاکستان ۴۰ څخه زیات دیني او سیاسي ګوندونه راجمع کړل، او د دفاع پاکستان کونسل په نوم یې ترې یو اتحاد جوړ کړ، چې د دوی دوه بنیادي اهداف و. یو د هند پر خلاف درېځ او دویم د پاکستان د لارې د ناټو اکمال لاره بندول و. چې ابتداء کې د نورو تنظیمونو په څیر

روزنامہ امت کراچی

فضل الرحمن کے یوٹرن پر افسوس ہے — حمید گل

توقع نہیں تھی کہ امریکی سفیر اور صدر سے ملاقات کے بعد وہ نیٹو رسد پر موقف بدل لیں گے

امریکی افغانستان کے ساتھ پاکستان کو بھی غلام بنانا چاہتے ہیں۔ دفاع کونسل مخالفت کرتی رہے گی

اسلام آباد (وقائع نگار خصوصی) دفاع پاکستان کونسل کے چیف کوآرڈی نیٹر لیفٹیننٹ جنرل (ر) حمید گل نے کہا ہے کہ نیٹو سپلائی لائن صرف راشن اور سپلائی کا معاملہ نہیں، بہت آگے کی بات ہے۔ مولانا فضل الرحمن جیسے زیرک سیاست دان کے یوٹرن سے انتہائی افسوس ہوا۔ گزشتہ روز اپنے دفتر میں بات چیت کرتے ہوئے انہوں نے کہا کہ مولانا سے مجھے یہ توقع نہیں تھی کہ وہ اتنی عجلت میں دباؤ کا شکار ہو جائیں گے اور امریکی سفیر اور صدر آصف زرداری سے ملاقات پر ہی اپنے موقف کو تبدیل کریں گے۔ صدر زرداری کی مجبوریاں ہم جانتے ہیں اور یہ بھی جانتے ہیں کہ مولانا کی ایسی کوئی مجبوری نہیں، اس کے باوجود ان کا فیصلہ مجھ سے بالاتر ہے۔ اس سے ان کے پیروکاروں کے بھی دل زخمی ہوئے ہیں۔ جنرل حمید گل نے کہا کہ یہ بات سب پر واضح ہے کہ معاملہ صرف راشن اور رسد سپلائی کا نہیں، امریکی افغانستان پر اپنے دیرپا قبضہ کیلئے سپلائی لائن چاہتے ہیں تاکہ افغانستان میں اپنی حلقہ بندیوں کو مستحکم کر کے پاکستان کو بھی غلام بنائیں اور افغانستان کو بھی آزاد نہ ہونے دیں۔ حیرت ہے کہ مولانا جیسے سیاست دان نے اس حقیقت کو کس طرح نظر انداز کر دیا۔ ان کا یہ فیصلہ درست نہیں۔ ان سے توقع کی جاتی ہے کہ وہ اپنے اس فیصلہ پر نظرثانی کریں گے۔ انہوں نے کہا کہ پارلیمنٹ نے اگر سپلائی روٹ پر مہر لگا دی تو یہ طوق غلامی پہننے کے مترادف ہوگا۔ کسی قیمت پر بھی یہ راستہ اختیار نہیں کرنا چاہیے۔ دفاع پاکستان کونسل ہر حال میں غلامی کے اس معاہدے کی مخالفت کرے گی اور پرامن رہتے ہوئے اس کے خلاف جدوجہد جاری رکھی جائے گی۔

☆☆☆☆☆

فضل الرحمن د بینظیرې سره

د ای ایس ای سابقه رئیس جنرال حمید ګل په افغانستان کې د امریکا د برید سیاسي مخالف و او دا یې د پاکستان ملي ګټو لپاره زیانمن اقدام ګاڼه، خو اصلا جنرال حمید ګل د امریکا څخه په یوه بله خبره ګیله مند و،

فضل الرحمن هم حمید ګل سره سر وخځاوو خو کله چې پاکستان کې د امریکا سفیر سره یې لیدنه وکړه، هغه ورته ډالر ومنل او د پاکستان د هغه وخت ولسمشر زرداري سره یې مجلس وکړ نو سرې په شا شو، او د پاکستان د لارې د امریکا

اکمال ته یې جواز ورکړو. پدغه وخت کې جنرال حمید ګل ډیر خفه شو او له خپل دفتر څخه یې د فضل الرحمن څخه د خفګان اعلامیه خپره کړه چې دومره زیرک سیاست مدار څنګه داسې شاتګ کوي او د امریکا د اکمال لار ته جواز ورکوي؟

دغه رنګ کله چې د اسلام آباد د لال مسجد طالب العلمانو او د جامعه حفصه طالباتو د شرعي نظام قیام مطالبه کوله او جنرال مشرف پرې عملیات پیل کړل، د الله تعالی په کور یې برید شروع کړ، پدغه وخت کې د فضل الرحمن جمعیت علماء اسلام ګوند او د قاضي حسین احمد جماعت اسلامي ګوند ترمنځ د متحده مجلس عمل په نوم اتحاد و او د خیبرپختونخوا ایالت د حکومت څخه یې خوندونه اخستل. دغه خاینانو هم د لال مسجد پرضد د مشرف ظلم او وحشت ملاتړ وکړ او سکوت یې اختیار کړ، تر دې چې د خبریالانو پوښتنو ته یې ځوابونه هم نه ورکول، فضل الرحمن خپل ټیلیفون بل کس ته ورکړی و او هغه به هر خبریال ته ویل چې مولانا د لال مسجد او جامعه حفصه په اړه هیڅ بیان نه ورکوي. تر دې چې آخر د ډیر شرم د لاسه خارج ته په سفر ولاړ، ځکه دلته خلکو نه پریښود، چې ته خو د اسلام دعوه کوې نو اوس څنګه په دومره لویه موضوع باندې چوپ یې؟؟ کله چې د لال مسجد او جامعه حفصه طالبان او طالبات په وینو کې ولړول شول، زندانونو ترې ډک شول، قرآن کریمونه وسوځیدل، د الله تعالی کور رنګ او په مرمیو سوری سوری شو نو بیا یې په پارلمان کې یو سمبولیک غږ وکړ چې خپل د هیواد وګړي څوک داسې نه وژني!!

نو فضل الرحمن او د هغه ګوند له پخوا راهیسې د پوځ لمن کلکه نیولې ده، که هغه جنرال ضیاء الحق و، که جنرال پرویز مشرف و، که جنرال راحیل شریف و، که جنرال قمر باجوه و او که جنرال عاصم منیر دی.

د جمعیت علماء اسلام ګوند د پاکستان په سیاست کې ۷۰ کلنه تجربه لري، هغه حالاتو ته ګوري چې اوس د پوځ په ټال د ځنګیدو وخت دی او اوس د جمهوریت په ګاډي کې د ختلو وخت دی، او په دې هم ډیر خه پوهیږي چې د پاکستان اصلي واک د پوځ په لاس کې دی نو هیڅکله پوځ سره اړیکې نه خرابوي او نه یې خرابولای شي. ځکه چې اویا کاله د چا نمک وخوړل شي نو د هغه نمک حرامي بیا سخته وي او بل علت دا دی چې جمعیت علماء اسلام پوهیږي چې که مونږ د پوځ او استخباراتو سره ښکر اړم کړ نو هسې ځان به خراب کړو، سیاست ته به مو د پای ټکی کیښودل شي، نو الغرض جمعیت علماء اسلام د پوځ طفیلي ګوند دی، او د پاکستان پوځ او استخباراتو سره صمیمې اړیکې لري. چې په وار وار یې د دې ځرګندونې کړې دي. د دغه ګوند مشر فضل الرحمن په خپله ټیوټر پاڼه باندې د ۲۰۱۹ م کال، د فروري په ۲۷ نیټه خپل پوځ ته داسې لیکلي دي: غیرتي او زړور پوځونه، خپل کور ته راتلونکو (یرغلګرو) ته همداسې ځواب ورکوي. د جمعیت علماء اسلام پاکستان هر کارمند د ګران هیواد د دفاع په پار د خپل پوځ سره اوږه په اوږه



ولاړ دی او د هیواد د یو یو انچ ساتنې لپاره هر مهال چمتو دی.

همدغه رنګ ۲۰۲۰ م کال، د مئي په اتمه نیټه باندې یې د خپل ګوند په رسمي ټیوټر پاڼه باندې لیکلي دي، فضل الرحمن وایي: ترهګرې کړې پدغه شان بریدونو سره د پاکستاني پوځیانو حوصلې نشي ټیټولای. د پاک پوځ د قربانیو له برکته نن ټول قوم په امن سره اوسیږي.

په خپله رسمي ټیوټر پاڼه ٦ سپتمبر ۲۰۱۹ نیټه فضل الرحمن لیکلي دي: پاکستاني پوځیانو او ٦ سپتمبر شهیدانو ته درناوې کوو، په سختو شیبو کې د هیواد دفاع کولو او خپل ځان قربانونکو ځوانانو ته سلام.



په ۲۷ جولایي ۲۰۱۹ نیټه باندې په خپله رسمي ټیوټر پاڼه لیکلي دي: شمالي وزیرستان او بلوچستان کې د پوځي ځوانانو په شهادت د غم اظهار کوو، ترهګر بریدونه د پاکستاني پوځ حوصلې نشي ټیټولای. ټول قوم د سرحداتو ساتنې او هیواد دفاع لپاره د پاک پوځ سره اوږه اوږه په ولاړ دی. الله دې شهیدانو ته جنت کې لوړ مقام او خپلوانو ته صبر جمیل ورکړي.

٦ مارچ ۲۰۱۹ نیټه باندې په همدغه پاڼه لیکي: نن چې د هندوستان پر وړاندې زمونږ پوځ خپله دنده ترسره کړه او د بریا بیرغونه یې نصب کړل نو د هیواد سیاسي ګوندونو کې جمعیت علماء اسلام هغه یواځینی ګوند دی چې د پوځ په ملاتړ یې د هیواد په کچه لاریونونه ترسره کړل.

یعني په خپله خوله اقرار کوي چې هیڅ یو سیاسي ګوند زمونږ د ګوند په څیر پوځ ته وفادار نه دی.

فضل الرحمن په ۲۷ فروري ۲۰۱۹ نیټه باندې ووېل: د هیواد د خاورې دفاع په خاطر د هیواد پوځ ته ډاډ ورکوو چې ټول قوم د دوی ترشا ولاړ دی، د هیواد ساتنه زمونږ لومړی هدف دی.

۴ اګست ۲۰۱۹ نیټه باندې هم دغه فضل الرحمن ووېل: د پاکستان هیواد هر ډول یرغل پر وړاندې غاښ ماتونکی ځواب ورکولو صلاحیت لري، او ټول قوم د پاکستاني پوځ سره اوږه په اوږه ولاړ دی.

د ۲۰۱۹ م کال، د مارچ میاشتې په لومړۍ نیټه د لاړکانه، مینګوره، ډیره اسماعیل خان او نورو سیمو کې د جمعیت علماء اسلام کارمندانو د پاکستان زنده اباد په شعار لاریون ترسره کړ، د پاکستاني پوځ دفاع او د سلامتیا لپاره یې د هر ډول قربانۍ اراده ښکاره کړه. چې پاکستاني پوځ هم ورسره دغه لاریون کې شریک و او ویډیوګانې یې جوړولې او د هند د لومړي وزیر مجسمه هم پکې وسوځول شوه.

د ۲۰۱۸ م کال، د جنوري میاشت په ۱٦ نیټه د جمعیت علماء اسلام د خپل مشر فضل الرحمن دغه بیانیه نشر کړه چې ټول قوم د پاکستان خاورې دفاع په خاطر خپل پوځ سره اوږه په اوږه ولاړ دی، د پاکستان دفاع مضبوطه ده او د جنګ په صورت کې به هندوستان



زیان ګالي.

په ۲۰۱۳ م، د نومبر میاشتې ۲۸ نیټه باندې فضل الرحمن د پاکستاني پوځ نوي لوي درستیز ته ښه راغلاست وویل.

۲۰۱۷ م کال، د نومبر په ۲۱ نیټه جمعیت علماء اسلام په خپله رسمي ټیوټر پاڼه لیکلي وو: جمعیت علماء اسلام د هیواد او بین الملل په کچه په سیاست کې د مهم کردار لرونکی ګوند دی. د پوځ قربانۍ د منني وړ دي.

د ۲۰۱۴ م کال، د اګست په ۴ نیټه د جمعیت علماء اسلام ګوند عمومي ناظم عبد الغفور حیدري وویل: پاکستان کې یوازې پوځ انقلاب راوستلی شي.

چې دې حد ته خبره ورسیږي چې د چنګیزیت علمبردار پوځ څخه د انقلاب طمعې شروع شي نو د دې جمعیتیانو څخه لوي بې لارې خلک بیا په جهان کې نشته. خو د دې خلکو هدف د دې خبرې څخه دا دی چې د پاکستان حکومت جوړول د پوځ او د استخباراتو کار دی نو که پوځ وغواړي مونږ ته حکومت راکولای شي او زمونږ په څیر ډبل غلامان (اول د امریکا او بیا د استخباراتو غلامان) به سیکولر مذهبه انقلاب راولي.

۲۰۱۹ م کال، د اکتوبر په لسمه نیټه د جمعیت علماء اسلام مشرانو دا اعلامیه ورکړه چې پاکستان پوځ زمونږ د هیواد اداره ده مونږ یې احترام کوو.

بلوچستان د ګوادر بندر: ۲۰۱٦ م کال، د نومبر په ۱۳ نیټه فضل الرحمن د لوي درستیز راحیل شریف او د پاکستان لومړی وزیر نواز شریف په ملتیا د لومړي تجارتي کاروان لیږلو پر مهال دعا (!!) کوي.

۲۰۲۰ م کال، د اکتوبر په ۱۹ نیټه فضل الرحمن په جلسه کې وویل: پاکستانی پوځ زمونږ د سترګو باڼه دي. [فضل الرحمن رسمي ټیوټر پاڼه]

نور هم داسې مستندات شته چې جمعیت علماء اسلام د پاکستاني پوځیانو ملاتړ، تایید او نصرت کوي، د دوی په کړنو رضائیت ښکاره کوي، دوی شهیدان بولي، مخالفین یې ترهګر بولي.

نو د الله تعالی په شریعت کې د جمعیت علماء اسلام او د پاکستاني پوځیانو حکم یو دی، ځکه دوی انصار الطواغیت دي. الله تعالی فرمایي:

{لا يَتَّخِذِ المُؤمنونَ الكافرينَ أولياءَ مِنْ دُونِ المُؤمنينَ ومَنْ يفعلْ ذلكَ فليسَ مِنَ اللهِ في شيءٍ إلاّ أنْ تَتَّقوا مِنهم تُقاةً ويُحذِّرُكُم اللهُ نَفسَه وإلى اللهِ المَصيرُ} [آل عمران: 28]

ژباړه: ندې نیسي مومنان کافرانو لره دوستان، پرته د مومنانو، او چا چې دا کار وکړو، نو نه دی د الله تعالی (د ډلې نه) په هیڅ کې، مګر که تاسې ځان ساتئ د دوی نه ځان ساتل، او ویروي تاسې الله تعالی د خپل ځان نه، او خاص الله لره ورګرځیدل دي.

امام طبري رحمه الله وايي: ”وَهَذَا نَهْيٌ مِنَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ الْمُؤْمِنِينَ أَنْ يَتَّخِذُوا الْكُفَّارَ أَعْوَانًا وَأَنْصَارًا وَظُهُورًا، فَإِنَّهُ مَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللَّهِ فِي شَيْءٍ؛ يَعْنِي بِذَلِكَ فَقَدْ بَرِئَ مِنَ اللَّهِ، وَبَرِئَ اللَّهُ مِنْهُ بِارْتِدَادِهِ عَنْ دِينِهِ، وَدُخُولِهِ فِي الْكُفْرِ.“ [تفسیر الطبري]

ژباړه: او دا د الله تعالی لخوا مومنانو لره منع کول دي، د کفارو لره کومکیان، ملاتړي او امدادیان نیولو څخه، ځکه چا چې دا کار وکړو نو هغه د الله تعالی لخوا په هیڅ کې ندی، معنا دا چې هغه د الله نه بری دی او الله تعالی د هغه نه بري دی، د دین څخه ارتداد او په کفر کې ورننوتلو له امله.

د جمعیت علماء اسلام د مبارزې تګ لار کفري ده:

د جمعیت علماء اسلام اصلا کوم منهج، پالیسي، اصول یا ایجنډا نه لري، دوی چې د کوم ګوند تابع شي د هغه رنګ کې ځان رنګوي. خو په ټوله کې دوی د سیکولرزم د عدم تشدد فلسفې قایل دي. لکه مخکې یادونه وشوه چې فضل الرحمن وايي: مونږ د شیخ الهند لارویان یو، هغه مونږ ته د مسلح طاقت پر ځای د سیاسي جدوجهد لار راکړې ده. خو دوی د خپل طاغوتي نظام لپاره عدم تشدد فلسفه او سلمي مبارزه خوښوي خو نورو ته داړ ورکوي چې تکړه

شئ او وجنګیږئ، لکه افغانستان کې جنګیدونکي تنظیمونو ته به یې هم دا درس ورکاوه چې هله تکړه شئ، اشغالګرو په خلاف وجنګیږئ خو همدا اشغالګر چې د ده په کور کې یې اډې وې هلته یې ویل چې مونږ خو جمهوریان یو، زمونږ لار خو سِلمي مبارزه ده. نو کچیرې اشغالګرو پرضد جنګیدلو لار شرعي او معقوله وي نو پاکستان کې یې ولې نه خوښوئ؟

د روس پرضد جنګیدونکو تنظیمونو جرګې او مرکې هم د فضل الرحمن ګوند جمعیت علماء اسلام کولې او د امریکا د راتلو څخه وروسته هم فضل الرحمن یو خوا د طالبانو لپاره چاندي کولې او بل خوا یې د امریکایي ډالرو په بدل کې د ناټو اکمال ته یې جواز هم ورکوو.

نو خپل کور لپاره دوی د سیاسي جوړ جاړي او سلمي مبارزې لار غوره کوي او وایي مونږ د ټوپک او نظامي مبارزې مخالف یو (یعني یوازې پاکستان کې)

جو دور میں جہاد جائز نہیں، علماء کا متفقہ فیصلہ ہے
مولانا حیدری
اسلحہ کی سیاست کرنیوالے دین اور شریعت کے محافظ نہیں ہوسکتے، مولانا فضل الرحمن

د جمعیت علماء اسلام ګوند عمومي ناظم حیدري وایي: اوسني دور کې جهاد جایز ندی دا د علماؤ متفقه پریکړه ده. او فضل الرحمن وايي: د اسلحې سیاست کونکي د دین او شریعت ساتونکي نشي کیدای.

الله أکبر، پدې دور کې یې د جهاد د منسوخیت دعوه وکړه او وایي نظامي مبارزه کونکي د شریعت ساتونکي نشي کیدای. نو پوښتنه دا ده چې اوسني دور کې د جهاد د منسوخیدو حکم کوم پیغمبر وکړو ؟ او دویمه پوښتنه دا ده چې د الله نبي محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم شرعي سیاست د اسلحې د لارې کړی و او که د سِلمي مبارزې د لارې ؟ ستاسې د دغه وینا په اساس د نبي علیه السلام، صحابه وو او سلفو څه حکم دی؟

د ۲۰۱۸ م کال، د جون میاشت ۲۴ نیټه، پیښور جلسه کې د جمعیت ګوند مشر فضل الرحمن وویل: مونږ اقتدار غواړو، او دې لپاره مونږ د ټوپک نه، د ووټ لاره استعمال کړې ده.

Jamiat Ulama-e-Islam Pakistan
@juipakofficial
پشاور :ہم اقتدار کا حصول چاہتے ہیں اور اس کیلئے بھی ہم نے بندوق نہیں ووٹ کا راستہ استعمال کیا ہے۔مولانا فضل الرحمٰن
#MMA_PeshawarJalsa
Translate Tweet
11:01 PM · 24 Jun 18

په ۲۰۱۵ م کال، د نومبر ۸ نیټه باندې فضل الرحمن وویل: د ټوپک نه، د دلیل سیاست پکار دی.


Jamiat Ulama-e-Islam Pakistan
@juipakofficial
بندوق نہیں دلیل کی سیاست ہونی چاہیے، مولانا فضل الرحمان
Translate Tweet
4:44 PM · 08 Nov 15

د ۲۰۱۸ م، د جنوري ۱٦ نیټه باندې هم فضل الرحمن وویل: د ټوپک په زور د شریعت مطالبه غلطه ده. نعوذ بالله من ذلک، دا د یهودو بلاعمه وو څخه هم ورتیر دی، د الله او رسول علیه السلام شریعت ته غلط وایي! همدا د ډیموکراسۍ ناخوالې دي!!

خبرنامہ پاکستان
بندوق کے ذریعے شریعت کا مطالبہ غلط ہے، مولانا فضل الرحمان
January 16, 2018 5:53 pm

د ۲۰۲۰ م کال، د ستمبر په ۲۰ نیټه، فضل الرحمن په خپله رسمي ټیوټر پاڼه لیکلي وو: مونږ د ټوپک پرته د شریعت نفاذ غواړو.

خو بل خوا همدا خلک دي چې خپله یې هم ټوپک په لاس کې دی، مسلمانان پرې ولي او د پاکستان ناپاک پوځ ته هم د توپ او ټوپک په زور د اسلام او شریعت د نفاذ غږ خپ کولو فتوې ورکوي.

سره د دې چې الله تعالی د جهاد او قتال امر کړی دی، په قتال یې تصریح کړې ده، د اسلحو او د أسونو د تیارولو امر یې کړی دی.

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ. سورة البقرة.

ژباړه: او تاسې د هغوی سره وجنګیږئ تر دې چې فتنه پاتې نشي او دین د الله لپاره شي.

فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ. [سورة الأنفال:12]

ژباړه: تاسې اووهئ د پاسه د څټونو او ووهئ د دوی څخه ټول بندونه.

فَإِذا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ. سورة محمد.

ژباړه: نو کله چې تاسې مخامخ شوئ کافرانو سره ووهئ څټونه د هغوی په وهلو سره.

مفسر قرطبي وایي، ضرب الرقاب څخه مراد: " وَهُوَ حَزُّ الْعُنُقِ وَإِطَارَةِ الْعُضْوِ الَّذِي هُوَ رَأْسُ الْبَدَنِ وَعُلُوُّهُ وَأَوْجَهُ أَعْضَائِهِ.“ [تفسیر القرطبي]

ژباړه: او هغه غوڅول د څټ دي او غوڅول د هغه اندام دي چې هغه د بدن سر دی او هغه اوچت او تر ټولو اندامونو ډیر غوره دی.

نو دا قتال او څټونه وهل او پرې کول په څه کیږي؟ په توره او ټوپک او که نه په انتخاباتو او سِلمي مبارزې؟

په قرآن کریم کې خو الله تعالی دا د کفارو هدف او موخه یاده کړې چې دوی غواړي مسلمانان د اسلحو څخه غافله شي.

وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُمْ مَيْلَةً وَاحِدَةً. [سورة النساء] ژباړه: کافران غواړي چې تاسې د خپلو اسلحو او تجهیزاتو څخه غافله شئ نو هغوی ټول دربانديې د یوې حملې په څیر حمله وکړي.

مسلمانانو ورونو! فضل الرحمن اوس د چا اهداف پرمخ وړي؟ آیا د کفارو همدا پروژې نه تطبیقوي؟ مسلمانانو ته خو الله تعالی دا امر کړی:

وَأَعِدُّوا لَهُم مَا اسْتَطَعْتُم مِنْ قُوَّةٍ

وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ. [سورة الأنفال]

ژباړه: او تاسې تر خپلې وسې ډېر زيات طاقت او تيار زين کړي اسونه د هغوی دمقابلې لپاره برابر کړئ تر څو چې په دې وسيله د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هيبت راولئ چې تاسې يې نه پېژنئ خو الله يې پېژني.

دا الهي امر دی. او که نبوي ارشاداتو ته ورځو نو خبره به بېخي اوږده شي.

نو فضل الرحمن او د هغه گوند د الله تعالی د دين څخه قتال لري کوي، د دوی حکم هم واورئ: شيخ الاسلام ابن تيميه وايي: "ومعلوم أن من أسقط الأمر والنهي الذي بعث الله به رسله فهو كافر باتفاق المسلمين واليهود والنصارى." [مجموع الفتاوى ج 8 / ص 106] ژباړه: او دا ظاهره ده، چې چا د دين يو حکم يا منع شوی کار ساقط کړ (وغورځاوه) هغه چې الله جل جلاله پرې خپل رسولان رالېږلي نو دا د مسلمانانو، يهودو او نصاراو ټولو په اتفاق سره کافر دی.

جمعيت اسلام گوند، مجاهدينو ته ترهگر وايي، د دوی وينې تويول روا گڼي او د مجاهدينو په خلاف يې د جنگ ښکاره اعلان کړی.

د جمعيت گوند د شورى غړی قاري عثمان دغه وينا جمعيت علماء اسلام گوند په خپله رسمي ټويټر پاڼه په ۲۰۱۸ م کال، د اگست د مياشتې ۵ نېټه رانقل کړې، هغه وايي: فضل الرحمن د پاکستان د ټولو مسلکونو ستر مشران راجمع کولو په نتيجه کې مسلح جدوجهد د حراموالي مسوده ليکنې سره ترهگرو په خلاف د جنگ اعلان وکړ. آيا هغه د پاکستان لپاره د الله تعالی نعمت نه دی؟ دا د جمعيت علماء اسلام اړوند

Jamiat Ulama-e-Islam Pakistan
@juipakofficial
#کنٹرولڈمیڈیانامنظور
مولانا فضل الرحمٰن نے پاکستان کے تمام مکاتب فکر کے چوٹی کے اکابرین کو جمع کرکے ملک میں مسلح جدوجہد کو حرام قرار دینے کا مسودہ تحریر کرکے دہشت گردی کے خلاف اعلان جنگ کیا آپ پاکستان کیلئے اللّٰہ تعالی کی نعمت ہیں
قاری محمد عثمان

دوهم: عبد الله بن مسعود (رضي الله عنه) د مسيلمة الكذاب استازی چې ابن نواحه نوم يې و چې خلک يې مسيلمة الكذاب ته رابلل بغير د استتابې څخه وژلی دی.(كما في ابي داود: ٣/ ٣٨)

همدا رنګه هغه مرتد چې ارتداد

مغلظة تربنه صادر شوی وي توبه قبلول يې هم جائز دي.

اول دليل: نبي (عليه السلام) د ابن ابی السرح توبه قبوله کړې وه. (الصارم: ۱/ ۳۱۸)

دوهم: صحابه و د مسيلمة او طليحه ملګرو نه چې مرتد شوي و د توبې طلب کړی و؛ لکه: ابوبکر صديق او عبد الله بن مسعود (رضي الله عنهما) دغسې کړي و.(الصارم: ۱/ ۳۱۸)

قال الحافظ بن حجر(رحمه الله):[وكان عيينة ممن وافق طُليحَةَ الأسديّ لمّا ادّعى النبوة فلما غلبهم المسلمون في قتال أهل الردة فرّ طليحة وأسر عيينة فأتى به ابوبكر فاستتابه فتاب. (فتح الباري : ۱۳/ ۲۵۸)

ژباړه: حافظ ابن حجر (رحمه الله) وايي: عيينه د هغه چا نه و، چې د طليحه الاسدي سره يې موافقه کړې وه، کله چې هغه د نبوت دعوه وکړه، نو کله چې په جنګ د مرتدينو کې مسلمانانو غلبه حاصله کړه، نو طليحه وتښتېدو او عيينه بندي شو، نو ابوبکر صديق (رضي الله عنه) ته راوستلی شو چې هغه ترې د توبې طلب وکړ، نو توبه يې وکړه.

دا خو د هغه مرتد حکم و چې مقدور عليه وي او په دارالاسلام کې وي او هر چې هغه مرتد دی چې غير مقدور عليه دی، د مسلمانانو لاس رسی ورته بغير د جنګ نه نشي کېدلی، نو دداسې مرتد نه استتابه يعني توبې طلب کول نشته بلکې بغير د استتابې نه به وژل کيږي.

شيخ الاسلام ابن تيميه (رحمه الله) فرمايي: [الْعُقُوبَاتُ الَّتِي جَاءَتْ بِهَا الشَّرِيعَةُ لِمَنْ عَصَى اللهَ وَرَسُولَهُ نوعان: أَحدهما: عقوبة المقدور عَلَيْهِ، مِنْ الْوَاحِدِ وَالْعَدَدِ، وَالثَّانِي: عِقَابُ الطَّائِفَةِ الْمُمْتَنِعَةِ، كَالَّتِي لَا يُقْدَرُ عَلَيْهَا إلَّا بِقِتَالِ. وقال ايضا ـ ولأن المرتد لو امتنع بأن يلحق بدارالحرب أو بأن يكون المرتدون ذو شوكة يمتنعون بها عن حكم الإسلام فإنه يقتل قبل الاستتابة بلا تردد. (الصارم ـ ص ـ ۳۲۲ ـ وفتاواه ۲۸/ ۳۴۹)

ژباړه : هغه سزا ګانې چې شريعت د الله او د رسول د نافرمانې کوونکو لپاره مقرر کړي دي په دوه قسمه دي: يو د مقدور عليه سزا ده د يو نه تر ډېرو اشخاصو پورې. دوهم د طائفه ممتنعة سزاده، يعني هغه ډله چې د مجاهدينو مخنيوی کوي؛ لکه: هغه ډله چې بغير د جنګ نه پرې نشي قادرېدلی او بيا وايي « او که چېرته مرتد مخنيوی وکړي په دې طريقه چې دارالحرب ته لاړ شي او يا په دارالاسلام کې قوت پيدا کړي چې د اسلام د حکم مخنيوی کوی، نو دا به د استتابې يعني د توبې طلب کولو نه مخکې بې له کوم شکه وژل کيږي.

مرتد نه د استتابې موده

يعني مرتد نه د توبې طلب کولو موده، په دې کې د علماؤ اختلاف دی، خو راجح قول په کې دادی چې د توبې طلب کولو لپاره موده معلومه ده چې درې ورځې دي.

دلايل: قال علي رضی الله عنه يستتاب المرتد ثلاثا فإن عاد قتل وقال عثمان رضی الله عنه يستتاب المرتد ثلاثا وهو قول عمر وابنه. (مصنف ابن ابي شيبه: ۱۰/ ۱۳۸)

ژباړه: علي (رضي الله عنه)فرمايي: چې د مرتد نه به درې ورځو پورې د توبې طلب کېدلی شي، که چېرته خپل کفر ته واپس شو، نو وژلی به شي او عثمان (رضي الله عنه) فرمايي چې د مرتد نه به درې ورځو پورې استتابه کيږي چې دا قول د عمر او د ابن عمر (رضي الله عنهما) دی.

دوهم دليل: [روي أن رجلا قدم على عمررضي الله عنه من قبل أبي موسى الأشعري فسأله عن الناس فأخبره ثم قال له عمر هل كان فيكم من مغربة خبر؟ فقال: نعم رجل كفر بعد إسلامه قال: ما فعلتم به؟ قال: قربناه فضربنا عنقه. فقال عمر: أفلا حبستموه ثلاثا وأطعمتموه كل يوم رغيفا واستتبتموه لعله يتوب و يراجع أمر الله؟! ثم قال عمر اللهم إني لم أحضر ولم آمر ولم أرض إذا بلغني ».(أخرجه مالك في « الموطأ » ۲/ ۷۳۷ ـ والطحاوي: ۲/ ۱۲۰ والبيهقي في « السنن البيهقي » ۱۷۳۴۱ عن عبد الرحمن بن محمد بن عبد الله بن عبد القاري عن أبيه).

ژباړه: يقيناً يو سړی د ابو موسی اشعري (رضي الله عنه) له خوا نه عمر (رضي الله عنه) ته راغی، نو د خلکو په باره کې يې تربنه پوښتنه وکړه نو هغه ورته د خلکو حال بيان کړ بيا ورته عمر (رضي الله عنه) وويل: ايا په تاسو کې څه ناشنا حادثه شوې ده؟ نو هغه سړي ورته وويل: چې هو شوې ده يو سړي د اسلام نه وروسته کفر کړی و، نو عمر (رضي الله عنه) ورته وويل: چې تاسو ورسره څه وکړل؟ نو هغه وويل رانژدې مو کړ او څټ مو ورته وواهه؛ نو عمر(رضي الله عنه) ورته وويل: تاسو ولې درې ورځو پورې نه بندي کاوه چې هره ورځ مو ورته يوه ډوډۍ ورکولی او د توبې طلب مو تربنه کړی وای، شايد چې توبه يې ويستلې وای او د الله امر ته واپس شوی وای؛ بيا عمر (رضي الله عنه) وويل: يا الله زه حاضر نه وم او نه مې امر کړی دی او نه پرې راضي شوی يم کله چې ما ته دغه خبر رارسيدلی دی.

دريم: همدا رنګه نصوصو د شرعي ته چې وګورو نو په هغې کې په مختلفو مسائلو کې په اکثر اوقاتو کې درې ورځې مهلت ذکر دی.

لکه قوم د صالح (عليه السلام) ته درې ورځې مهلت ورکول چې توبه وباسي.

الله فرمايي: [فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ذَٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ. [سورة هود: ۶۵]

ژباړه : پس اوښه يې ووژله نو ورته يې وويل مزې د ژوند واخلئ په خپلو کورونو کې تر درې ورځو پورې، دا وعده ده چې نه ده دروغژنه.

نو په دې وجه پکار ده چې مرتد ته هم درې ورځې مهلت ورکړی شي، چې حق ورته بيان شي او شبهه يې زائله شي .

همدارنګه د بيع يعني د اخيستلو او خرڅولو په بعضي مسائلو کې هم درې ورځې مهلت ذکر دی؛ لکه: په حديث د ابو هريره (رضي الله عنه) کې دي چې نبي (عليه السلام) فرمايي:[مَنِ ابْتَاعَ شَاةً مُصَرَّاةً فَهُوَ فِيهَا بِالْخِيَارِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، إِنْ شَاءَ أَمْسَكَهَا، وَإِنْ شَاءَ رَدَّهَا، وَرَدَّ مَعَهَا صَاعًا مِنْ تَمْرٍ] .(رواه مسلم)

ژباړه: چا چې هغه ګډه واخيستله چې شيدې يې په غلانځه کې بند کړی شوې وي، نو دغه اخيستونکي لپاره په دې کې تر درې ورځو پورې اختيار دی، که وغواړي د څان سره دې وساتي اوکه وغواړي واپس دې کړي او يو صاع کجورې دې هم ورسره ورکړي.

نو هر کله چې ددنيا په کارونو کې د فکر او سوچ لپاره درې ورځې مهلت راغلی دی، نو د اخرت په کارونو کې په طريقه اولی سره دغه مهلت پکار دی او په دې مهلت سره حد نه معطل کيږي، بلکې دا توبې ته يو مهلت دی او توبه د الله خوښه ده.

د مرتد د توبې طريقه

علماوو ويلي دي چې د مرتد د توبې لپاره دوه خبرې ضروري دي.

اول: کوم د کفر کار او عمل کې چې واقع دی نو د هغې نه راګرځېدل او بېزاري تربنه کول او څوک چې دغه کفري کار کوي نو د هغوی باره کې د کفر عقيده لرل.

دوهم: د نوي ايمان راوړلو لپاره په کلمه دشهادتينو اقرارکول.

ابوالفرج المقدسي په (شرح الکبير ۱۰/ ۹۲) کې وايي: [وتوبة المرتد إسلامه وهو أن يشهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا عبده ورسوله إلا أن تکون ردّته بإنکار فرض أو إحلال محرّم او جحد نبي او کتاب او إلى دين من يعتقد أن محمدا بعث إلى العرب خاصة فلا يصح اسلامه حتى يقرّ بما جحده ويشهد أن محمدا بعث إلى العالمين أو يقول أنا برئ من كل دين يخالف الاسلام].

ژباړه: او توبه د مرتد په اسلام راوړلو سره ده، هغه دا چې ګواهي وکړي چې نشته معبود په حق سره مګر يو الله دی او محمد (صلى الله عليه وسلم) د الله بنده او رسول دی؛ مګر که ارتداد يې ددې وجې و، چې انکار يې د يو فرض حکم نه کړی و او يا يې حرام حلال ګڼلي و او يا يې انکار د يو پيغمبر او يا کتاب نه

کړی و او یا د هغه چا دین ته
اوښتی و چې عقیده لري چې
محمد (صلی الله علیه وسلم)
صرف عربو ته رالیږل شوی دی،
نو دده اسلام نه صحیح کیږي،
تر دې چې اقرار وکړي په هغه
حکم چې انکار یې ترې کړی
دی او ګواهي وکړي چې محمد
(صلی الله علیه وسلم)ټول عالم
ته رالیږل شوی دی او یا وواییي
چې زه بېزاره یم د هر هغه دین
نه چې د اسلام مخالف وي.

ابن قدامه (رحمه الله) د مرتد په
توبه کې وایي:[وإن ارتد بجحود
فرض لم یسلم حتی یقر بما
جحده ویعید الشهادتین لأنه کذب
الله ورسوله بما اعتقده وکذلك
إن جحد نبیاً أو آیة من کتاب الله
تعالی أو کتابا من کتبه أو ملکا من
ملائکته الذین ثبت أنهم ملائکة
الله أو استباح محرما فلا بد في
إسلامه من الاقرار بما جحده.
(المغني: ۱۲/ ۲۸۸)

ژباړه: که چېرته یو انسان د
فرضي احکامو د انکار له وجې
مرتد شوی وي، نو دا مسلمان
نشي کېدلی، تر دې چې اقرار
وکړي په هغه څه باندې چې
ده ترې انکار کړی وي او کلمه د
شهادتینو بېرته واپس کړي، ځکه
چې ده الله او رسول له پخپله
عقیده کې دروغژن ګڼلي دي؛
همدغه شان که انکار یې کړی و
د یو پیغمبر نه او یا د یو ایت د
الله د کتاب نه او یا د یو کتاب
د الله د کتابونو نه او یا د یو
ملائک د ملائکو د الله نه، هغه
چې ثابت دي چې د الله ملائک
دي او یا یې حرام حلال وګڼل،
نو دده په اسلام راوړلو کې لازم
دي چې اقرار به کوي په هغه
څه چې انکار یې ترېنه کړی
دی.

خو لیکن طریقه د توبې د مرتد
به مختلف وي په اختلاف د
انواعو د کفر سره، نو که چې
کفر قولي وي، نو رجوع به هم
قولي وي او که کفر عملي وي،
نو رجوع به هم عملي وي او که
کفر عقیدوي وي، نو رجوع به
هم عقیدوي وي.

د عملي ارتداد نه د توبې مثال:
یو سړی چې په دې وجه مرتد
وي چې په کفري نظام کې کار
کوي لکه: د مرتد نظام عسکري
یا استخباراتي وغیره... کوي د
طاغوت سره د مسلمانانو په خلاف
کومک کوي، نو دا مرتد دی او ده
ته به مسلمان هله ویل کیږي
چې کله دا راروان کارونه وکړي.

۱ـ دغه کفري کارونه پرېښودل.
۲ـ ددغه کار نه بېزاري کول او
ددغه کار کوونکو په باره کې د
کفر عقیده لرل او هغوی نه هم
بېزاري کول.
۳ـ په شهادتینو اقرار کول.

د قولي ارتداد نه د توبې مثال او
طریقه: یو سړی دین ته کنځل
وکړي نو دا مرتد شو؛ نو دې ته
به هله مسلمان ویل کیږي
چې په راروانه طریقه توبه
وباسي.

۱ـ دین ته د کنځلو نه پرهیز او
اجتناب وکړي.
۲ـ د هغه چا باره کې د کفر
عقیده لرل چې څوک دین ته
کنځلې کوي او د هغوی نه
بیزاري کول.
۳ـ د شهادتینو اقرار کول.

د عقیدوي ارتداد نه د توبې مثال:
یو سړی دا عقیده ولري چې
زنا حلاله ده، نو ده بې له شکه
حرام حلال وګڼل نو مرتد شو؛
چې د توبې طریقه یې داده.

۱ـ دغه کفري عقیدې نه رجوع
کول او زنا د حراموالي عقیده
لرل.
۲ـ هغه چاته کافر ویل چې زنا
حلاله ګڼي او بیزاري ترېنه
کول.
۳ـ د شهادتینو اقرار کول.

دخراسان غږ مجلې
درنو لوستونکو ! تاسي
د ردت احکام ، د مرتد
سزا او نور اړوند
مسائل ولوستل ، اوس
قضاوت تاسي وکړئ
چې طالبان څوک دي ؟
د همدغه دلائلو په رڼا
کې طالبانو خپل دین
بدل کړی او ملل ملحده
په دین یې ایمان راوړی ،
دوی خپله مرتدین دي ، او
ددې ترڅنګ یې لومړي
خو د تیر مرتد جمهوري
نظام ټول کارکونکي له
لومړي سره مرتد نه ګڼل خو کله
چې واک ته ورسول شول ، نو
تیر مرتدین یې ټول وبښل بلکې
همغه ټول مرتدین ورسره په دندو
بوخت دي او په دغه ګډوله نظام
کې ورسره شریکې دندې پرمخ
وړي ،نو دا د طالب ملېشو اسلامي
نظام (!) او دا یې اعمال دي .

ددې علمي مقالې راتلونکې ځلورمه
او اخري برخه به د خراسان غږ
مجلې په یو ویشتمه ګڼه کې ان
شاء الله ولولئ .

د بریلویانو طالبانو عقائد!

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی من بعث بالسیف رحمة للعالمین اما بعد:

کله چې مسلمانانو د انګریزانو په خلاف په (۱۸) هجري کال کې په هند کې جهاد شروع کړ نو کفارو د احمد رضا په نوم کس چې د هند د بریلي ښارد أتراپردیش ولایت کې زیږیدلی دی خپل طرف نه د جهاد په خلاف اوپه دې خاطر چې د انګریزانودحکومت سره دوستي پرېښودل شي نائب مقرر کړ او بعضي دا وایي چې احمد رضا بریلوي د شیعه کورنۍ څخه و او ځان یې سني معرفي کړی وو ترڅو د خلکو ضررونو نه بچ شي او ده به (پان) هم استعمالوه، دا د هغه ونو پاڼې دي کوم چې د هند او بنګلادیش په ځمکه کې کرل کېږی او د (انور رضا په کتاب ۲۵٦ ص) راځي چې دې به په رمضان کې د روژه ماتې نه وروسته پرته د بل څه خوړلو نه په (پان) استعمالولو اکتفا کوله او په کتاب د ملفوظات بریلوي کې راغلي چې دی به د شیشې څښل هم کول.دا د قرآن او سنت د متبعینو پر وړاندې ډیر بد زبانه او سخت زړی و لکه د شیخ محمد بن عبدالوهاب رحمه الله په اړه .

بریلویان وایي: پر مسلمانانو حرام دي چې د وهابیانو کتاب ولولي یا یې وګوري (دارنګ وایي:)څوک چې د وهابیانو سره کیناستل یا ورسره یوځای شو نو د دوئ سره نکاح جایز نه ده احمد رضا بریلوي وایي: د ټولو نه بدتر مرتد وهابیان دي. او دا مرتد وایي (چې وهابیان د یهودو نصاراوو مجوسو او مشرکانو نه ډیر ګنده او ډیر ضرر رسونکي دي).

دارنګ بریلوي وایي: وهابیان د عبدالوهاب النجدي هغه ځوی ته منسوب دي چې کوم د توحید کتاب ولیکلو د حرمینو بي عزتي یې وکړه الله دې د دواړو حرمینو عزت شرف زیات کړي او په هغوی یې بریدونه پیل کړل او په دې کې یې شر، ظلم، قتل پیدا کړ او دې د خپل خبیثې او مشرکې ډلې نه غیر نورې فرقې تجاوز کوونکي ګڼل او د هغوی تکفیر به یې خوښاوه او د دوئ د ډلې څخه د خوارجو یوه ډله وه چې د علی کرم الله وجهه الکریم په مقابل کې راپورته شوه اوجهنم ته داخل شول او اسدالله ذی الفقار چې د کفارو سره یې جنګ وکړ د دوی په اړه دغه حدیث ویل شوی چې دوی به تر هغې ختم نشي تر څو چې د لعین دجال سره راپورته شي نو د دغه رښتینې وعدې د وجې دغه غضب کړای شوی قوم فتنې راپاڅوي او په دیارلسم قرن کې دوی د دیار نجد څخه راووتل او د نجدیین په نوم مشهوره شول او نجد د دوی د مشر نوم و تر دې چې الله د دوی شان شوکت او ښارونه ختم کړل او پر دوی یې د مسلمانانو عسکر په (۱۲۳۳ هـ) کې غالب کړل.

دارنګ بریلویان وایي: نجدیان د نجد ملحدین او زندیقان دي، نجدیان کافر او مرتدین دي، ځکه دوی خبیثې او ملعونې عقیدې لري.

بریلویان وایي: وهابیان او مشران یې له ډیرو وجو کافر دي، او د شهادت کلمې ویل یې له کفر څخه نه منع کوي * دا رنګ وایي: د دې ډلې کفر په زرګونو وجو او سببونو ثابت دی.

دارنګ وایي: وهابیان مرتدین او منافقین دي، ځکه دوی اسلام ښکاره کړی او کلمه د شهادت وایي.

دارنګ وایي: وهابیان له ابلیس څخه ډیر رذیلان، فاسد او ګمراهان دي، ځکه شیطان دروغ نه وایي او دوی دروغ وایي.

دوی دا هم وایي : وهابیان او غیر مقلدین دوی د مسلمانانو په مساجدو کې حق نه لري او دوئ به له جماتونو څخه منعه کیږي او که د فساد له امله نه منعه کیدل نو باید رسمي منعه شي .

دارنګ دا وایي: د یهودو او نصاراو ذبیحه حلاله ده ،خو لیکن د وهابي ذبیحه حرامه ده، اګر چې یو لک دفعه یې پرې د الله نوم هم اخیستی وي او د متقیانو نه هم وي خو جایز نه ده ځکه چې دا مرتد دي او د مرتد ذبیحه حرامه ده.

او مرتد بریلیان وایي لازم دی په تا چې د ابن تیمیه، ابن القیم الجوزي او د دوی په شان د دوی د نورو علماؤ له کتابونو نه ځان وساتئ ،هغه خلک

چې اله يې خپل خواهش وي او الله سره د علم نه ګمراه کړی وي او په غوږو زړونويي ورته مهر لګولی وي او په سترګويي ورته پردې لګولي وي ، نو دغه خلکو ته به د الله نه پس څوک هدايت وکړي او دغه خلک څنګه د خپل حدودو څخه تيريږي او د خپلو رسمونو څخه تيرېږي او د حقيقت او شريعت بندونو څخه تيرېږي او سره د دې بيا هم دوی ګومان کوي چې په هدايت دي خو داسي نه ده بلکې دوئ په بدترې ګمراهۍ او بدترينو خويونو او سختو دروغو او بهتانونو کې دي ،الله دې ټول وشرموي او ځمکه دې د دوی پشان خلکو څخه پاکه کړي.

ځکه نو له همدې کبله بريلوي طالبان مؤحدين او د قرآن حديث متبعين سلفيت او اهل الحديث توب ته منسوب خلک وژني!

مرتد احمد رضا بريلي دا په اصل کې مرتد مشرک و لکه څنګه چې د دې په راتلونکي خبرو کې به فکر کوونکو ته معلومه شي او هيڅوک يې نه دی پريښی کوم چې د برطانيۀ حکومت په خلاف او په هغوی يې حمله کوله د هند په قاره کې مګر دا چې د هغه يې مخالفت او تکفير کړي دا د هغه او د کورنۍ او ډلو مناصر و.

او مرتد بريلي احمد رضا د د و طنپا لو ، هند وا نو ملحد ينو هيڅکله خلاف نه دې کړې،خپل وخت کې بلکې د دې ټولي توري، غشي ټول اسلام ته د منسوبو خلکو په سينو ننوتل او ټولو خلکو ته يې د برطانيه د حکومت د مخالفت پرېښودلو حکم کړی وو او د جهاد حراموالی يې ذکر کړی وو ، يوه رسالة يې ليکلې وه د (اعلام العلام بان هندوستان دار الاسلام) په نوم او په هغې کې يې د متبعينو د کتاب سنت په اړه په کې ليکلی و: (چې وهابيان مرتد دي او دوی نه به جزيه نه اخيستل کيږي او د دوی له پاره به مؤبد آمان نه ورکول کيږي او د دوی ښځې وينځې کيداې شي)

او دوی سره د نکاح حراموالی د دوی ذبيحه نه خوړولو حکم او د دوی په مړي لمونځ نه کول د دوی سره خبرې، په کارونو کې يوځاې کيدل او کيناستل يې هم حرام بللي وو الله دې دوی هلاک کړي کوم طرف ته دوئ روان دي (د دې کتاب ۱۹ ص وګوره)

دغه رنګ دغه خبيث بريلوي د مسلمانانو سره خپله دښمني او د برطانيه سره کار کول يې هم ښکاره کړي وو، د مسلمانانو تر منځ يي کفر ، شرک او شکونه خپاره کړي وو .

دده په اړه برطانوي کافر (فرانسس رابنسن) په خپل کتاب (سيبترزم امنک اندين مسلمز ص۴۴۳) کې ويلي چې بريلوي د انګليس حکومت ساتنه کوونکی و او نړيوال جنګ کې د هغوی ساتنه کړی او دې مرتد خبيث په دې باندې د خپل مرګ په وخت کې هم وصيت کړی و، ويلي يي وو : (زما په دين او مذهب کوم چې زما په کتابونو کې ښکاره شوی منګولې ولګوئ او په هغې قائم اوسئ ځکه دا په ټولو فرائضو کې مهم فرض دی) (وصايا ص۱۰)

دا خبيث په ۱۹۲۱ م د ٦٨ کالو په عمر کې مړ شو، د الله عزوجل څخه غواړو چې عذاب يې جهنم کې زيات کړي او د ملحدينو زنادقو مرتدينو مشرکينو سره يې جمع کړي، د دې خبيث مذهب د امريکا، برطانيه او د اسلام د نورو دښمنانو په مرسته اوکومک په هند، افغانستان، پاکستان او نورو مختلفو مناطقو کې خپور شو.

په افغانستان کې ډيرې داسې ډلې دي ، چې د غه بريلوي مذهب ته منسوب دي او د دې خبيثې عقيدې څخه دفاع کوي او د خلکو تر منځ يې خپروي په ځانګړي توګه په قندهار، هلمند، زابل،. کاپيسا، پروان او داسې نورو ځايونه کې ددې عقيدې خپرونکي او په دغه ګمراه عقيده ايمان لرونکي زيات دي ، د دوی علامې سپينې پټکۍ او د هغې دننه زيړې خولۍ ګانې دي ، دوی په هو ،هو ويلو او په ګډاګانو او شور ماشورکولو او د وحشيانو په شان په مختلفو حرکتونو باندې پيژندل کيږي ، چې په خپل بدعي مجالسو کې يې کوي او ددوئ ځينې يي نه ځان ته سيفيه وايي او د دوئ يو ګمراه شيخ د سيف الرحمن الخراساني په نوم وو او دا هم د احمد رضا خبيث څخه زيات متأثره شوی و او خپله عقيده يې په افغانستان او پاکستان کې خپره کړه ، سيف الرحمن او احمد رضا دوه مخونه وواو د يو کار کولو له پاره وو اګر چې سيف الرحمن په بعضو ځايونو کې د بريلوي څخه متاثره شوی خو په اصل کې د دوی څښاک د يو ګودر څخه دی او په يوه کنده کې اوسيږي چې د خراسان غږ مجلې په راتلونکو ګڼوکې به د سيف الرحمن ساحر او د تصوف شرکي او کفري عقيدې ته به دده په خدمت رښا واچوو ان شاء الله .

خو اوس د مرتد احمد رضا بريلوي د عقيدې ذکر کوو چې د هغې د عقائدو څخه يو يي غير الله ته فرياد اوله غير الله څخه کومک غوښتل دي :

بريليانو د اسلام د ټولو اساسي عقائدو خلاف کړی او شرک يې د توحيد په ضد او بدعت او ګمراهي يې د سنت او هدايت په خلاف نشر کړی او د مؤمنانو او مجاهدينو په خلاف يې د مرتدينو او مشرکينو سره دوستي کړي او کوي يې بلکې دوئ د کفري او مرتدو حکومتونه لښکرې دي.

بريلوي لعنة الله عليه وايي (د الله څه خلک دي چې دوی يې د خلکو د حاجت پوره کولو له پاره خاص کړي چې د خپلو حاجتونو په پار هغوی ته ورمنډه کړي).

بريلوي بل ځاې وايي : د الله څخه غيرالله ته فرياد او له هغه مدد غوښتل جايزدي اوپه دې اړه يي ترغيب ورکړی ويلي يي دي چې د دې څخه انکار کوونکی به يا متکبر يا عنادي وي، که دا فرياد او مدد غوښتل د مړي څخه وي يا ژوندي څخه که د نبي يا رسول څخه وي که دد ولي او نيک انسان څخه وي هيڅ باک نه کوي او د ې تر منځ کوم فرق نشته

او بريليان وايي : مدد غوښتل د انبياء رسولانو او صالحانو څخه جايز دي.

بريليان وايي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د مصيبتونو دفع کوونکی او د هرې غوښتنې ورکونکی دی او وايي چې جبرائيل عليه السلام د حاجتونو پوره کوونکی دی او رسول الله صلی الله عليه وسلم بيا د حاجتونو د پوره کوونکو حاجت پوره کوونکی دی چې د جبرائيل عليه السلام

حاجت هم پوره کولی شي.

دا بریلیان د عبدالقادر جیلاني باره کې دروغ وايي: چې چا زما ځخه په یو غم کې مدد وغوښت، نو زه به ترې دا غم لرې کړم او چا چې ما ته فریاد وکړ نو زه به یې تکلیف لرې کړم او چا چې په سختۍ کې ما ته زما په نوم آواز وکړ نو زه به ترې دا سختي لرې کوم او چا چې زه الله ته په یو حاجت کې وسیله کړم نو حاجت به یې پوره کړم.

دوی یو بدعي لمونځ د غوثي لمونځ په نامه نومولی چې دوه رکعته کول او بیا د بغداد په طرف لس قدمونه اخستل او کله چې قدم ږدي او ددوی په اصطلاح د غوث الاعظم جیلاني ځخه به مدد غواړي او هغه ته به په نامه اوازونه کوي او خپل حاجت به ورته وايي او دغه شعرونه به وايي:

په ما ظلم کېږي په دنیا کې ته مې
مرستندویه یې
او ننګ دې وي په هغه ساتلو د
ساتونکو باندې
کله چې ورک شي په یوه دښته کې
سربند (واګی) زما د اوښ.

او مرتد بریلیان وايي: ای د الله سیوریه شیخ عبد القادره!
ځه شی د الله له پاره ای شیخ عبدالقادره!
مهرباني، مهرباني مهرباني دعبدالقادر زمونږ نه واړوه بد شیان ای عبدالقادره!

لکه ځنګه چې دغه خبیثان وايي پرته له شکه د دین له پاره یو مرسته کوونکی وي او هغه عبدالقادر دی.

د یهودو نائب او د شرک ښکاره کوونکی احمد رضا البریلوي وايي (ما په ژوند کې فریاد او مدد نه دی غوښتی غیر د عبدالقادر ځخه کله چې مرسته غواړم نو د دې ځخه یې غواړم او کله چې فریاد کړم نو دې ته یې کړم کله چې وغواړم د بل کوم ولي) حضرت محبوب الهي (نه ، چې هغه ته فریاد او مدد ترې وغواړم نو زما ژبه د هغې په نوم اخیستلو نه چلېږي بلکې په دې چلېږي چې: اي غوثه ، ځکه زما ژبه انکار کړي چې د هغې نه علاوه د بل چا نه مدد وغواړم.

دوی د احمد زروق نه هم مدد طلب کوي او وايي :
زه د هغه چا عبادت کوونکی (مرید) یم چې راغونډوي تیت وېرک شیان هغه ظلم نا انصافي چې د هغه ټوټې راټولوي کله چې په کوم غم ، تنګی او ویره کې یې نو د یا زروق په نوم آواز وکړه په ډیرې جلتۍ سره.

او دارنګ دوی د ابن علوان په نامه هم مدد طلب کوي ،چې کله یو انسان ځه ورک کړي او غواړي چې الله یې ورته واپس کړي نو په یو اوچت ځای دې ودرېږي چې قبلې ته یې مخ اړولي وي او سورة الفاتحه دې ووايي او د دې ثواب دې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وبخښي او بیا دې د دې ثواب احمد ابن علوان ته وبخښي بیا دې ووايي ای زما باداره ! ای احمد بن علوانه! که چېرې زما ورک شوی شی ماته واپس نه کړي نو د اولیاء د دیوان نه به تاسره بحث جګړه وکړم.

دارنګ دوی د محمد بن الحنفي نه هم مرسته غواړي لکه وايي : چې محمد بن الحنفي به اودس وکړ نو یوه ورځ د ورځو نه یې خپله ځپلی وویستله او په هوا کې یې ګوزاره یې کړه او دویمه ځپلی یې خپل خادم ته ورکړه او هغې ته یې وویل دا د ځان سره کېږده تر ځو چې اولنۍ ځپلی دویم ځل راشي نو پس د ډېر وخت نه د شام نه یو کس راغی او ورسره هماغه ځپلی وه کوم چې هوا کې ورکه شوې وه او وې ویل زما لار ښوونکیه او شیخه ! پرته له شک یو لوټ مار راغی چې له ما ځخه غلا وکړي او زما په سینه کېناست چې ما ذبح کړي نو ما د محمد حنفي په نوم غږ وکړ نو دغه ځپلی غیبي راغله او دغه غل سینه یې ووهله، هغه باندې بیهوشي راغله او ما ترې نجات وموند.

دارنګ دوی د أحمد بدوي نه هم مدد غواړي لکه ځنګه چې بریلوي مرید وايي : ای زما باداره أحمده بدوي !زما سره اوسه (او بریلیان د أحمد بدوي ځخه نقلوي): د چا چې ځه حاجت وي نو زما قبر ته دې راشي او خپل حاجت دې وغواړي زه به ورته حاجت پوره کړم .

او دوی د خپل ګمراه صوفي مشایخو باره کې وايي: د صوفیانو مشایخ د خپلو تابعدارانو مریدانو ساتنه کوي په ټولو حالاتو او سختیو کې لکه ځنګه چې بریلوي وايي :کله چې کوم کار کې حیران وارخطا شوی نو د قبرونو والاو ځخه مدد وغواړئ .

او دارنګ دوی وايي د قبرونو زیارت کول ګټور او ګټه رسوونکي دي او قبرونو والا د خپلو زیارت کوونکو مدد کوي او دارنګ وايي: د قبرونو دزیارت مقصد دا دې چې خپل اهل ته فایده ورسوي او بریلیان وايي چې محمد بن فرغل به ویل :زه په قبرونو کې تصرف کوونکی یم نو ځوک چې ځه غوښتنه لري نو رادي شي زما مخې ته او خپل حاجت دې وغواړي زه به یې ورته پوره کړم.

بریلیان وايي ټوله نړۍ د اولیاؤ په لاس کې د یو ورغوي په شان ده اولیاء دې ته ګوري ځوک چې د هر ځای نه فریاد او آوازورته وکړي فریاد یې قبولوي او حاجت یې ورپوره کوي.

بریلیان د هغه چا باره کې د دوی شرک نه منی دا وايي : چې زمونږ زمانه کې یوه وړه ډله ده چې دوی د اولیاؤ د مدد ځخه منکر دي او دوی هغه ځه وايي چې علم پرې نه لري هسې اټکل خبرې کوونکي دي .

ای مؤحدو ورونو !د غیر الله نه مدد غوښتل، د مرتدو بریلیانو عقائد دي.

د دغو مشرکانو د عقائدو نه د الله د قدرت اختیار انبیاوو او اولیاوو ته منسوبول دي:

مرتدو بریلیانو د الله قدرت په خپل ګومان انبیاو او اولیاؤ ته منسوب کړي ، او د الله په ځای انبیاء او اولیاء ددي وړ ګڼلي چې فریاد ورته وشي او دعا ترې وغوښتل شي .

دوی دالله ځخه دا هرځه نفي کوي، مرتد بریلیان دا عقیده لري چې اولیاء او انبیاء د رزق ورکولو او منعه کولو، ژوندي کولو او مړه کولو اختیار لري او دوی تدبیر چلوونکي، مدد کوونکي او شفاعت کوونکي دي او هر ځه د دوی سره دی نعوذبالله

دارنګ دوي وايي: ټول هغه ځه چې ښکاره شوي دي په عالم کې نو دا ټول شیان محمد صلی الله علیه وسلم ورکوي او د هغه په لاس کې چاپیاني دي، نو د الهي خزانو ځخه ځه نه وځي، مګر د هغه په

لاسونو او هغه چې د کوم کار اراده وکړي د هغې خلاف نه کېږي او د دې کار مخه نیونکی نه وي.

همدارنګه بریلیان وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم بیزاره دی له ناروغی څخه، د دردونو څخه او هغه د خپل امت څخه د هر ناخوښه کار لرې کوونکی دی همدا راز ژوندي کونکي دي، د خپل امت څخه د سختیو او هر ناخوښې کار دفعه کونکي او ژوندي کوونکې دی، خلکو ته نفع رسونکی دی، د مرتبواوچتونکی دی، ساتونکي او مدد کوونکی دی، د ازمایښتونو دفع کوونکی دی، همده (رسول الله صلی الله علیه وسلم) پر ابراهیم علیه السلام اور یخ کړی و، دا ورکونکی دی او حکم یې دواړو جهانونو کې جاري کیدونکی دی .

همدارنګه وایي : دا رسول الله د پټو خزانه ده او دا د حکمونو جاري کوونکی دی، هیڅ امر نه جاري کېږي مګر د هغه په حکم او خیر نه نقل کېږي مګر د هغه په حکم د هغه نه د امید مدد او ورکړې په دین ، دنیا او په آخرت آبد له پاره کېږي.

وایي: بیشکه رسول الله صلی الله علیه و سلم سردار دی د دواړو جهانونو، سخاوت کونکی دی، رزاق دی او مونږ ورته محتاج یو او وایي د رسول الله صلی الله علیه وسلم نوم په عرش باندې لیکل شوي ،ځکه چې پوه شي عرش د هغې حق دی او دا یې مالک دی او وایي رسول الله متصرف دی په هر ځای کې

بریلیان وایي :چې بیشکه رسول الله د الله د لویو خلیفه ګانو څخه لوی خلیفه دی او دا تصرف کونکی دی په ځمکې او آسمان کې.

بریلیان وایي :چې بیشکه رسول الله دا مالک د ځمکو، مالک د خلکو، مالک د امتونو او مالک د ټولو مخلوقاتو دی، د دې په لاس کې چابیاني د نصرت او مدد دي، د دې په لاس کې چابیاني د جنت او جهنم دي، دا هغه څوک دی چې عزتمند به وي په اخرت کې، دا به د قدرت صاحب وي، د قیامت په ورځ به اختیار ورسره وي ، دا هغه څوک دی چې غمونه لرې کوي د خپل امت نه او ازمایښتونه به دفع کوي، دا به د خپل امت حفاظت کوونکی او مدد کوونکی وی، او د دې له پاره لاسونه پورته کېږي دحاجت پوره کولو لپاره.

دارنګ بل بریلوي وایي: پرته له شکه رسول الله دخپل رب نائب دي، چې ورکوي هغه څه چې غواړي او چاته یې چې وغواړي، او اخلي هغه څه چې وغواړي او چاته یې چې وغواړي.

بریلوي وایي: پرته له شکه ځمکه د ده په قبض او تصرف کې ده ، او پرته له شکه جنت د ده سلطنت او ریاست دي ، او پرته له شکه دا تقسیمونکی د رزقونو دي.

بریلوي مفتي وایي: چې بیشکه ټول عالم اوټول کارونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس کې دي تصرف کوي په دې کې او چاته چې وغواړي او څنګه وغواړي ورکوي یې.

او دوی د نورو انبیاوو باره کې وایي : چې پرته له شکه انبیاء تصرف کوي په باطن او رزقونو د خلکو کې لکه څنګه چې ظاهر ورته تصرف لري.

د علي رضي الله عنه باره وایي: چې دا د اور تقسیمونکی دی خپل أولیاء به جنت او دښمنانان به اور ته داخلوي.

بریلویان د عبدالقادر جیلاني باره کې وایي: چې دا متصرف د جهان دی، دې ته اجازه او اختیار ورکړی شوی او دا تصرف کوونکی د کارونو د دنیا دي.

دارنګ بریلویان وایي : ای زما فریاد رسوونکیه! ته ژوندی کوونکی او مرګ راوستونکی یې او نبي هغه قاسم دی او ته مو هغه ته رسوونکی یې.

او همدا شان بریلویان یو شعر وایي:

ای د اله سیوری عبدالقادره!

او ای بنده ګانو ته پناه ورکوونکی عبدالقادره!

مونږ محتاج او فقیران یو!

او ته د تاج او عزت خاوند یې

یو څه راکړه د الله له پاره عبدالقادره!

بریلوي مرتدین وایي: ای انعام ورکوونکیه او کامل عبدالقادره ته اوچت یې احسان وکړه او سوال د هیله من سوالګر پوره کړه عبدالقادره .

دارنګ دوی وایي: عبدالقادر یو فرش غوړولی په عرش باندې او راښکته شوی عرش په فرش

همدارنګه دوی وایي: عبدالقادر قبلونکی دی د فریاد د دین والو، دوی وایي: شیخ جیلاني هغه کومک کوونکی دی چې حاصل شوی دې ورته قدرت د کلمې (کن فیکون).

د درواغو څه اشعار عبدالقادر جیلاني ته منسوبوي : او زه په ټولو قطبونو واکمن یم

په هر حال کې زما فیصله منل کېږي .

زما شاګردانو، مه وېرېږئ، ځکه چې زه د جنګ په وخت کې د جنګ کولو هوډ کوم زما وهل په آسمان ځمکو کې بیان شوي

او زما د خوشالی لاره ماته ښکاره شوې د الله ښارونه زما په ملکیت او تصرف کې دي او زما د زړه له پاره وختونه صفا دي زما له پاره ،په یو ځل مې د الله ښارونو ته وکتل پشان د پیوستون په قاعده کې د سرې په توګه زه جیلي محي الدین مې نوم او زما نښې په سر د غرونو دي.

بریلویان د جیلاني باره کې دا وایي: د وخت د خلکو بحران زما په زړه کې دی او دا تصرف کوونکی دی په ورکولو او نه ورکولو د یو کار.

اوهمدارنګه دوی وایي: چې د خلکو زړونه زما په لاس کې دي که چېرې وغواړم د هغی اړولو د ځان نه نو وبه یې کړم او که وغواړم چې ځان ته یې واړوم نو وبه کړم .

دوی وایي: د شیخ الجیلاني لپاره حق ثابت شوی په لوح محفوظ کې او دا د دې اختیار لري چې ښځه سړی وګرځوي.

دوی د دین د مشرانو اړوند دا وایي: چې فقهاء او صوفیان د خپلو مقلدینو له پاره شفاعت کولی شي او د هغې د نفس ختلو، د سوال د نکیر منکر په وخت ، د حشر حساب کتاب په وخت، د اعمالو د تول کولو، په پُل صراط تېریدلو مدد کړي او د هغوی نه په هیڅ موقع نه غافله کېږي او ټول مجتهدین مشران د خپل تابعدارانو له پاره شفاعت او ساتنه کولی شي، د دوی د دنیا او برزخ په سختیو او

پل صراط په تېریدلو کومک کوي.
دارنګ دوی وایي: د بدلون سلطنت له آسمان څخه تر ځمکې پورې دی ، او د عارف سلطنت له تخت څخه تر بستر پورې دی.

دارنګ ظالم مرتد بریلویان دا وایي: چې د دنیا نظام د اولیاء په واسطه قائم دی او دوی وایي اولیاء ژوندي کول، د برګې مرض والا او ړانده جوړولی شي او ټوله ځمکه په یو قدم راټولولی شي.

دوی وایي: په هره زمانه کې یو غوث وي او آسمانونه او ځمکه له هغې پرته ولاړ نه دي .

همدارنګه وایي : وهابیان وایي چې اولیاء د قبرونو نه د مچ د لرې کولو طاقت هم نه لري لیکن دوی نه پوهیږي چې دوی له پاره قدرت دی چې ټول عالم قبول کړي لیکن دوی دې ته فکر نه کوي.

همدارنګه دوی وایي: تصرف د أولیاؤ پس د مرګ نه نور هم زیاتیږي.

دا ځیني هغه عبارتونه د مرتد بریلویانو د قوم وو چې په قدرت او تصرف دانبیاؤ او اولیاؤ یې عقیده ده ، دوی په دې اکتفا نه ده کړې ، بلکې احمد رضا بریلوي یې د الله سره په تصرف د کارونو او خلکو کې شریک ګرځولی، دمرتد احمد رضا تابعداري کوونکي او مرسته کوونکي وایي: احمد رضا لیدونکی دی د زړونو او د ایمان او په دوارو جهانونو کی نجات ورکوونکی دی.

اومرتد بریلیان وایي: احمد رضا رزق ورکونکی، د دعاګانوکونکې، د مشکلاتو حل کونکی، فریاد قبلونکی دې ،او دا د اولیاؤ غوث او قطب دی، د دې له پاره به د حشر په ورځ سیوری وي، په هغه ورځ چې سیوري به نه وي او ملګرتیا به یې په قبر او حشر او دوباره پورته کېدلو کې کوي او دا رزق ورکوونکی دی اومونږ محتاجه یو دې ته د دوی د عقیدو څخه د مرو آواز اورېدل دي

بریلویان وایي: چې اولیاء په قبر کې ډیر ښه کتونکي او آوریدونکي دي، د دنیا له ژوند څخه هم زیات چې دوی به کتل او آورېدل.

همدارنګه دوی وایي : کله چې د پاکو نفسونو څخه ساه واخستل شي نو یوځای شي د اوچتو ملائیکو سره او دا په شان د مخامخ کتونکو ګوري او اوري.

دوی د عبدالقادر جیلاني باره کې وایي: چې شیخ جیلاني په هر ځای کې ګوري او د ټولو آواز اوري.

د دوی د شرکي عقائدو څخه اثبات د علم الغیب د اولیاء له پاره، د بریلویانو دا عقیده ده چې انبیاء، پیغمبران، نیکان او اولیاء په غیبو پوهیږي او حال دا چې په غیبو نه پوهیږي مګر یوازې الله.

الله تعالی فرمایي: ژباړه: ورته ووایه ای پیغمبره پرته له الله بل هغه څوک چې ځمکو آسمانونو کې دي په غیبو نه پوهیږي (النمل:٦٥) الله فرمایي : ژباړه: پرته د شک نه الله عزوجل په غیبو د آسمانونو او ځمکو او هغه څه چې ستاسې په سینو کې دي پوهیږي (الفاطر:٣٨)

بریلویان وایي: انبیاء علیهم السلام د اولې ورځې نه تر آخرې ورځې چې څه دي ګوري او پرې پوهیږي.

د نبي علیه السلام باره کې وایي:

چې علم د لوح محفوظ او علم د قلم او هغه څه چې شوي او کیږي ټول یوشان د نبي علیه السلام د علم څخه دي.

بریلیان وایي : چی نبی علیه السلام پوهه دی په ټولو شیانو او په کارونو دالوهیت او د حق په فیصلو او په نومونو کارونو آثارو او ټولو ښکاره او پټ لومړني او آخري باندي علم لري.

او مشرک بریلویان وایي: چې د نبي علیه السلام علم ټول غیبي علمونه او پادشاهیاني راګیرې کړي.

په حدیث کې ثابت دي نبی علیه السلام فرمایلي دي: پینځه شیان دي نه پوهیږي په هغې مګر الله ، د هغه سره علم دقیامت، باران ورولو دی او پوهیږي په هغه څه چې په رِحمونو د زنانه وو کې وي او نه پوهیږي یو نفس چې څه به کوي سبا ته او نه پوهیږي یو نفس چې په کوم ځمکه به مړ ګیږي(رواه احمد)

مګر مرتد بریلویان وایي : چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه و مبعوث شوی مګر دا چې د پنځه غیبو ښودنه ورته الله وکړه او دارنګ وایي چې رسول الله ته علم د پینځو غیبونو علم ورکړی شوی و خو لیکن د هغې پټولو حکم ورته شوی و.

دارنګ بریلیان وایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم په علم الغیب د ماضي او مستقبل باندې پوهیږي او په ډیرو هغه شیانو چې په لوح محفوظ کې دي پوهیږي او د قیامت د راتلو علم لري.

مرتد بریلیان وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول عالم د مدینې نه ګوري.

اوهمدغه شان دوي وایي: چې رسول الله یواځې په دغه پینځو غیبونو نه پوهیدلو بلکې دغه علوم چې چاته یې خوښه وه د خپلو خدمتګارانو نه، نو ورکول یې.

دغه شان مرتد بریلویان وایي: څرنګه به په نبي علیه السلام دغه پنځه غیبونه پټ پاتي شي حالانکه د هغه د غوره امت نه هیڅوک تصرف د هغې د خبریدلو نه غیر نه شي کولی نو واورئ اي منکرینو، د اولیاءالله تکذیب مه کوئ ځکه د دوی تکذیب د دین خرابي ده او الله به انتقام اخلي څوک چې د دې نه انکار کوي "وأعاذنا الله بعبادة العارفین".

دغه شان دوی د عبدالقادر جیلاني په حق کې دروغ وایي اوبهتان تړي وایي: که چیرته د شریعت واګې زما په خوله کې نه وی، ما به تاسو ته هغه څه چې خورئ او ذخیره کوئ د هغو خبر هم درکړی وو تاسو زما په وړاندې په شان د شیشو یئ چې ګورم هغه څه چې ستاسو باطن کې دي.

دا ځیني د مرتدو بریلویانو د ډلې خبرې دي چې انبیاؤ او اولیاؤ ته علم الغیب نسبت کوي ،لیکن دوی دروغ وایي، ناامیده دي او تاوانیان دي دنیا اخرت کې ځکه الله خپل نبي ته فرمایي: اې محمده (صلی الله علیه وسلم!) دوی ته ووایه: "زه د خپل ځان لپاره د څه ګټې او زیان واك نلرم، هماغه الله چې څه غواړي، هغه کیږي. او که زه په غیبو پوه وای، نو ما به ډیرې ګټې ځان ته اړولي وای، او ما ته به هیڅکله څه زیان نه ؤ رسیدلی. زه خو یوازې یو خبرونکی او زیری کوونکی، د هغو خلکو لپاره یم چې زما خبره مني."(الاعراف :۱۸۸)

د دوی د باطلو عقائدو څخه یو دا دي چې نفي د بشریت د نبي علیه السلام کوي:

مرتد بربلیان وایي چې نبي علیه السلام بشر نه و بلکې دا د الله نور و، لیکن دوی دروغ وایي او دا فاسده عقیده یې د خپل ځانه جوړه کړې ده او قرآن د دوی د عقیدې رد کوي: الله فرمایي: ژباړه: کله چې خلکو ته هدایت راغی، نو پر هغه له ایمان راوړلو څخه کوم بل شي منع نه کړل، مګر د هغو دغې وینا چې: "ایا الله بشر پیغمبر را لیږلی دی (الاسراء: ۹۴)

او دا ایت دلالت کوي په بشریت د نبي علیه السلام لیکن ظالم بریلویان د الله آیاتونو نه انکار کوي او الله تعالی فرمایي :ژباړه:الله تعالی پر مؤمنانو احسان کړی کله چې په دوی کې د دوی د جنس نه پیغمبر ولیږو) او عائشه رضي الله عنها فرمایې :) چې نبي علیه السلام نه وو مګر بشر چې وینځلې به یې خپلې جامې او د خپلې چیلۍ شیدې به

يې لوشلي او د خپل ځان خدمت يې خپله کاوه) [شمائل ترمذي].

ليکن مرتد بريليان وايي: (چې نبي عليه سلام د الله تعالی نور دی ، او ټول مخلوقات بيا د هغه د نور نه پيدا دي)

مرتد احمد رضا بريلوي يوه (صلاة الصفا فی نور المصطفی) په نوم يوه رساله ليکلي او د هغې په مقدمه کې يې ليکلي: ای الله تالره حمدونه دي ای نوره ! ای رڼا د نوره ! ای هغه رڼا چې مخکې د هر چا رڼا وي او وروسته د هر چا نور يې ای هغه څوک چې رڼا اختيار ستا دي او په تا رڼاگانې حاصلېږي او د هغه نه رڼا راپيدا کېږي او بېرته واپس کېږي او هغه خپله نور دی يعني: الله دې پر تا اواهل ملگرو درود سلامتيا او روښانه نور کې برکت او ټولو سپوږمۍ رڼاگانې واچوي الله د خپلې رڼا نه پيدا کړی يې او ټول خلک يې د خپلې رڼا او درڼا شغلو نه پيدا کړي.

دوی وايي : ته نور يې اوستا ټول اعضاء د بدن د نور نه دي او ټول اولادونه ستا د نور نه دي او ته دنور سترگه يې او اصل ستا ټول نور دي.

بريلويان وايي: چې د پيغمبرانو په اره د بشريت عقيده لرل د کفارو عادت دی.

د دوی بدعي او شرکي عقيدې نه دا دی چې نبي عليه السلام په هر وخت او هر ځای کې حاضر او ناظر گڼي.

بريلوي مرتدين دا عقيده لري چې نبي عليه السلام په هر وخت او هر ځای کې حاضر او ناظر دی، دوي وايي :نشته يو ځای يا يو وخت مگر په هغه کې رسول الله موجود وي.

وايي :چې دا لري خبره نده چې د رسول الله مقدس وجود په ډېرو ځايونو کې وي چې هغه ځايونه شمارل کېږي نه.

دوی وايي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته سره د صحابه و د ارواحو اختيار ورکړي شوی و، چې په ټول عالم وگرځي او دا ډېرو اولياؤ کتلي.

دوی داولياؤ په شان کې وايي: چې اولياء طاقت لري په يو دقيقه او ثانيه کې په زرگونو ښارونو کې چېرته يې چې خوښه شي وگرځي.

او مرتد بريلويان د رسول الله صلی الله عليه وسلم اړوند وايي چې رسول الله د ټولې دنيا د هرې ذرې په هر حال کې کتونکی دی، د قرآن تلاوت، د مولد قراءت او د نعتونو قراءت ته داسې حاضرېږي لکه څنگه چې د نيکانو جنازو ته په پاک بدن سره حاضرېږي.

مرتد بريليان د خپل عقيدې په بنسټ دا وايي: مرتد احمد رضا ژوندی او موجود دی لکه څرنگه چې وايي: چې بريلوي أحمد رضا ژوندی اوموجود دی، زموږ منځ کې دی، زموږ مدد کوي او فرياد مو اوري.

د دوی د دې کفرياتو او شرکياتو، بدعاتو او نظرونو نه غير نور هم شته، مثلاً دوی د رسول الله د پيدايښت په نيته مولود محفلونه نيول او حقپرستو علماؤ دا ثابته کړې چې اول د دغه بدعت پيدا کوونکی مظفر الدين بن زين الدين صاحب الاربل و او دا يو اسراف کوونکی پادشاه و او ده به محفلونه نيول، په ربيع الاول کې به يې محفلونه نيول، دا اول هغه پادشاه و چې اول يې دغه بدعت پيدا کړ، او دې به په هر کال په مولود د نبي عليه السلام تقريبا دري لکه مال خرچ کاوه.

او بريلويان وايي چې نبي عليه السلام د مولود مجلس ته حاضرېږي او موږ د هغه استقبال په ولاړه کوو، او دوی به دا شعرونه ويل : صلو صلو علي النبي – فانه حضر هاهنا، او يو د دوی د قوم له علماؤ څخه وايي: چې د ولادت د نبي عليه السلام يادښت سره ودريدل واجب دي.

بريلويان د خواهش تابع دي دوی په يتيمانو او د مړي په وارثانو لازمي کړي چې دوی ته دې په دريمې، څلورمې، اوومې او لسمې ورځ خوراک ورکوي او هرچې يوولسمه ورځ ده نو دوی وايي که چا کره مړی وي يا نه دوی ته به خوراک ورکوي څکه چې د دوی په کتابونو کې دا راغلي دا خاص د عبد القادر جيلاني د نذر ورځ ده چې الله په دې ورځ د جيلاني د وجې رسول الله ته هدايت وکړ (العياذ باالله) او بيا هدايت وکړ رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل امت ته په دې ورځ او دا ورځ د رسولانو د هدايت او بخشش ده .د دوی کتاب(جاء الحق ج ـ ١ صـــ ٢٧٠)

بريلويان دا وايي چې د مؤمنانو روحونه د جمعې په شپه او ورځ راځي او د دوی د کورونو په اړخ کې ودرېږي او په غمجن آواز غږ کوي چې ای زما کورنۍ ! زما اولاده زما خپلوانو په صدقه کولو او يادولو زموږ باندې په موږ رحم وکړئ او موږ مه هيروئ د رسالة اتيان الارواح لزيارتهم بعد الروح للبريلوي المندرجة فی مجموعة رسائل صـــ٢٩ وگوره.

احمد رضا په خپل رساله (حجة الفائحة لتطيب التعيين) کې وايي: د فاتحې سورت لوستل په خاصو ورځو کې په خوراک جامو څپلو او نورو شيانو جايز او ثواب لري.

بريلويان وايي: څوک چې د آثارو د انبياؤ له تعظيم او پرې د تبرک حاصلولو نه منکر وي نو دا د قرآن سنت نه منکر جاهل او تاواني گمراه فاجر دي.

دوی وايي: د اولياؤ صالحينو علماؤ تعظيم لوی دی او د دوی نه تبرک اخيستل کېږي څکه دوی وارثان د برکت دي.

بريلويان د نبي صلی الله عليه وسلم او نورو انبياؤ د آثارو د تعظيم کيفيت باره کې وايي: د انبياؤ او اولياؤ آثار منل او ښکلول دي څکه چې دا د مشرانو علماؤ په خبرو کې ليکل شوي لکه د مدينې منارې ديوالونه ښکلول حالانکې دا شيان د رسول الله صلی الله عليه وسلم وخت کې نه و جوړ شوي بلکې د هغې نه وروسته جوړ شول او رسول الله هغه نه ليدلي نه يې لمس کړي.

د دوی نور کفر او بدعات هم شته چې ټول دلته نه شو ذکر کولی او الله دې موږ ته د دې کفري ډلې څخه نجات راکړي.

ای د خراسان مؤحدو ورونو ! دا هغه بعضې عقائد د دغه مشرکانو وو، د لويو مصيبتونو نه چې په امت د محمدصلی الله عليه و سلم راغلی هغه د داسې بريليانو غونډې مرتدو او منحرفو ډلو پيدا کېدل دي، هغه ډله چې د دين په جامه کې دي، د مؤمنانو سره مشابهت کوي او د مشرکانو ملحدينو عقيده خپروي.

د باطلو او گمراهانو اهل الزيغ منحرفينو ښکاره کول د الله په لار کې د لوی جهاد څخه دي، موږ د دغه مرتدې ډلې او څوک چې د دوی په عقيده او مدد کوونکي وو د هغوی رسوا کېدل ښه وبلل د کوم چې ملاترې او معتقدين په وطنې طالبانو کې شته او شاعر وايي:

من الدين كشف الستر عن كل كاذب
وعن كل بدعي أتى بالمصائب
ولو لا رجال مؤمنون لهدمت
مساجد دين الله من كل جانب

او ای مجاهدو مناصرو ورونو! قسم په الله د دې قوم فتنه ډېره لويه ده څکه دوی په چشم پوشو او جاهلانو باندې حق گډوډ کړی او دوی سره په دې کار کې رسنی مدد کوي، دوی ته هر څه پرانيستې او د احمد رضا بريلوي او بريليانو د ډلې خبرو کې څه حيرانتيا نشته بلکې د دوی خبرې د روښانې ورځې لمر نه هم ډېرې روښانه دي بلکې حيرانتيا هغه خلکو ته ده چې د بريليانو د شتون سره په طالبانو کې دي، سره د دې ځينې بيا ځانونه سنت او سلفيت ته منسوبوي خو د طالبانو شپه او ورځ دفاع کوي او د مجاهدينو، جهادپالو او د کتاب او سنت د پيروانو پسې په يو بريد پسې بل بريد کوي.

•••

طالبان ۳
د پلک او سندان په منځ کې

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو ! تاسې ددغه تحلیلي سیاسي مقالې لومړی او دویمه برخه د خراسان غږ مجلې په اولسمه او اتلسمه ګڼه کې ولوستې دادې په دې ګڼه د همدې مقالې وروستۍ برخه ولولئ .

مجاهدینو ورونو!

د امریکا په شمول د نړۍ ټول کفار له طالبانو څخه پوره مطمین دي دوی آزمایلي چې دوی به نور هیڅکله کفارو ته نقصان او ضرر ونه رسوي ، ځکه نو سره داسې خوږه راشه درشه شروع ده ، د کفارو لوړ پوړي چارواکي څه په اطمنان د طالب سره په یو میز ناست دي او سره خوراکونه کوي او سره یو ځآي څه د سکون شپې کوي .

ورونو ! په (۱۹۸۳) کال مسعود رزیل روسانو سره د ټول افغانستان په سر معامله وکړه او ورته یې وویل نور افغانستان کې که مسلمانان وژنئ ، که ظلم او جبر کوئ که هر څه کوئ مقصد پنچشیر کی به زمونږ او ستاسې اور بند وي او همداسې وشول، له دی ترون څخه وروسته روسان دمقاومتیانو د ادې زامن شول او یو په بل یې بیا یو ږز هم نه کاوه روسانو او مقاومتیانو به په یو ټانګ له یوه سګرټه سره په شریکه لوګې پورته کولو.

دی کار سره طالبانو او نور ړلو او ټپلو ته دا چانس په لاس ورغې چې شروع یې وکړه چې هله مسعود خو قومیت وکړ، د ټول افغانستان مسلمانان یی روسانو ته خوشې کړل ، د پنجشیر په سر یې د ټول افغانستان مسلمانان په روسانو خرڅ کړل ، خو اوس جالبه داده چې تر اوسه طالبان د مسعود همدا کړنه دلیل نیسي، چې دوی ځکه د مسعود خلاف جنګ شروع کړ چې مسعود د پنجشیر لپاره د ټول افغانستان په سر روسانو سره معامله وکړه په پنجشیر کې یې اوربند وکړ او په نورو ولایتونو کې روسانو خپل وحشتونو ته دوام ورکړ او په پنجشیر کې د مقاومت عسکرو او روسانو سره په یو پوستین کې ځانونه تودول .

خو د طالب اوس خپل ځان ته فکر نه دې ، دوی هم د مسعود تور تاریخ تکرار کړ ، مسعود د یو پنجشیر په سر په ټول افغانستان معامله وکړه خو دوی بیا د یو افغانستان په سر په ټول اسلامي امت او ټولې یرغمل شوې اسلامي خاورې په سر معامله وکړه ، د بین الملل له لورې د وضعه شویو پولو په داخل کې د یوې محدودې خاورې د واک لپاره د وطنیت د کفري عقیدې د ساتنې او پالنې په هدف یې کفارو سره په ټول عالم اسلام معامله وکړه ، که کفارو له افغانستانه بهر د نړۍ هر مسلمان سره هر وحشت کوي نو خپل کار یې دې ، لرې نه ، بلکې د افغانستان سره په نیږدې پوله په شرقي ترکستان کې که کمونسټ چینایان د یغور د مسلمانو خویندو عزتونه لوټي ، که دوی په ډله ایز شکل وژني او که هر وحشت ورسره کوي خو هغه د هغوی خپل کار دې ددوی ورسره څه کار نه شته ، مطلب د نړۍ ټولو کافرو سره یې یوازې د یو افغانستان په سر د نړۍ په ټولو مسلمانانو معامله وکړه ، اوس که په امریکا او نورو کافرو هر څوک برید کوي نو طالب مکلف دې چې ددی کفارو ساتنه وکړي ، کله د روسانو ، کله د امریکایانو ، کله د هندوانو او کله د چینایانو په دفاع کې یې سرونه بایللې وي..

ټولو ته یې سرونه خم نیولي دي، سره د طالبانو د دومره بغیرتۍ او د کفارو ته د دومره وعدو ورکولو، بیا هم د پاکستان کفري حکومت یا نور کفار چې د همدې افغانستان په خلکو هره لوبه کوي بمبارونه کوي ، که یې د لوڼو عصمتونه لوټي او که هر څه کوي خو طالب نور عکس العمل خو نه ښایي تر دې چې ژبه یې هم کنټرول ساتلې او له خولې سپڼ نه خیژي، ځکه طالب ته اوس د هر څه نه مخکې ملي مصالح مهمې دي او د اسلامي فرائضو په غم کې نه دی.

مجاهدینو ورونو!

کوم کار چې پرون مسعود روسانو سره د پنچشیر په سر وکړ نن هغه کار طالبانو امریکایانو سره د افغانستان په سر وکړ .

طالبه! که د مسعود کار درته کفر او تسلیمی ښکاري، نو دې خپل کفر او تسلیمۍ ته څه ځواب لرئ؟

هغه وخت درسره د نورو ولایتونو د مسلمانانو غم وه ، هغه وخت مو د کفارو او کمونستانو ظلمونه د نور ولایتونو مسلمانانو سره لیدل ،د مسعود هغه کار مو بد ګاڼه، خو نن بیا ولی ړانده شوی یاستئ ؟ د ایران اهل سنت وینئ که نه ؟ په چین کې یرغمل شوې د شرقي ترکستان خاوره او د یغور ۴۴ میلونه یرغمل شوې مسلمانان نه وینئ ؟

د نور نړۍ د مظلومو مسلمانانو فریاد اورئ که نه ؟

په دې ټوله اسیره اسلامي خاوره کی د کفارو مستي وینئ که نه ؟ ولی دومره بیغیرته شوئ، خپله خو بیغیرته شوئ، د نورو مجاهدینو مخنیوی هم کوئ او خپل بادار ته د مجاهدینو د ځپلو وعدی ورکوئ آخر به هم تاسې مسلمانان پاتی شئ؟

ورونو : که مسعود روسانو سره معامله وکړه د پنچشیر په سر، خو بیا همداسې خپله خبره باندی ولاړ هم وه ، روس پنچشیر ته بیا نه تللو او نه هم بیا وروسته د تسلیمۍ څخه یی پنچشیر باندی بمبار وکړ ، خو راشه دلته د طالب حال وګورئ رقم ، رقم ضمانتونو ورکولو سره بیا هم دوی په آرام نه پریږدي، روز مره یی نور هم

ځانته ذليله کوي او رسوا کوي . يا وربانديې بمبار کوي او يا يې په کروز ولي او يا يې بې پيلوټه ولي خو بيا هم طالب دی او د امريکا د ماتې ببولالي دي چې زمزمه کوي .

مجاهدينو ورونو مخکې امتونو کې به کوم قوم چې د الله رب العالمين بندګي خوشې کړه ، کفر او نافرماني به يې شروع کړه، الله رب العالمين به دوی باندې داسې يو عذاب رانازل کړ، چې قواری به يې مسخه شوې،علماء وايي چې نن سبا يو عذاب هغه خلکو باندې چې د الله رب العالمين بندګي خوشې کوي او نافرماني کوي ،دا دی چې دوی د طاغوت بندګان جوړ وي، دوی د طاغوت عبادت کې مصروفه کيږي، لکه چې نن سبا طالبانو د خپل ځان نه عباد الطواغيت جوړ کړي دي. قال تعالی : **قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَلِكَ مَثُوبَةً عِندَ اللّهِ مَن لَّعَنَهُ اللّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوتَ أُوْلَئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَاء السَّبِيلِ ﴿٦٠﴾** سورت المائده

ژباړه: بيا ووايه، ايا زه هغه خلك دروښيم چې د هغو عاقبت د الله په وړاندې د فاسقانو له عاقبت څخه هم ډېر بد دی؟ هغه کسان چې الله ورباندې لعنت کړی، او غضب يې وربانديې نازل کړی، چې له هغو څخه يې بيزوګانې او خوګان جوړ کړل، چې هغوي د غير الله د قانون اطاعت وکړ. د هغو درجه لا ډېره زياته بده ده او هغوی دعدل او اعتدال له سمې لارې څخه ډېر زيات منحرف شويدي'.

خپلو مجاهدينو ورونو ته وايو چې: د منافقينو او مرتدينو خبرې بايد په تاسې باندې تاثير ونکړي، د دوی په طعن او تمسخر باندې ستاسې عزت نه کميږي، ځکه عزت او غلبه ورکونکی الله سبحانه وتعالی دی. قال تعالی : **وَلاَ يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ إِنَّ الْعِزَّةَ لِلّهِ جَمِيعًا هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦٥﴾** سورت يونس

ژباړه: دا خلك چې په تا پورې کومې خبرې ترې هغه دې تا ونه ځوروي، عزت په تمامه معنا د الله په واك کښې دی، هغه هر څه اوري او په هر څه پوهيږي.

هو! منافقينو به هم رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ويل چې تبوك نه راشئ، زمونږ هيواد ته (مديني ته) رانه شئ ، له دې ځايه دې شړو او دلته تا لپاره ځای نشته دی، که راشئ دلته به ستاسې عزتمند ذليله کيږي، خو الله رب العالمين مخکې له مخکې څخه ورته د رد جواب ورکوي، چې تاسې به همدې مدينه کې چې خپل زمکه او هيواد مو دې، همدلته به ذليله کيږئ .

قال تعالی: **يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨﴾** سورت المنافقون

ژباړه: دوی وايي چې که مونږ بېرته مديني ته ستانه شو نو ځوك چې دعزت خاوند دی هغه به ذليل له هغه ځايه وباسی. پداسې حال کې چې عزت خو د الله او دهغه درسول او مؤمنانو لپاره دی، خو دغه منافقان نه پوهيږي.

د طالب نه پوښتنه کوو آيا نړی کې کفار شته دی؟ آيا نړئ کې طاغوتي ملکونه شته دی که نه ؟ که چيری جواب مو مثبت وي، نو تاسې خو ځانته مسلمانان وايي او خپل ځان په ملت د ابراهيم عليه السلام (!) کی حسابوئ، نوتاسې د کوم کافر او طاغوت څخه برأت کړی دی ؟

ستاسې خو ټول کفار دوستان شول ،ټولو سره مو ديپلوماتيکې کفري اړيکي برقراره کړي دي ، ټولو سره ډيالوګ لرئ ، ټولو سره تعامل او جوړجاړی غواړئ ، آخر برائت مو له چا څخه کړي، دشمني مو چا سره ده ، کفر بالطاغوت لرئ که نه ؟

يا صرف کلمه وايي نور ايمان مو لکه د ماشوم اودس بيخي نه ماتيږي؟

قال تعالی : **قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَاؤُا مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاء أَبَدًا حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ.** سورت المتحنه.

ژباړه: ستاسې له پاره په ابراهيم او دهغه په ملګرو کښې يوه غوره نمونه ده چې هغوی خپل قوم ته په ډاګه وويل : مونږ له تاسې نه او ستاسې له دغو معبودانو څخه چې تاسې يې د الله په ځای بندګي کوئ قطعي بيزار يو، مونږ له تاسې نه منکر شوي يو او زمونږ او ستاسې ترمينځ دتل له پاره دښمني شوه او کينه ولويدله ترڅو پورې چې پر يوه الله ايمان رانه وړئ.

طالبه! څه وخت او چا ته وايي چې: كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاء أَبَدًا حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ ؟

خو که چېرې دا جرآت نه لرئ ،چې داسې يو اعلان وکړئ نو بيا مسلمانانو باندې لازمه ده چې تاسې څخه د برائت اعلان وکړي، د افغانستان هر مسلمان بايد د طالبي نظام څخه برائت وکړي، ځکه د مشرکينو څخه برائت دا الله متعال امر دی قال تعالی : **وَأَذَانٌ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الأَكْبَرِ أَنَّ اللّهَ بَرِيءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُ.** سورت توبه. ژباړه: د الله او د هغه د رسول له لورې د حج اکبر په ورځ د ټولو خلکو له پاره عمومي اطلاع ده چې الله او هم د هغه پيغمبر له مشرکانو نه بېزار دي.

عامو مسلمانانو ته مو دا پيغام دی چې د طالبانو څخه برائت وکړي، دوی سره دشمنی ته تيار شي، د خپل توان په انداز مکلف ياستئ چې د دوی په خلاف مبارزه وکړئ او د دوی څخه خپله لاره جلا کړئ، ولو که ستا ورور او پلار ولی نه وي، ځکه دوی د الله دښمنانو سره دوستي او انډيوالي شروع کړی ده، چې نتيجه کی دوی دی کار سره د اسلام څخه په شاه شوي او مرتد

کرځیدلي دي . قال تعالی : **لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءهُمْ أَوْ أَبْنَاءهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ (۲۲)** سورت المجادلة.

ژباړه: ته به هېڅکله دا ونه مومې کوم خلك چې پر الله او اخرت باندې ایمان لرونکي دي چې هغوی له هغو خلکو سره مینه کوونکي و اوسي چې دالله او دهغه رسول مخالفت يې کړيدی که څه هم دهغوی پلرونه وي، یا دهغو زامن وي، یاد هغو ورونه وي یا دهغو ټبر او کورنی وي.

شیخ سلیمان بن سمحان رحمه الله فرمایي چې: **فأخبر أن جميع المرسلين بعثوا باجتناب الطاغوت ، فمن لم يجتنبه فهو مخالف لجميع المرسلين، قال تعالى: وَالَّذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ أَن يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوا إِلَى اللَّهِ لَهُمُ الْبُشْرَى فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿١٧﴾ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُوْلَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُوْلَئِكَ هُمْ أُوْلُوا الْأَلْبَابِ ﴿١٨﴾** سورت الزمر

ژباړه: الله تعالی دا خبر ورکړو چې ټول انبياء د طاغوت څخه ډډه کیدو لپاره رالیږل شوي دي، نو څوک چې له هغه څخه نه په ډډه کیږي هغه د ټولو انبیاؤ مخالف دی. الله تعالی فرمایي: او کومو خلکو چې دطاغوت له بندګۍ نه ډډه وکړه او د الله خواته يې رجوع وکړه دهغو لپاره زیری دی. نو زیری ورکړه زما هغو بندګانو ته. چې خبره په غور سره اوري او دهغې د ډېر ښه اړخ پيروي کوي. داهغه خلك دي چې هغوته الله تعالی هدایت کړیدی او هم دوی پوهان دي.

طالبان د خپلو کړنو له امله حوض کوثر څخه هم محروم دي، ان شاء الله.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي له ما څخه وروسته به په تاسې داسې خلک راشي چې دوی به په اول قدم کې دروغ وایي ، بیا به ظلم کوي ، خو ګوره چې ددوی په درواغو باور ونه کړئ رښتیا يي ونه ګڼئ او په ظلم کې ورسره همکاري ونه کړئ که مو داسې وکړل نو د حوض کوثر څخه به محروم شئ .

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: **«اسْمَعُوا، هَلْ سَمِعْتُمْ أَنَّهُ سَيَكُونُ بَعْدِي أُمَرَاءُ؟ فَمَنْ دَخَلَ عَلَيْهِمْ فَصَدَّقَهُمْ بِكَذِبِهِمْ وَأَعَانَهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ فَلَيْسَ مِنِّي وَلَسْتُ مِنْهُ وَلَيْسَ بِوَارِدٍ عَلَيَّ الْحَوْضَ، وَمَنْ لَمْ يَدْخُلْ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُعِنْهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ وَلَمْ يُصَدِّقْهُمْ بِكَذِبِهِمْ فَهُوَ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ وَهُوَ وَارِدٌ عَلَيَّ الْحَوْضَ»** (صحيح الترمذي الرقم ٢٢٥٩)

ژباړه: واورئ، آیا تاسو واوریدل، زما څخه وروسته به امیران وي، څوک چې په دوی باندې داخل شو او په دروغو کې يې د هغوی تصدیق وکړو او هغوی سره يې ظلم کې کومک وکړو نو هغه له ما څخه نه دی، او زه د هغه څخه نه یم، او نه به هم حوض کوثر ته زما خواته راځي، او څوک چې په هغوی داخل نشو او هغوی سره يې ظلم کې کومک ونه کړ او د هغوی د دروغو تصدیق يې ونه کړو نو دغه کس زما څخه دی او زه د هغه څخه یم، او هغه به حوض کوثر ته زما خواته راځي.

مجاهدينو ورونو!

طالبانو په خپل تاریخ کې دا خبره بار، بار ثباته کړې ده، چې دوی هر چاسره پیمان کړې، بیا يی عهد او پیمان مات کړی، صرف د دوی وفاداری isi ته ثابته شوی چې نن سبا دا د وفا دایره د دوی د نورو کفارو په شمول تر امریکا غځیدلی ده.

نور غیر د کفارو څخه چې دوی چاسره د اسلام یا افغان او یا هم د هم وطن په نوم عهد کړی ، خو بیا يې له شا څخه په خنجر همدا افغان او همدا خپل هم وطن وهلی دی،تاریخ ددې شاهد دی.

مسلمانانو ورونو! د طالب او امریکا اړیکو په اړه مو تر دې ځایه بحث ولوست اوس دلته یوه بله پوښتنه چې هر چا سره ده جواب يې وایو:

سوال : امریکا ولې طالبانو سره کومک کوي علت څه دی ؟

جواب : الله تعالی فرمایي:

وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم. [البقرة: ١٠٩] ژباړه: زیاتره اهل کتاب دا غواړي چې تاسې له ایمان نه بېرته د کفر لوري ته وګرځوي، د خپل نفس د رخې له امله ستاسې له پاره داغواړي.

د کفارو همیشنی کوشش او حرص همدا دی، چې مسلمانان د ارتداد په خیمه ورننباسي او دې کار لپاره هرې قربانۍ ته تیار دي، نظامي او هر اړخیز د فشار آفشنونه استعمالوي بیا يي چې له خپلې دعوې لاس په سر کړې بیا درسره مالي کمکونه کوي ، ترڅو دې ټول په ټوله د کفر په ملت کې ورګډ نه کړي ، لهذا د کفارو ټول فعالیت د مسلمانانو د بې ایمانه کولو لپاره دې ، ددوی یوه ښیګڼه هم د مسلمانانو په خیر نه ده هر څه کې يي خپل یو هدف وي دا د قرآن کریم خبره ده.

مسلمانان لپاره په کار دي، چې خپل ایمان کلک ونیسي د کفارو هره لوبه او مکر شنډ کړي ، یا به کفارو ته تسلیمي او هغوی سره اندېوالي انتخابوي او یا به ایمان انتخابوي په یوه وخت د دواړو انتخاب نه کیږي ، که يي اندېوالي کوې نو بیا به يي اوامر هم منې بیا به ددوی پروژه يي بیا به درته د میلوني ډالرو کڅوړې راورواني وي ، خو له ایمانه به خلاص يي او حشر به دې هم د همدغه کفارو سره کیږي .

کفار په دې پوهه دي چې مسلمانان برحق دي او دوی سره د الله تعالی وعده ده چې دوی ته به الله نصرت ورکوي، نو دا کفار خپل ټول مالونه د همدی لپاره مصرف کوي او د تش په نوم مسلمانانو په اختیار کی ورکوي، تر څو د مسلمانانو ایمان ضعیف کړي.

د کفارو ددې ټولو کومکونو اساسي هدف همدا دي ، چې غواړي په دې سره د مسلمانانو ایمانونه خراب کړي ، چې د همدې حربې په وړاندې يي ډیرې لکه د طالب په څېر ددوی دغه اصل ته غاړه کیږدي او څوک بیا خپل استقامت کوي ، او ددوی هیڅ فشار ، تمو او کومکونو ته سر نه ټیټوي لکه د اسلامي دولت زمري .

نو ورونو کفار هیڅکله دا کومکونه پرته له کوم هدف همداسې مفت چاسره نه کوي ، خه چې داسې ده نو دا کومکونه بیا د څه لپاره کوي؟

او آیا ددې کومکونو اخستل جائز دي که نه ؟.

اول: دا ټولې مؤسسې چې کومکونه کوي، په شمول د سره صلیب ... دا ټول د بین الملل غړیتوب لري ، دوی ټول د بین الملل د امر تابع دي او بین الملل د مسلمانانو سره په جګړه کې واقع دي نو ددوی څخه کومکونه اخستل جائز نه دي.

دویم: دا مؤسسات د صلیب سرخ په شمول ټول د نصراني سازی پروژې دي ، ددوی کومکونو ترشا د نورو ګڼو اهدافو تر څنګ یو هم د نصراني کیدو پروسه ده ، په ځانګړې ډول نالوستې قشر په دې نه پوهیږي ددوی پټ هدفونه خورا زیات دي دوی سره روابطو څخه ځان ساتل په کار دي او باید دا کومکونه يي رد شي .

دریم : دا مؤسساتو د بشر دوستانه او د خیرخواهۍ او همدردۍ شعارونه د خلکو د جلب لپاره کاروي بلکې اساسي هدف يی نصراني سازي ده ، دا شعارونه يي وسیله ده ، مسلمان که له لوږې مري هم دغه ذلت او د عیسویانو تلپاتې احسان به په ځآن نه مني ، دا عوامو مسلمانانو ته داسې دي لکه په شهدو کې زهر .

څلورم: سور صلیب (صلیب سرخ) چې

عربي مملکتونو کی ورته هلال احمر وايي دا يو سازمان دې، چې د ١٦٢ کاتوليکي تحالف څخه راجوړ شوی دی ،هدف يي نصراني سازی ده ٢٠٠ مملکتونو کی فعاليت کوي ٢٢٠ زره کاريګر لري چې په نصراني عقيده يي تربيه کړي دي ، ټول کار يی مستقيم او غير مستقيم نصراني سازۍ ته کار دی ،چې فقير او بيچاره کسانو ته د بشر دوستانه مرستو په نوم خپل زهر پاشي ، او همدې مرستو کې يي هم د صليب شنه علامه لګيدلی ده .

پنځم: همدې کومکونو او بشر دوستانه مرستو په چوکاټ کې چې يو برخه يې ادويه او د واکسين شعبه ده، د واکسين او نورو خيراتي دواياتو په نوم داسې مضرې ادويه توزيع کوي چې ټول خلک ددې دواياتو په ضرر باندې نن سبا خبر شوي دي، که هغه د فلج په نوم واکسينونه دي او که نور ورته واکسينونه دي ځکه نو صرف محدودو مملکتونو کې چې اکثريت يې مسلمانان او فقيره طبقه ده، دا واکسينونه او خيراتي ادويه جات توزيع کيږي.

شپږم : ددغه مؤسساتو په کارکونکو په بار ، بار کفارو ته جاسوسي ثباته شوی ده، دوی خپل راپورنه هميشه صهيونيزم ته ورکوي ، د فلسطين په شمول اکثره اسلامي مملکتونو کې دا ثابته شوې ده ،چې د دوی کارمندان د جاسوسی پروژی مخ ته وړي او تکراري په جاسوسی کې ګير شوي دي .. د بيلګې په توګه به اووايو چې رافضي ايران بار بار دا خبره وکړه چې اسرائيل ، انګليس او امريکا د صليب سرخ چوکاټ کې جاسوسان راليږلي ول چې دوی کې بيا د نازنين زاغري ايراني الأصله بريتانوی د ايران استخباراتو په همدی جرم ونيوله چې د انګليس استخباراتو (M_I_6))ته يې جاسوسي کوله او د صليب سرخ کارمنده وه. تاسې لږ فکر وکړئ چې دا ايراني الاصله بريتانوي جاسوسه همدې لپاره ايران ونيوله چې صليب سرخ سره يې د ماين ګذارئ بخش کې همکاري کړې وه او نور کوم فعاليتونه يې چې د صليب سرخ چوکاټ کې کړي ول د ټولو هدف يې د معلوماتو لاس ته راوړنه وه نو اوس اووایاست چې دوی خدمت ته راځي که خپل اهدافو تعقيب لپاره راځي. ولو که د هدف لاس ته کولو په پار د خلکو د وژلو پروژه هم پرمخ بيايي نو ډير مهارت سره قدمونه اخلي. نو آيا دغه نجسه طائفه به اسلامي هيوادونو ته مخلصين خلک راوليږي ترڅو د اسلامي ټولني کامله درملنه او خيرخواهي وکړي ؟ که جواب منفي و خو پرضد يې عملي اقدام پکار دی، او که د چا په ذهن کې جواب يې مثبت وي نو د رب کلام سره بيا څه کوئ ؟

وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا وَمَنْ يَرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (٢١٧) سورة البقرة.

ژباړه: هغوی به له تاسې سره تل په جنګ اخته وي آن تر دې چې که

يې وسه ورسيږي، نو تاسې به له دې دين نه واړوي او له تاسې نه چې هر څوك له دې دين نه واوړي او د کفر په حالت کښې ومري، د هغه عملونه به په دنيا او اخرت دواړو کښې بابيزه او ضايع شي داسې خلك ټول دوزخيان دي او تل به په دوزخ کښې اوسيږي.

هو، کوم کارمندان يې چې مخلص وي هغوی نصرانيت او سيکولرزم ته مخلص وي، لهذا دا سازمان د اسلام سرسخته دښمن دی نو دې کسانو سره هيڅ نوعه رابطه پکار نه ده او نه هم د دوی کومکونه قبوله ول پکار دي، د صليب سرخ مرکز سويس کې دی او تاسيس يې هم د سود په پيسو شوی دی ځکه د دې سازمان مؤسس او موجد يو نصراني بانکدار و.

لهذا د دوی پر وړاندې به يوازې د قتل او قتال لاره پرانيستي او بس ترڅو د دوی د شومو اهدافو او استخباراتي پلانونو څخه مونږ تاسې وژغورل شو.

مونږ تاسې وليدل چې تيره شل کلنه دوره کې همدا صليب سرخ د طالبانو او امريکايانو ترمنځ آزاد و، هم به د طالب صف ته ورتللو، د هغه زخمي به يې شفاخانې ته او مړي به يې مرده خانې ته منتقل کول او هم به يې د امريکايانو خدمت کاوه، نه طالبانو پرې کار درلود او د امريکايانو خو خپل خلک و. د جنګ په لمړی کرښه کې هم دوی د امريکايانو په نفع معلومات راټولول او طالب جنګيالي يې په لوي لاس د امريکايانو اسارت ته ورکول، آن تر دې چې په کره شواهدو سره ثابته خبره ده چې کوم زخميان د صليب سرخ شفاخانو کې تداوي کيدل، د هغوی څخه لاسونه يا خپې يا نور اندامونه قصدا عمدا پرې شوي دي ترڅو دوی بيرته د جګړه ډګر ته ستانه نشي او ټول عمر

معذوره تير کړي. خو طالب د دې هر څه باوجود هم په سترګو لاسونه يخي دي.

نو د کفارو داسې کومکونه هميشه غير مستقيم وي، تر څو خلک د دوی په مخفي اهدافو باندی پوه نه شي او ورسره کوم حساسيت ښکاره نه کړي، نو مسلمانانو ته لازمي ده چې د داسی کومکونو څخه ځانونه وساتي.

د روسانو ديرغل پرمهال هم امريکې د پاکستان له لارې همدې ۷ تنظيمونو ته کال کې ۷۰۰ ميلونه ډالر د کومک او په نورو نومونو ورکول .

خو طالبانو دا خلک ټول د استخباراتو کړی معرفي کولې، خو نن بيا طالب ته چې د کال تقريبا دوه ميليارده (يو ميليارد او ۹۲۰ ميليونه دالر) کومک د همدې امريکا لخوا راځي، بيا دوی سوچه مسلمانان دي او دا پيسی لکه د غوا شيدی ورته حلاله دي.

يو طرف اسلام ځانته عالمي دين وايي او بايد د نړی رهبري وکړي او بل طرف يې مقابل کې نصرانيت او سيکولاريزم ولاړ دی او هغه هم همدا دعوه کوي چې بايد د نړی رهبري موږ وکړو که هغه په ديکتاتور عيسويت باندې کيږی او که په بې ديني (سيکولاريزم) باندې کيږي خو بايد د نړی هر ملک زموږ د جغ لاندې وي او د دوی هر مشکل او فيصله موږ ته راجع شي.

نو کله چې داسې دعوا دواړه طرفه لري نو د رهبری ترڅنګ د ټولنې نبض لاس کې ساتلو لپاره عامه خدمات وړاندی کوي چې نن سبا د ټولو عامه خدماتو رهبري د بين الملل نظارت لاندې او د صليب سرخ په چوکاټ کې مخته کيږي او ويشل کيږي.

بل تعبير باندې ويلی شو چې صليب سرخ د کفارو د رهبری لپاره يوه زمينه سازي او د خلکو ذهن سازي کوي او د مبارزې او مقابلې احساس يې د څو روپو کومکونو په ذريعه خاموشه کوي او له منځه يې وړي.

حتی له يوې خوا همدا د اسلام دښمنان، مجاهدين اسيرانوي، خو له بلې خوا نه د دوی هم فکره کسان رازي او همدې اسير ته ډوډۍ او البسه او د فاميل سره د تماس نيولو په پآر زنګ وغيره خدمات وړاندې کوي، هغوی ته ځان بشر دوستان معرفي کوي، حتی تر دې که څوک غواړی خپل قريب اسير او مظلوم ورور سره کرغيړن او مخفي زندان کې ملاقات وکړي نو دا کار درته صليب سرخ کوي، دا ولې ؟

دا ځکه چې سبا بيا دا هم هر ميدان کې د همدې صليب سرخ صفتونه شروع کړي او دا نظر او فکر عام کړې چې هو دوی سره کار مه لرئ، دوی بې طرفه دي، داسې او داسې احسانات يې يو وخت اسيرانو سره کول!!

چې همدا احسانات او خدمات وړاندی کول هم د دوی يوه برنامه

او د اصلي اهدافو ترلاسه کولو لپاره د ښکاري دام دی.

سوال : نو په داسې حال کې بیا طالبان ولې وايي چې خلافت د امریکا پروژه ده او د امریکا خلک دي ؟

لمړۍ ځواب : دې مرتدینو ته وایو چې د اشرف غربي حکومت د چوکۍ لاس ته کولو سره مو ټول دار او مدار په امریکا وپلوره ، عزتونه مو په امریکايي بازار قطر کې لیلام کړل، په دې خاطر چې د افغانستان قدرت تر لاسه کړئ، خو دا خبره به مو هم ورسره کړې وی چې دا داعش (!) ته هم وواییې مونږ سره نور کار ونه لري او له امریکا به مو دا هم غوښتې وې چې ستاسې په اصطلاح خپله پروژه (!) داعش هم ځان سره یوسي لکه څنګه چې امریکا مخکښي ټول مامورین خالي سلا او بې مسولیته کړل او مسولیت یې تاسې ته وسپاره داسې به یې له داعش هم هر څه اخستې وې کنه ؟

امریکا سره د اسلامي خلافت د مثالي جګړو شدت ته خو ټوله نړۍ ګوته په غاښ حیرانه ده . عجیبه ده د امریکا پروژه د اسلامي خلافت مجاهدین دي په داسې حال کې د اسلامي خلافت د همدې امریکا په چاپو او بمبارونو کې شهیدان شول ، د خراسان په سلګونو مشران او په زرګونو کشران د همدې امریکا په بمبارونو کې په شهادت ورسیدل ،د زرګونو کروزنو او بې حسابه درنو بمونو بمبار یې د اسلامي دولت په خاوره له هیچا پټ نه دې ،هغه چې تاسې ترې د خپلو عسکرو دیوال تاوو کړې وو او ۱۳ امریکایان همدا ستاسې منځ کې د اسلامي دولت زمرو ووژل او ۱۸ نه یې زیاد شدید زخمیان کړل دا به څنګه او په څه طریقه له چا پټ کړئ .

امریکایان خو اوس ستاسې د ادی زامن شول ، نو خپلو امریکایی ورونو او خاله زامنو ته مو وواییې کنه چې داعش ته خبره وکړئ چې دا عملیات دربانده بند کړي، تاسې خو وایې دا د امریکا خلک دي، او امریکا ته هم تاسې شکست ورکړی دی .

یو چینل کی خو ورسره رابطی هم تاسې لرئ، مجلسونه هم ورسره تاسې کوئ ، پټې استخباراتي ناستې هم ورسره ستاسې رواني دي ، د ډالرو کڅوړې هم تاسې ته رالیږي ، یو ځای ورسره سفرونه او خوراکونه هم تاسې کوئ ، د رسمیت زارۍ هم ورته تاسې کوئ ، د سفارت د راوړلو ننواتې ته هم تاسې قطر ته ورځئ ، او د امریکا پروژه داعش شوه ؟

دا به درسره کوم عقل او کوم منطق ومني .

نو که داعش د امریکا خلک دي بیا ولی دا خبره ورسره نه کوئ، تاسې اشرف غربی سره خبری نه کولی چې دا کس د امریکا غلام دی، خو تاسې په غلامۍ کې مخکې والې وکړ اشرف غربي مو راوروسته کړ تاسې ورمخ ته شوئ ، اوس نو خپلو امریکایي بادارانو ته وواییې چې د داعش عملیاتو څخه هم نجات درکړي ، اوس خو درسره امریکا په شریکه د اسلامي خلافت د ختمیدو لپاره لاس په کار ده ..

دلته بله خبره دا ده دوی چې وایي مونږ امریکا ته شکست ورکړ او بیا وایي داعش د امریکا خلک دي او مونږ باندې عملیات کوي، نو بیاخو ستاسې ادعا باطله شوه امریکا شکست ونخوړ ځکه د امریکا خلک داعش(!) اوس هم تاسې باندی عملیات کوي او تاسې بیا د همدی امریکایانو لمنه نیولی وي،کله قطر ته ورمنډی وهئ او کله یې بیا اسلام برباد ته .

یو طرف وایی امریکا ته مو شکست ورکړ، بل طرف د امریکا خلک مو روزمره وژني او تاسې اوس

هم د همدی امریکایانو حفاظت کې لکه د لیونیو سپیو هر لور ته خولې اچوئ او شپه او ورځ همدې امریکا چوکیداري کوئ .

نو بیا تاسې ډیر بیغیرته قوم یاست چې هم اوس مو امریکایان وژني او بیا هم امریکایانو ته سوال او زارۍ کوئ له دوی ساتنه کوئ او بیا دا خبرې هم کوئ چې داعش د امریکا خلک دي، داعش چې تاسې وایئ د امریکا خلک دي، همدې داعش میدان هوایی کی ستاسې د امنیتی کمربند باوجود ۴۰ پوری امریکایان مرداران او زخمیان نه کړل ،اوس بیا هم مونږ د امریکا خلک او تاسې امریکا ته شکست ورکونکي یاست.

امریکا ته خو اوس تاسې له هرې لارې د دوستۍ پیغامونه ورلیږئ امریکا ته د دښمن په سترګه نه ګورئ،د دوستۍ لاسونه ورته وړاندی کوئ، نو بیا دا داعش (!) چې د امریکا خلک دي، دوی سره ولې دښمني کوئ؟

ولی شکست خوړلې امریکا ته نه وایي چې دا داعش خیر که په عذر او زارۍ هم وي درمنعه یې کړئ ، ورته وواییې چې صرف موقت څو ورځې مونږ باندې عملیات بند کړي ؟ که نه بیا ستاسې دا ادعا چې امریکا وتلې ده ، باطله ادعا ده، ځکه بیا خو وتلې نه ده کسان یې اوس هم تاسې وژني!

امریکایی طیارو کی تاسې ښکته پورته کیږئ، د دوی ساتنه کې تاسې مصروف یاست دوی سره

خه روابط تاسې غواړئ، دوئ
له تاسې تقاضاوې لري، له
دوئ تاسې غوښتنې لرئ ، دوئ
ته تاسې د سوال او زاریو لمن
غوړولې ، له دوئ رسمیت تاسې
غواړئ ، دغه د امریکا ډاکو قوم
ته دنجیب قوم او نورو غوړو
القابو په استعمالولو کې خولې
سترې دي ،دوئ ته تاسې وایې
چې سینه مو پراخه کړئ ، دوئ
ته تاسې وایې چې زمونږ طرف
نه درته امن دی.

دوئ ته تاسې وایې چې زمونږ
خاوره به ستاسې مقابل کې
استعمال نه شي. دوئ اوس هم
ستاسې د قطر د دفتر او هلته
میشتو مشرانو د ساحلونو او
سالونونو د عیاشیو خرڅې
درکوي. د دوئ په اجازو اوس هم
تاسې سفرونه کوئ.

د دوئ رالیږلي معاشات اوس هم
تاسې په خپلو منځونو کې
ویشئ.

ددوئ په طیارو کې همدا تاسې
ټیټ سر سفرونه کوئ.

ددوئ دروازو کې تاسې په زاریو
او بغارو اخته یاست.

ددوئ د جاسوس خانو د رانتقال
په زاریو ستاسې خولې سترې
شوې.

د دوئ ټول پټ او ښکاره اهداف
تاسې عملي کوئ .

دوئ ته دوستان تاسې وایې او
افسوس ډېر افسوس .

آخر بیا د امریکا خلک او د امریکا
پروژه موږ شو؟

نو بیا هم تاسې امریکا ته
شکست ورکړی دی او تاسې د
امریکا خلک نه یاست .

چا چې ورسره هر میدان کې د
جګړې اعلان کړی دی ؟

هر ځای کې که په لاس ورشي
وژني یې او د کفارو یو قانون نه
مني، عملي یې تخریب کړی او
سرغړونه یې تري کړې .

هغه خلک چې بین الملل ته
طاغوت وایي او دغه کفري اصولو
ته غاړه نه ږدي او کفری نهادونو
په نوم یې یادوي هغه خلک
چې کشر نه تر مشر پورې د
نړۍ د کفارو او ورسره د تربیه
شویو سپیو د ښار لاندې دي او
ددوی لټون پسې سرګردانه دي نو
دا خلک به د امریکا پروژه شوه؟

بله خبره دا ده ورونو چې پروژه
تر شاه بودیجه غواړي، هر څوک
چې یو پروژه ورکوي، نو تر
شاه یې بودیجه هم ورکوي، بیا
څوک چې غواړي دا پروژه تطبیق
کړي ، د پروژې دمالک او صاحب
له لوري ورته قسط واره بودیجه
ورکول کیږي .

او دا د قسطونو مقدار هم ورته
هغه وخت د پروژې مالک ور
زیاتوي ، کله چې د خپلې پروژې
د تطبیق څخه مطمین شي او پوه
شي چې هو څه کار شوی دی ،نو
بیا هماغه د خپلې پروژې د تطبیق
په خوشحالی کې دپروژې تطبیق
کونکي ته زیات مقدار پیسې
ورکوي مخکې یې که اونی کې
یوه کڅوړه ورته رالیږله بیا ورته
د ورځې یوه کڅوړه رالیږي او
کله، کله ورته یو شاباسې هم
ورکوي.

نو نن تاسې وګورئ چې امریکا
چاته بودیجه ورکوي؟

دا هفته یې کڅوړې چاته را
روانې دي؟

هغه چاته چې پروژه یې ورته
عملي کوي او مخ ته بیایي او که
نه هغه چاته چې د پروژو مخه
یې نیسي او پروژې یې عملي
کیدو ته نه پریږدي؟

او تاسې دا هم وګورئ کومه هفته
چې د خلافت مجاهدین شهیدان
شي، بیا هغه هفته امریکا خپلو
ملیشو ته هفته کې دوه ځله
۴۰ میلوني کڅوړې رالیږي، چې
۴۰ یې معاش او ۴۰ یې بیا یو
شاباسي ورکول وي، او سم ترینه
خوشحاله شي ،یو ځل یې هم بیا
دوحه ته غواړي او ورته وایي
هو همداسې مخ ته لاړ شئ او
همدې کیفیت او منوال باندې د
پروژې تطبیق روان وساتئ .

نواوس یو څوک درته پروژه
درکړي، نو ته له هغې څخه مال
اخلې او که جنګ ورسره کوې ؟
څوک چې تاته پروژه درکوي
هغه بیا درسره جنګ کوي، که
کومک درسره کوي او رهنمایي
درته کوي، وخت په وخت درڅخه
راپور غواړي او خپل دفتر ته دې
د حساب ورکولو لپاره غواړي ، او
دا مالومات درڅخه کوي چې آیا د
نقشې مطابق تللي یې که نه ؟.

اوس خلافت مجاهدین د امریکا
پروژه شوه چې هر وخت امریکا
او ورسره هر کافر ته د کلاشنکوف
په شپیلۍ ځواب ورکوي او که
مرتد طالبان شول چې ورسره
پټې او ښکاره ناستې کوي او
پرې ډالر شیندي؟

خو معلومداره خبره ده، چې
هفته په هفته خپل د پروژې
تطبیق لپاره خپل مزدورو ملیشو
ته مرسته رالیږي او بیا راپور
ورکولو لپاره یې دوحې ته
غواړي او راپور ته یې د نقشې
مطابق نظر کوي چې په همدغه
نقشه تللي دي که نه ، په کوم
ځای کې چې ترې لږه بې
غوري شوي وي نو غوړونه یې
ورتاووي او بیرته یې رالیږي چې
د نقشې مطابق درست کار وکړئ ،
طالب ته وایو چې خیر مزدوری
کې شرم نشته دی، همدا لاره
موچې مزدورۍ (پیسو ګټلو) ته
انتخاب کړه، بیا شرم مه کوئ،
علني اعلان وکړئ، هسې مو ولې
سترګی مړی دي نو .

د طالب مرتدینو ځینې کشرخیل وآیي چې دا ډالر او نوري مرستې مستقیم دولت او موږ ته نه راوکول کیږي، بلکې، خپله مؤسسات یې مصرفوي، خه اوس دا خاوره ستاسې ده که د خارجي مؤسساتو، چې په دومره لوړه کچه مصارف کوي ؟

همدا خبره موږ کوو چې اوس هم د افغانستان واک خارجیانو سره دی، نو تاسې داسې خبرو سره غیر مستقیم اعتراف کوئ او چیغې وهئ چې هو دا پیسې خپله مؤسسات تقسیموي او موږ یې امنیت نیسو، خه دومره صلاحیت او استقلالیت دی موسیسو ته چا ورکړ؟ ستاسې خدمت بیا رعیت ته څه دی ، چې حتي کالي او ډوډۍ پوري دا کفري مؤسیسې ورکوي ؟

د مؤسیسو رئیسان او مشران چیرى دي او کوم ملک یې تمویل کوي، دا مؤسسات دا پیسې له کومه کوي .

خپله دپیسو د چاپ ماشینونه لري که څنګه ؟

او په دي نوره نړی کي هم کفار شته دی که نه، چې هغوی خپله له لوږې مري ، خو بیا راځي دلته د افغانستان کونج، کونج ته،لاس په لاس خپل کومکونه ویشي، که دا مؤسساتو والا دومره شریف او با احساسه خلک دي، نو دا دومره وخت مو ولې وژل ؟ تاسې تیر جمهوري نظام د کفارو نظام ګڼه ، او دا خبره مو کوله چې دلته واک د کفارو لاس کې وه او افغان مرتدین یې صرف امنیت ساتي، هغه وخت خو همدې مؤسپساتو د دولت څخه بیخي مستقل خپل کار کولو او دولت سره یې تر ډیره په ډیرو مواردو کې تړاو نه درلود ، نو بیا مو ولې هغه وخت دا خلک وژل چې نن تاسې وایې دا خلک زموږ دولت سره تړاو نه لري مستقل کار کوي ، نو ددی کار زمینه ورته چا برابره کړي ، دا امنیت یې څوک ساتي ؟

دی مؤسپساتو چې مخکې د جمهوریت وخت کې خپل مستقل کار کولو هغه وخت کې تاسې د کفارو د جواسیسو او د نصرانیت د پروژو په نومونو یادولې ، نن بیا چې په هماغه اصولو باندي خپل کار مخ ته بیایي او مستقل خپل کار کوي، دومره تاسې ته اهمیت نه درکوي، چې پیسې هم په خپل لاس تقسیموي ، نو بیا خو خپل د کار او مخفي اهدافو باره کې خو بیخي تاسې سره خبري هم نه کوي، او نه اهمیت درکوي او نه حسابي درکوي او نه مو کیسه کې دي، بیا د دوی دي کار ته څنګه اوس جواز ورکوئ ؟ بل دلته سوال دا دي چې ولې دي مرستو باندې تاسې شرمیږئ، کله تاسې وایې چې دا زموږ حکومت ته نه ورکول کیږي، څکه د امریکا کومک دی او مستقیم یې موسیسات تقسموي، نو حتمی کومه شبهه لري، چې تاسې ترینه خپل ځان مستثنی کوئ، نو چې خپله په دی خیرات شرمیږئ، ولې بیا اجازه ورکوئ چې راشي ستاسې د حکومت مشروعیت او هر څه د سوال لاندي راولي ، چې یو حکومت خپلو خلکو ته ډوډۍ نه شي ورکولاې، او کفار وایي چې موږ د اروپا څخه خیرات راتول کړی او تاسې ته مو رسولی دی نو بیا ولې د کفارو پیغور باندې نه شرمیږئ ؟

ای شرمیدلو!.

تاسې وجدان او غیرت لرئ که نه ؟

عامو مسلمانانو ته وایو چې د کفارو د پروژو او دسیسو ښکار نه شئ او نه هم د طالب غورو غوړو خبرو باندې تیر وځئ ،خپله د خپل ایمان غم وکړئ، نن خو طالب دا هر څه د اسلام او دین په نوم کوي، خو تاسې پوه شوئ چې کومه لاره طالب انتخاب کړی ده، دا کعبې ته نه ، بلکې امریکې ته تللې ، نو د مرتد داکتر نجیب وخت کې هم موجوده حکومت ٢٠ زره علماؤ ته معاش ورکاوه، چې د حکومت په نفعه او د مخالفینو په ضد تبلیغات وکړي، د دوئ اصلي وظیفه همدا وه چې ټول مخلص مجاهدین د ای ایس ای د لاس اله معرفي کړي او جګړه وطني کړي، یعني اسلامي شعارونه او مفاهیم ترینه لرى کړي او صرف د وطن د آبادۍ سندرې زمزمه کولې، خلکو ته به یې دا ذهنیت سازي کوله چې مجاهدین د وطن تخریب کوي او کمونسټ حکومت وطن جوړوي ، دا د علماء سوء پروژه بیا د اشرف غربي د حکومت پرمهال هم فعال وه او دا دي اوس هم همدا عملاء لګیا دي خپل کار کوي د طالب هر کفر توجیه کوي او ورته مشروعیت ورکوي، نن د طالبانو څخه هم د اسلام آبادي هیر ده، د وطن د آبادۍ ترانې زمزمه کوي او سلګونه علماء سوء همدا ببولالې وایي چې جګړه بس ده ، جګړه وبجاړې ده او نور دا وطن آباد ول غواړي .

مجاهدینو وورنو ! په یو څه چې ډیر زیات مطمین یو هغه داده چې الله عزوجل د مؤمنانو هر دښمن ځیې خو ظالم دښمن ته یې سخته عبرتناکه سزا ورکوي او داسې نیست نابود کوي چې په تاریخ کې ډیر مثالونه شته ، ظالم ته الله عزوجل ډیر مهلت نه ورکوي..

قال تعالى: **فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنْبِهِ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٠﴾** سورت العنکبوت

ژباړه: په پای کښې مونږ هریو دهغه په ګناه سره ونیوه، بیا له هغو نه په چا باندې مونږ کاڼي اوروونکی باد ولیږه، او څوک یوې قوې چاودنې ونیول او څوک مو په ځمکه کښې ننویستل او څوک مو غرق کړل.الله پر هغوی باندې ظلم کوونکی نه ؤ، مګر هغوی خپله پر خپل ځان ظلم کاوه.

وورنو! کوشش وکړئ چې د حق د لارویانو پلوي وکړئ د باطل په مقابل کې د حق لن ونیسئ د باطل دغه زور او قوت تل الله عزوجل د کمزورو مؤمنانو په لاسونو مات کړې کله چې هم باطل خپل مغرور سر اوچت کړي الله ذلیله کړي دي .

علماؤ د موسې علیه السلام او فرعون د دښمنۍ هغه اصل همدا لیکلې چې په دې سره الله عزوجل کمزورو مؤمنانو ته دا بشارتونه او زیري ورکوي چې هر څومره قوي دښمن ولرئ ماسره داسې قدرتونه او طاقتونه شته چې له یوه مخه یې له منځه وړلاې شم .او ددوئ زړونه د ډار او رعب څخه ډکوم .

قال تعالى : **وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ ﴿٥﴾ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا يَحْذَرُونَ ﴿٦﴾** سورة القصص

ژباړه: او مونږ دا اراده درلودله چې پر هغو خلکو مهرباني وکړو چې په ځمکه کښې ذلیل ګرځول شوي وو او هغوي رهبران وګرځوو او هماغوي وارثان وګرځوو. او په ځمکه کښې حکومت ورکړو او له هغو نه به فرعون او هامان او دهغو لښکرو ته همغه څه وروښیو چې له هغو سره یې ویره وه.

نو ورونو دا ورځې به بدلی شي او د مجاهدینو وار به هم د رب العالمین په مدد سره راشي خو دا سو ورځو کې خپل د ایمان تحفظ وکړئ او د الله رب العالمین د نصرت راتلو نه مه مایوسه کیږئ، داسې او بلکه د داسې ورځو نه ډیرې سختې ورځې زموږ رب العالمین په جناب رسول الله صلى الله علیه وسلم باندې او د هغه لارویانو باندې راوستلې دي نو نن زمانه کې دي سختو ورځو په امتحان کې موږ او تاسو واقع شوي او انتخاب شوي یو بس صبر به کوو او خپل فعالیت ته به ادامه ورکوو نتیجه په فعالیت باندی الله رب العالمین مرتب کوي، ان شاء الله. وما علینا الا البلاغ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ،أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ،أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ.

مدارات که موالات

مدارات که موالات

مقدمة:

الحمد لله، والصلاة والسلام على رسولِ الله، وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد:

لـله الحمد چې اسلام يو کامل دين او نظام دی، خپلو پيروانو ته يې دنيوي ژوند کې هغه ټول څه بيان کړي چې دوی ورسره مخامخ کيدونکي وي، او ټولو مسائلو لپاره يې علاج ورښودلی، حدودات او ضوابط يې ورته وضع کړي، که هغه اجتماعي دي که انفرادي، که د عقيدې په برخه کې دي او که د اعمالو، که د مسلمانانو سره تړاو لرونکي مسائل وي او که د کفارو سره، هغه څه چې حلال دي او هغه څه چې حرام دي، هغه څه چې انسان سره لائق دي او يا غير مناسب، پدې ټولو برخو کې رب العالمين د حکمتونو څخه ډک قوانين راليږلي، نو په همدې اساس لله الحمد زمونږ دين کې د کفارو سره معاملات، هغوی د مسلمانانو ملکونو ته راتګ، او هلته اوسيدل، هغوی سره صلحه او امان ورکول، او د رب په خاطر ورسره دشمني کول ټول هغه مسائل دي چې زمونږ دين پټ نه دي پريښي او شکاره احکام يې پکې راليږلي، دا چې هر عصر کې د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم د وينا موافق، (کذابين او دجّالان) موجود وي او په عامو خلکو دين ګډوډوي، نن له هماغه جملې څخه وثني مشرک طالبان دي چې د مسلمانانو په سترګو کې خاوري اچوي، محارب کفار ورته معاهد معرفي کوي، موالات او دوستي ورته د مداراتو (د کفارو سره د دعوت په خاطر نرمۍ) سره تعبيروي، او موالات او د کفارو په نيابت کې د حق پرسته مؤمنانو پروړاندې جګړه او د هغوی استخباراتي اهدافو پوره کول بيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د معاهدو کفارو سره د تجارت او صلحِ سره مشابه کوي!

د الله تعالى په توفيق سره په همدې مقاله کې د دې خبرې وضاحت کوو چې موالات او مدارات څه ته وايي؟ د طالبانو نني تعلقات د کفارو سره موالات دي که مدارات ؟

او د کفارو سره تر کوم حد تجارت او تعلقات روا دي؟ او ايا د طالبانو دا کفري او بدنامي کړنې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د کفارو سره د تجارت په څېر دي که نه خپل کفر اوس پدې خبرو پټوي؟

و بالله عزوجل التوفيق.

اول بحث: موالات

تعريف المُوَالاة:

د دوستۍ تعريف.

١ـ ابن تيميَّة - رحمه الله فرمايي: «(الولاية) ضد العَداوة، وأصل الولاية المحبَّة والقُرب، وأصل العداوة البغض والبعد،(مجموع الفتاوى: ج11/160ص)

يعني (ولاية) دوستي ضد د دشمنی ده او د (ولاية) دوستۍ اصل محبت او نږدې والی دی. او اصل د دشمنۍ کينه او لری والی دی.

الموالاة اصطلاحا: هي التقرب وإظهار الود بالأقوال والأفعال والنوايا، (مفهوم الولاء والبراء: ج 1 / 6ص)

ژباړه: دا نږدې والی، او د محبت او مينې اظهار کول دي په اقوالو او افعالو، او نيت سره .

صوَر الموالاة :

د موالاتو (دوستۍ) صورتونه:

د کفارو سره د موالاتو او دوستانې مختلف صورتونه او شکلونه دي چې قرآن او سنت د هغې بيان کړی چې د هغې له جملې څخه .

اول: الحب والمودَّة:

د کفارو سره محبت او مينه ساتل.

کوم خلک چې د کفارو سره محبت او مينه شروع کړه، طبعا د هغوی دين، عقائدو او اعمالو څخه متأثره دي، هغه ورته غوره ښکاري، نو داسې خلک د موالاتو په حکم کې دي او د دوی څخه الله تعالى ايمان نفي کړی،

الله تعالى فرمايي: لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ... [سُورَةُ المجَادلة : 22]

ژباړه: ته به هيڅکله دا ونه مومې چې کوم خلک چې پر الله او اخرت باندې ايمان لرونکي دي، هغوی دې له هغو خلکو سره مينه کوونکي واوسي، چې د الله او د هغه د پيغمبر مخالفت يې کړی دی، که څه هم د هغوی پلرونه وي، يا د هغو زامن وي، يا د هغو ورونه وي يا د هغو ټبر او کورنۍ وي.

ابن تيميَّة رحمه الله فرمايي : «ونظائر هذا في غير موضع من القرآن، يأمُر - سبحانه - بمُوالاة المؤمنين حقًّا، الذين هم حِزْب الله وجُنده، ويُخبر أنَّ هؤلاء لا يُوالون الكفَّار، ولا يوادُّونهم. (اقتضاء الصراط المستقيم» ص48، (ط. دار الحديث).

ژباړه: د دې پشان مثالونه قرآن کې ډيرو ځايونو کې شته چې الله سبحانه وتعالى امر کوي په دوستۍ د ريښتينو مؤمنانو، هغه چې د الله جماعت او د هغه لښکر دی، او (الله تعالى) خبر ورکوي چې دا خلک (مؤمنان) د کفارو سره دوستي او محبت نه کوي.

دوهم: مظاهرة الكافرين، وإعانتهم، والتجَسُّس على المسلمين، وإفشاء أخبارهم وأسرارهم، وكشْف عوراتهم لأعداء الدِّين، والفرَح لِمُصاب المسلمين، والحزن لنصرهم، وتمنِّي هزيمتهم، والسعي لذلك بالقلَم والمال والنفْس،

د مسلمانانو په مقابل کې د کفارو سره نصرت او مدد کول ، هغوی ته د مسلمانانو تجسس کول ، د مسلمانانو خبرونه او رازونه ورته افشاء کول، او د دين دښمنانو ته د هغوی څخه پرده پورته کول ، ، د مسلمانانو په مصائبو خوشحاله کيدل او د هغوی په نصرت خفه کيدل، د مسلمانانو د شکست تمنی کول او د هغې لپاره په قلم، مال او نفس کوشش کول،

دا پورته ټول د موالاتو او دوستۍ صورتونه دي چې مونږ د اختصار په وجه لنډ راجمعه کړل او په دا قسم اعمالو مسلمان د اسلام څخه خارجيږي.

چې پدې موضوع که ټول دلائل ذکر کوو نو خبره زياته اوږديږي، خو مختصر دوه دري دلائل ذکر کوو

١ـ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ [سُورَةُ آل عِمرَان : 118]

ژباړه: اې مؤمنانو! له خپلو (مؤمنانو) پرته له نورو (کفارو) سره خپل رازونه مه واياست، هغوی ستاسې د ورکولو د هيڅ يو

فرصت څخه ګټه اخیستل له لاسه نه ورکوي. او تاسې ته چې په هر څه زیان اوړي، د هغو خوښیږي. د هغو د زړه دښمني یې له خولې څخه راوځي، او څه چې هغوی په خپلو سینو کښې پټ ساتلي دي، هغه له دې څخه زیات دي. موږ تاسو ته په ډاګه څرګنده لارښووني کړي دي، که تاسې پوهه لرئ (نو له هغو سره به په ارتباط ساتنه کښې له پاملرنې څخه کار واخلئ).

ابن کثیر – رحمه الله – فرمایي: «یقول – تبارك وتعالى – ناهیًا عباده المؤمنین عن اتِّخاذ المنافقین بطانة؛ أي: یطلعونهم على سرائرهم، وما یضمرونه لأعدائهم، والمنافقون بجهدهم وطاقتهم لا یألون المؤمنین خبالًا؛ أي: یسعون في مخالفتهم وما یضرهم بکلِّ مُمکن، وبما یستطیعون من المکر والخدیعة، ویودون ما یعنت المؤمنین ویحرجهم ویشق علیهم.(تفسیر ابن کثیر: ج2/92ص)

ژباړه: الله تعالی وایي – منعه کونکی دی د خپلو مؤمنو بندګانو لره د منافقانو نه په پټو رازونو (دوستی) نیولو سره؛ دوی هغوی لره (د مسلمانانو) له پټو رازونو څخه خبروي او هغه چې دوی د هغوی لپاره په زړونو کې دښمني پټوي، او منافقان په خپل کوشش او طاقت سره د مؤمنانو باره کې کمې نکوی د نقصان؛ یعنی کوشش کوي په مخالفت د دوی کې او څومره چې ممکن وي ضرر ورکول دوی ته، او په هغه څه چې وس لري د مکر او دوکې څخه، او کوشش کوي دوی د هغه څه چې مؤمنان په مشقت کې واچوي، او سختي ورباندې راولي.

٢ـ الله تعالی فرمایي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ [سُورَةُ المَائدة : 51]

ژباړه: اې مؤمنانو! یهودیان او نصارا خپل ملګري مه نیسئ، دوی په خپلو منځو کښې سره ملګري دي. او که ستاسې څخه څوك هغوی خپل ملګري نیسي، نو بیا هغه هم په هماغو کښې شمېرل کیږي. په دې کښې شك نشته چې الله ظالمان له خپلې لارښوونې څخه بې برخې کوي.

نو دلته (تولی) دې ټولو قسمونو ته شامله ده.

امام ابن حزم د دې ایات باره کې فرمایې چې : (وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ) (إنمَّا هو على ظاهره بأنه کافر في جُملة الکفَّار، وهذا حقٌّ لا یختلف فیه اثنان من المسلمین» (المحلى»، 13/35)

ژباړه: (او که ستاسې څخه څوك هغوی خپل ملګري نیسي، نو بیا هغه هم په هماغو کښې شمېرل کیږي (امام ابن حزم وایې) دا په ظاهر باندې دی چې یقینا دا هم کافر دی او د کفارو له ډلې څخه دی، او همدا حقه خبر ده چې پدې کې د مسلمانانو دوه کسان هم اختلاف نه کوي.

دریم: الاتِّباع:

دریم صورت د موالاتو څخه دا دی چې د کفارو د دین او قوانینو تابعداري وشي،

١ـ الله تعالی فرمایي: وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ [سُورَةُ الانعام: 121]

ژباړه: که تاسې د هغوی خبره ومنله یقیناً تاسې هم مشرکان یاست.

امام ابن جریر الطبري وایي :

"قوله: (وإن أطعتموهم إنکم لمشرکون)، فإنه یعني: وإن أطعتموهم في أکل المیتة وما حرم علیکم ربکم. قوله: (إنکم لمشرکون)، یعني: إنکم إذا مثلهم.[تفسیر الطبري ج 12 / 87]

ژباړه: معنا دا ده، که تاسو د کافرو خبره د مردارو شیانو په خوړلو او ستاسو د رب له طرفه حرام شوي کارونو کې ومنله (لکه څنګه چې نن سبا یې طالبان مني) نو تاسې هم د هغوی په څېر مشرکان یاست.

٢ـ همدارنګه الله تعالی فرمایې:

وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ ٱلْيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ۗ قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰ ۗ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم بَعْدَ ٱلَّذِى جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ [سُورَةُ البَقَرَة : 120]

ژباړه: یهود او نصارا به هیڅکله له تا څخه خوشحاله نه شي، تر څو ته د هغو په لاره (دین)لاړ نه شې. دوی ته په کلکه ووایه چې سمه لاره یوازې هماغه ده چې الله ښودلې ده. او که ته له هغه علم څخه وروسته چې درکړای شویدی، د هغو په خواهشونو پسې لاړ شې؛ نو ستا هیڅ دوست او مرستندوی نشته چې د الله له نیونې څخه دې وژغوري.

٣ـ الله عزوجل فرمایي: ولا تَرکَنُوا إلى الذینَ ظَلَموا فتَمَسَّکُمُ النَّارُ ومَا لکم مِن دُونِ اللهِ مِن أولیاءَ ثُمَّ لا تُنصَرون [سورة هود: 113]

ژباړه: او مه کږیږئ تاسې ظالمانو ته، وبه رسوي تاسې ته اور،

او نه به وي ستاسې لره د الله عزوجل پرته څوک دوستان، بیا به تاسې سره کومک نشي کیدای.

مفسر قرطبي وایي: (وَلا تَرْکَنُوا) الرُّکُونُ حَقِیقَةُ الِاسْتِنَادُ وَالِاعْتِمَادُ وَالسُّکُونُ إِلَى الشَّيْءِ وَالرِّضَا بِهِ، قَالَ قَتَادَةُ: مَعْنَاهُ لَا تَوَدُّوهُمْ وَلَا تُطِیعُوهُمْ. ابْنُ جُرَیْجٍ: لَا تَمِیلُوا إِلَیْهِمْ. أَبُو الْعَالِیَةِ: لَا تَرْضَوْا أَعْمَالَهُمْ، وَکُلُّهُ مُتَقَارِبٌ. (إِلَى الَّذِینَ ظَلَمُوا) قِیلَ: أَهْلُ الشِّرْكِ. وَقِیلَ: عَامَّةٌ فِیهِمْ وَفِي الْعُصَاةِ، وَهَذَا هُوَ الصَّحِیحُ في مَعْنَى الْآیَةِ، وَأَنَّهَا دَالَّةٌ عَلَى هِجْرَانِ أَهْلِ الْکُفْرِ وَالْمَعَاصِي مِنْ أَهْلِ الْبِدَعِ وَغَیْرِهِمْ، فَإِنَّ صُحْبَتَهُمْ کُفْرٌ أَوْ مَعْصِیَةٌ، إِذِ الصُّحْبَةُ لَا تَکُونُ إِلَّا عَنْ مَوَدَّةٍ، وَقَدْ قَالَ حَکِیمٌ: عَنِ الْمَرْءِ لَا تَسْأَلْ وَسَلْ عَنْ قَرِینِهِ...فَکُلُّ قَرِینٍ بِالْمُقَارِنِ یَقْتَدِي. « [تفسیر القرطبي]

ژباړه: او تاسې مه کږیږئ، رکون په حقیقت کې ډډه وهلو، تکیه وهلو، یو شي ته دمه کیدلو او په هغه راضي کیدو ته وایي. قتاده

وایي: معنا دا ده چې تاسې ورسره مینه مه کوئ، او نه هم ورله خبره منئ. ابن جریج وایي: تاسې ورته مه مائله کیږئ، ابو العالیه وایي: د هغوی کړنې مه خوښوئ، خو دا ټول سره نږدې دي. (إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا) ظالمانو ته، ویل شوي چې دې نه مراد مشرکان دي، او دا هم ویل شوي چې دا عام دی د ټولو ظالمانو په اړه، او د ګناهګارانو په اړه هم ، او د آیت دا معنا صحیح ده، او دا دلیل دی په جدائي د کفارو او ګناهګارو څخه، د بدعتیانو یا داسې نور. ځکه د هغوی دوستي به یا کفر وي، یا به ګناه وي، او دوستي نه وي مګر د وجې د مینې ساتلو نه وي، او یو پوهه کس ویلي:

د یو چا په اړه د هغه څخه خپله پوښتنه مه کوه، بلکې د ملګري په اړه یې وپوښته، ځکه هر دوست خپل ملګري پسې روان وي.

طالبان:

د موالاتو خلاصه به مؤمنانو پیژندلي وي، اوس راځو او طالبان د موالاتو سره مقایسه کوو، خو مخکې له دې چې تفصیل وکړو دا ویلی شو چې طالبان نن د موالاتو په هر جُز او بخش کې واقع دي، او د موالاتو پر ټولو حدودو یې خپه وراړولی!

اول: د ولایة د تعریف څخه دا معلومه شوه چې موالات دوستي ده او ضد یې (العداوة) دشمني ده، خو د طالبانو مشران پدې ګواهي کوي چې دوی د کفارو سره قولاً او عملاً د دښمنۍ د ختمولو اعلان کړی! سراج الدین حقاني په خپله وینا کې په ښکاره الفاظو د دې خبرې اظهار کوي او وایي چې (امریکا مونږ خپله دښمنه نه ګڼو)! کله چې طالبانو ته د کابل واک وسپارل شو نو په همغه لومړیو ورځو کې یې ویاند وویل : له نن څخه وروسته جګړه پای ته ورسیده ، له نن څخه وروسته موږ هیچا سره دښمني نه لرو . او د دوی په شمول د هر طالب له خولې دا خبری راوځي چې (طالبان د نړی سره کوم مشکل نلري) ددې همدا معنی ده چې د نړی کفارو او مشرکینو سره مونږ کوم عداوت او دشمني نه لرو، او په عمل کې یې هم ثابته کړی.

د نړی د کفارو د جواسیسو او سفارتونو ساتنه دوی کوي، د هندوانو او سکانو درمسالونه دوی ساتې، د شیعه ګانو او نورو شرکي مزارونو دفاع دوی کوي،

د مسلمانانو د سترو قاتلانو او دیغور د مسلمانانو د ناموس لوټونکو چینایانو سره دوی دوستي شروع کړی محفوظ ځایونه یې ورته برابر کړي، او په دوی ټولو د اسلامي دولت له بریدونو څخه په مخنیوي کې خپل سرونه بایلي.

همدا خبره که په قرآن او سنت وتلو د دوی، موالات او کفر تري څرګندیږي ، چې قرآن کې بار، بار الله تعالی فرمایې چې کفار ستاسې دښمنان دي، دوی ستاسې دوستان کیدای نشي ترڅو چې تاسې ورسره کفر ونکړئ،

> لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءهُمْ أَوْ أَبْنَاءهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ [المجادلة: ٢٢]

> وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ وَلَكِنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ فَاسِقُونَ [المائدة: 81]

> وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ۗ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَىٰ ۗ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ

[سُورَةُ البَقَرَة : 120]

او داسې نور دلائل پرې موجود دي چې مخکې یې یادونه شوی ده.

دویم صورت د موالاتو سره طالبان مقایسه کوو چې حاصل یې دا و (مظاهرة الكافرين، وإعانتهم، والتجَسُّس على المسلمين، وإفشاء أخبارهم وأسرارهم، وكشْف عوراتهم لأعداء الدِّين) یعني د مسلمانانو مقابل کې کفارو سره مرسته کول یا د مسلمانانو رازونه ورسره شریکول.

: د طالبانو کړنې له چا پټې نه دي، د دوحې تړون کې مهم اصل همدا دی چې طالبان به نور د افغانستان پر ځمکه د امریکا او نړیوالو نیابتي جګړه کوي!

: د افغانستان پر ځمکه چې هر چا د جهاد اراده کوله دوی به یې له مینځه وړي!

: د اسلامي خلافت د مقابلې لپاره امریکا هره هفته لسګونه میلیونه ډالر طالبانو ته ورکوي په همدې خاطر چې د حق پرستو مؤمنانو اسلامي دولت د مجاهدینو مقابله پرې وکړي!

: وخت په وخت د طالبانو د استخباراتو چارواکي قطر ته ځي او د امریکا د استخباراتي شبکې (CIA) سره د اسلامي دولت د بندیانو او د مجاهدینو اسرار او رازونه شریکوي، او خپل بادار په دې سره خوشحالوي!

: په خپل عمل کې یې هم دا ثابته کړی ، ځکه هغه څوک چې د نړی د کفارو سره دښمني کوي د هغوی د وژلو پسې شپه او ورځ د لیونو سپو په څېر ګرځي !

چې دا قسم اعمال موالات او کفر دی مخکې یې دلائل ذکر شول، نو په دې برخه کې هم طالبان مرتد شوي .

دریم صورت د موالاتو سره هم طالبان مقایسه کوو چې حاصل یې وو (الاتباع) د کفارو تابعداري کول په محرماتو کې.

د دا قسم موالاتو نمونې په طالبانو کې هم زیاتې لیدل کیږي چې د هغې له جملې:

: نن سبا چې کومې جغرافوي کرښې چې کفارو سره ویشلي د (سایکس ـ پیکو) په نوم، دا کرښې اصلاً د برتانوي (مارک سایکس) او فرانسوي (ژرژ پیکوي) نومونو ته منسوبې دي، په ۱۹۱٦م کال کې له لمړی نړیوالې جګړې وروسته رابښکل شوې چې اسلامي امت یې سره ټوټې ،ټوټې کړی، دې کې طالبانو هم د کفارو تابعداري وکړه او ورسره یې دا پولې ومنلې!

: د اسلامي اخوت او ورورولۍ پر

ځـاي يـې نړيـوال اصـل منلـى چـې هغـه وطنـي اخـوت دى، لكـه دوىٔ ته د خپـل وطـن د روافضـو، هندوانـو، يهودانـو، سـكانو، اسـماعليانو پـه شـمول ټـول مرتديـن او مشركـين ورونـه ښـكاري نـه يـوازې د دوى دفـاع او سـاتنه كـوي بلكـې د دوىٔ د شركـي معبدونـو او مراسـمو پـه سـاتنه كـې هـم خپـل سرونـه قربانـوي!

: د رسـنيو نړيـوال قوانيـن دوىٔ منلـي اقـرار يـې كوي!

: مدني قوانين يي هم دوىٔ منلي!

خلاصـه دا چـې د بيـن المـلـل ټولوكفري قوانينـو تـه يـي غـاړه ايخـي او د دي خـبري اظهـار هـم كـوي ، چـې مونـږ نړيـوال قوانيـن پـوره كـړي، د دې همـدا معنـى ده چـې د بيـن المـلـل قوانيـن يـې عمـلي كـړي او د هغـوىٔ تابعـدار دي.

نـو ثابتـه شـوه چـې دوىٔ د موالاتـو د اتبـاع پـه صـورت كـې هـم اختـه دي، نـو لهـذا ضرورت هـم ديتـه نـه ګنـم چـې د دوىٔ پـه بـاره كـې نـوره خبره وكـړم خـو بيـا هـم د وضاحـت لپـاره دى خـبرى تـه راځـم چـې دوى وايـى دا مـدارات دي او يـا دا چـې رسـول اللـه صلـى اللـه عليـه وسـلم هـم د كفـارو سره راكـړه وركـړه كـړى!

د طالبانـو مرتـد مـشران خپلـو كشرانـو تـه همـدا فكـر وركـوي او پـه همـدې فكـر يـي د نـړىٔ د حـربي كفـارو پـه دفـاع كـې وژني ، ددوىٔ د كفـري قوانينـو تطبيـق د وطنيـت د كفـري عقيـدې منـل ، د بيـن المـلـل پـه كفـري اصولـو ايمـان او دا هـر څـه ورتـه د اسـلام پـه جامـه كـې پټـوي او پـرې منـي يـي . او همـدا تصـور وركـوي چـې دا مـدارات دي ، او پـه ډيـره سـپين سـترګۍ كفـارو سره دغـه مولاتـو تـه د مداراتـو نـوم وركـوي او كـشران يـي هـم لكـه ړانـده چـرګان د يـوې موټـې دانـو لـه كبلـه ددوىٔ پـه پـل روان دي او چـې كـوم خوايـي دوىٔ رهـبري كـوي پـه همغـه لـور درومـي نـور نـو د تحقيـق ځـواك او د حـق د پيژندنـې وړتيـا تـرې اللـه اخسـتې ، نـو د طالـب مليشـو همـدې خـبرو تـه پـه كتـو راځـۍ لـږ پـه مداراتـو هـم بحـث وكـړو چـې مـوالات څـه تـه وايـي كـوم صورتونـه لـري او طالـب مليشـې ولـې كفـارو سره دوسـتۍ

ددوىٔ ماموريـت او غلامـۍ تـه د مداراتـو نـوم وركـوي .

دويم بحث: مداراة

معنى المدَاراة لغةً:

مـداراة پـه لغـت كـې نرمـۍ تـه وايـې لكـه عـرب وايـي (داريتـه) يعنـي (لاطفتـه ولاينتـه) نرمـي او لطـف مـې ورسره وكـړ.

همدارنګـه وايـې: (مـداراة النـاس: أي ملاينتهـم وحسـن صحبتهـم) د خلكـو مـداراة دا معنـى چـې د خلكـو سره نرمـي او خايسـته ملګرتيـا (لسـان العـرب لابـن منظـور (١٤/ ٢٥٤)، وانظـر: مـادة (درأ) (١/ ٧١)، (المصباح المنـير للفيومـي (١/ ١٩٤)

معنى المدَاراة اصطلاحًا:

پـه اصطـلاح كـې هـم اهـل علمـو هـم د مداراتـو مختلـف تعريفونـه كړي:

ابـن بطـال رحمـه اللـه وايـې : المـدَاراة: خفـض الجنـاح للنـاس، ولـين الـكلام وتـرك الإغـلاظ لهـم في القـول) (شرح صحيـح البخـاري) (٩/ ٣٠٥).

ژبـاړه: مـدارات وايـې: خپلـې وزري خلكـو تـه ښـكته كـول، او نرمـې خـبرى كـول، او سـختي پـر يښـودل پـه وينـا كـې.

علامـة عينـي وايـې: والمـداراة هـي الرفـق بالجاهـل الـذي يسـتتر بالمعـاصي واللطـف بـه حتـى يـرده عـما هـو عليـه (عمـدة القـاري شرح صحيـح البخـاري: ج١٧١/ ٢٢ ص)

ژبـاړه: مـدارات دا دي چـې نرمـي كول د هغـه جاهـل سره چـې ګناهونـو پـټ كـړى وي او نرمـي ورسره كـول تـر دې چـې واپـس شي د هغـه څـه نـه چـې پكـې واقـع دى.

بيـا قـرآن او سـنت كـې د مداراتـو صورتونـه نقـل دي چـې مختلفـو واقعاتـو كـې رب العالمـين دې تـه اشـاره كـوي چـې د هغـې لـه جملـى څخـه:

١ـ د ابراهيـم عليـه السـلام واقعـه ده چـې د پـلار سره نرمـې كـوي او هـدف يـې معلـوم دى، هغـه دا چـې اسـلام قبـول كـړي او شرک څخـه منعـه شي.

اللـه تعالـى فرمايـې: **وَاذْكُرْ فِى الْكِتٰبِ إِبْرٰهِيمَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا [٤١] إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يٰٓأَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِى عَنكَ شَيْـًٔا [٤٢] يٰٓأَبَتِ إِنِّى قَدْ جَآءَنِى مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِىٓ أَهْدِكَ صِرٰطًا سَوِيًّا [٤٣]يٰٓأَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطٰنَ ۖ إِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِيًّا** [سُـورَةُ مَريَـم : ٤٤]

ژبـاړه: او پـه دې كتـاب كښـې د ابراهيم(عليـه السـلام) كيسـه يـاده كـړه، بېشـكه هغـه يـو رښـتينى انسـان او پيغمـبر ؤ.

(دوىٔ تـه لـږ هغـه وخـت ور يـاد كـړه) چـې كلـه (ابراهيـم) خپـل پـلار تـه وويـل: «پـلاره! تـه ولـې د هغـو شـيانو عبـادت كـوې چـې نـه څـه اوري نـه څـه وينـي او نـه سـتا څخـه د كـوم شي دفعـه كـولاى شي؟ پـلاره مـا تـه يـو داسـې علـم راغلـى دى چـې تـا تـه نـه دى راغلـى، تـه پـه مـا پسـې راځـه، زه بـه تـا تـه سـمه لاره وښـايم. پـلاره! تـه د شـيطان بندګـي مـه كوه، شـيطان خـو لـه الرحـمان (الله) څخه سر غړوونكى دى.

امـام سـعدي پـه خپـل تفسـير (٤٩٤ص) كـې وايـې: (وفي هـذا مـن لطـف الخطـاب ولينـه، مـا لا يخفـى، فإنـه لم يقـل: يـا أبـت أنـا عـالم، وأنـت جاهـل....

ژبـاړه: پـدې ايـات كـې پـه نرمـۍ او لطـف سره خطـاب كـول دي هغـه چـې پـټ نـدي، پـس داسـې يـې ونـه ويـل چـې زه عـالم يـم او تـه جاهـل يـې ....

٢ـ قصـه د موسـى عليـه السـلام كـې چـې فرعـون سره پـه دعـوت كـې نرمـي كـوي او هـدف يـې معلـوم دى چـې (لَّعَلَّـهُ يَتَذَكَّـرُ أَوْ يَخْـشٰى) چـې شـايد پنـد او نصيحـت قبـول كـړي او وويريـږي د اللـه تعالـى څخـه.

لكـه اللـه تعالـى فرمايـې: **اذْهَبَآ إِلٰى فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغٰى [٤٣] فَقُولَا لَهُۥ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشٰى** [سُـورَةُ طٰـه : ٤٤]

ژبـاړه: تاسـې دواړه فرعـون تـه ورشـئ چـې هغـه سركښـه شـويدى. لـه هغـه سره پـه نرمـۍ خـبري وكـړئ، ښـايي چـې هغـه نصحيـت ومنـي يـا وويريـږي.»

امـام ابـن كثـير رحمـه اللـه فرمايـې : هـذه الآيـة فيهـا عـبرة عظيمـة، وهـو أن فرعـون في غايـة العتو والاسـتكبار، ومـوسى صفـوة الله مـن خلقـه إذ ذاك، ومـع هـذا أُمـر ألا يخاطـب فرعـون إلا بالملاطفـة واللـين) (تفسـير القـرآن العظيـم) (٥/ ٢٩٤).

ژبـاړه: پـدې ايـات كـې لـوى عـبرت دى، او هغـه دا چـې فرعـون پـه اخري سركشـۍ او تكـبر كـې و او موسـى عليـه السـلام د غـوره خلكـو څخـه و دغـه وخـت كـې، سره لـه دې اللـه تعالـى ورتـه امـر وكـړ چـې فرعـون سره دې خـبرې نـه كـوي، مګـر پـه نرمـۍ او لطـف سره.

٣ـ د رسـول اللـه صلـى اللـه عليـه وسـلم پـه ژونـد كـې يـې هـم نمونـې شـته چـې يـو لـه هغـې نـه حديـث د عائـشي رضي اللـه عنهـا دى:

عَـنْ عُـرْوَةَ بْـنِ الزُّبَـيْرِ ، أَنَّ عَائِشَـةَ ، أَخْبَرَتْـهُ أَنَّـهُ اسْـتَأْذَنَ عَـلَى النَّبِـيِّ صَـلَّى اللَّـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ رَجُـلٌ ، فَقَـالَ

: « ائْذَنُوا لَهُ ، فَبِئْسَ ابْنُ الْعَشِيرَةِ أَوْ بِئْسَ أَخُو الْعَشِيرَةِ » ، فَلَمَّا دَخَلَ أَلَانَ لَهُ الْكَلَامَ ، فَقُلْتُ لَهُ : يَا رَسُولَ اللَّهِ قُلْتَ مَا قُلْتَ ثُمَّ أَلَنْتَ لَهُ فِي الْقَوْلِ ، فَقَالَ : « أَيْ عَائِشَةُ إِنَّ شَرَّ النَّاسِ مَنْزِلَةً عِنْدَ اللَّهِ مَنْ تَرَكَهُ أَوْ وَدَعَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ فُحْشِهِ » (صحيح البخاري: رقم ـ ٥٦٩٣)

ژباړه: د عروه بن زبير رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه ته عائشي رضي الله عنها خبر ورکړ چې يو سړي په نبي صلی الله عليه وسلم اجازت وغوښته (چې د هغه خوا ته راشي) نو هغه وويل: اجازه ورکړئ ورته دا ډير بد بچی د قبيلې دی او يا يې وويل ډير بد ورور د قبيلې دی، نو کله چې هغه داخل شو نو (رسول الله صلی الله عليه وسلم) هغه ته خبري نرمی کړې، (عائشه فرمايي) ما ورته وويل: ای د الله رسوله تا خو داسې، داسې خبرې وکړې، بيا دې خبرو کې هغه ته نرمی وکړه، نو هغه وفرمايل: ای عائشې! يقيناً بدترين د خلکو څخه په اعتبار د مقام سره د الله په نيزد ، هغه کس دی چې پريږدي هغه لره (د راوي شک دی چې يا يې داسې وويل) چې پريږدي هغه لره خلک د وجې د ځان ساتلو د بدو اخلاقو د هغې نه.

نو دې حديث نه اهل علمو دا استدلال کړی چې دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم مدارات و ، چې د يو شري سړي د شر څخه يې د ځان ساتلو په خاطر هغه سره نرمې خبرې وکړې.

همدارنګه بل حديث کې راځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : « مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِي جَارَهُ ، وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا فَإِنَّهُنَّ خُلِقْنَ مِنْ ضِلَعٍ ، وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ أَعْلَاهُ ، فَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ ، وَإِنْ تَرَكْتَهُ لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ ، فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا » (صحيح البخاري: رقم ـ ٤٨١٢)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه د نبي صلی الله عليه وسلم څخه نقل کوي چې هغه وفرمايل: څوک چې په الله او په ورځ د اخرت ايمان لري ، نو خپل ګونډي ته دې ضرر نه رسوي، او د زنانه و، باره کې (زما) وصيت قبول کړئ د (هغوی سره) د خير، پس يقينا هغوی پيدا شوي دي، د پښتۍ نه او ډير کوږ شی په پښتۍ کې هغه پورتنۍ حصه ده، که ته چېرته هغه سيده کوې نو ماته به يې کړې او که پريږدې يې نو هميشه به همداسې کږه وي او نو د زنانه و باره کې (زما) وصيت قبول کړئ د (هغوی سره) د خير .

امام ابن حجر رحمه الله فرمايي : وفي الحديث الندب إلى المداراة لاستمالة النفوس وتألف القلوب... (فتح الباري: 9ج/253 ص).

ژباړه: په دې حديث کې د مداراتو استحباب دی، د زړونو د جلبولو او د نفسونو د مائله کولو لپاره .

همدارنګه امام بخاري رحمه الله هم باب لګولی (باب المداراة مع الناس)

بيا يې د ابو درداء رضي الله عنه قول نقل کړی چې هغه به فرمايل: إِنَّا لَنَكْشِرُ فِي وُجُوهِ أَقْوَامٍ، وَإِنَّ قُلُوبَنَا لَتَلْعَنُهُمْ . (صحيح البخاري)

ژباړه: مونږ د بعضي خلکو مخ کې خاندو خو زړونه مو وربانديلعنت وايې!

نو مسلمانانو ورونو!

دا د مداراتو حقيقت وو د قرآن او سنت څخه چې د ټول بحث څخه مونږ او تاسې ته لاندی نقطې لاس ته راځي.

اول: مدارت په شريعت مطهرة کې د دې لپاره کيږي چې هدف يکې د يو کافر يا فاسق او بې دينه انسان دعوت کول وي چې اسلام ومني او د خپل کفر او شرک څخه تير شي چې د ابراهيم او موسی عليهما السلام د واقعاتو څخه معلوم شول.

دويم: مدارات په هغه وخت کې جائز دي ، چې کله يو څوک د چا د شر او ضرر رسولو څخه ويريږي، نو فقط همدومره مسلمان ته جائز دي، چې خبرو کې نرمی ورسره وکړي، که هغه کافر سره وي يا د فاسق او فاجر، يا خپلی بې بې سره وي.

اوس راځو او طالبان د مداراتو سره مقايسه کوو چې ايا دوي کې مدارت دي که نه په موالات او مداهنت کې اخته دي.

١ـ مدارات د کفارو د دعوت په خاطر کيږي چې اسلام ته راشي خو طالبان چې نن د نړۍ کفارو سره کوم تعلقات پالي هغه ټول د مسلمانانو د وژلو، ختمولو، زنداني کولو او د افغانستان د ځمکې څخه د جهاد او د حقيقي اسلام د نفاذ د مخنيوي لپاره دي چې دا کفر موالات دي مخکې يې ذکر وشو.

٢ـ مدارات خو هغه وخت وي چې د يو چا د شر څخه انسان ويريږي، لکه روايت د عائشې رضي الله عنها کې چې ذکر شو اما طالبان خو چيغې وهي چې مونږ نړۍ ته شکست ورکړی او د هيچا څخه نه ويريږو نو بيا په کوم هدف ورسره ناسته پاسته او پټ مجلسونه کوي!

٣ـ د شريعت څخه هيڅ دليل نشته چې انسان دې د کفارو د دعوت په خاطر مداراتو له وجې خپل دين پريږدي يا دې کفر وکړي، يا دې د کفارو قوانين پلي کړي، خو نن طالبان د خپلې چوکۍ د ساتلو لپاره دا هر څه کوي .

٤ـ که د طالبان حال ته نن سبا فکر وکړو نو د موالاتو ترڅنګ په مداهنت کې واقع دي، ځکه دوی دين خرڅوي او مقابل کې يې دنيا حاصلوي لکه ملا علي القاري رحمه الله فرمايي:

والفرق بين المداراة والمداهنة أن المداراة بذل الدنيا لصلاح الدنيا أو الدين أو هما معا، وهي مباحة،

وربما استحسنت، والمداهنة بذل الدين لصلاح الدنيا اهـ. (مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح: ج 3034/7 ص)

ژباړه: د مداراتو او مداهنت ترمينځ فرق دا دی چې مدارات وايي قربانول د دنيا لپاره د اصلاح د دنيا او يا د دين او يا د دواړو، او دا مباح دي کله غوره عمل وي، او مداهنت دا دی چې دين قربانول لپاره د دنيا د جوړولو!

نو نن که د طالبانو حال کې فکر وکړو همدا حال يې دی، جهاد يې قربان کړ، حدود يې قربان کړل، د کفارو سره معادات او دشمني يې له مينځه يوړه، د مسلمانانو وينې تويوي په دې خاطر چې د دوی چوکۍ دوام وکړي او د امريکا ډالرې قطعه نه شي!

دريم بحث :

د کفارو سره د تجارت او معاملاتو شرعي حيثيت.

دا چې طالبان يو جاهله او له اسلام څخه ناخبره ډله ده ، او د هغه اوبو اخستې خلکو په څېر دي ، چې هر بوټي او غاړي ته لاس اچوي ، دوی د خپلو کفري کړنو د توجيه کولو لپاره ډول ، ډول له عقل او منطق څخه لرې دلائل راوړي ، خپلو کشرخيلو او ځانونه هسې خطا کوي ، کله دا خبر کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د کفارو سره ناسته پاسته او تجارت کړی، او زمونږ ننی تعلقات د حربي کفارو سره دغسې ناستې ولاړې ، راشه ، درشه ، پټ او ښکاره استخباراتي مجلسونه ، ددوی د اصولو او قوانينو منل او عملي کول ،هم له هم دي جملي څخه دي! خو دا بې علمه او جاهل قوم دومره سوچ نه کوي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره کوم وخت د کفارو فاحشو ښځو په چوکيو ساعتونه، ساعتونه مرکې کړي؟!

کله د رسول الله صلی الله عليه وسلم مجلس ته فاحشې په لوڅ سر، سرو شونډو او نيمه لوڅ بدن سره راغلي؟!

کوم وخت رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه کفارو سره ناسته ، پاسته او خندا ګاني کړي چې په عين وخت کې لګيا وي او مسلمانان وژني، د مسلمانانو په زرګونو بنديان، ښځې او نارينه ورسره زندانونو کې پراته وي؟!

هغه خو چې کوم کفارو سره تجارت او راکړه ورکړه کوله د يوې زنانه پر سر يې ټول له مديني وويستل، مالونه او کورونه يې ورڅخه فيء وګرځول !

رسول الله صلی الله عليه وسلم چې کومو کفارو سره راکړه ورکړه کوله هغه خو بيا د هماغه خلکو نه دسلګونو ځوانانو سرونه په دې خبره ګټ کړل چې يواځې مسلمانانو ته يې د بدۍ اراده کړې وه، اوس خو امريکايان په ټوله نړۍ کې د اسلام او مسلمانانو مقابل کې لګيا دي ، په هره برخه کې خپله جګړه تونده کړې!

دا کفار څنګه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زماني د صلحه کونکو سره مشابه کوئ!

معلوميږي دا چې دا هر څه ستاسې په کفر، بې علمی، غلامی، او دنيا پرستۍ دلالت کوي.

نو دا چې عام مسلمانان خپله قضاوت وکړي ، چې د طالبانو کړنې موالات او دوستي ده او که د کفارو سره د تجارت او راکړې ورکړې په څېر دي، نو دې بحث کې د کفارو سره د تجارت او معاملاتو شرعي اصول ذکر کوو.

ديکې شک نشته چې کفارو سره (بيع او شراء) اخيستل او خرڅول جائز دي، خو دا مطلق نه دي بلکې په شروطو سره جائز دي چې حاصل يې دا دی:

اول: دغه تجارت او کار به په خپل ذات کې جائز او مباح وي، يعني حرامو څيزونو کې به تجارت نه وي،

چې د شرعي ډير نصوص په دې دليل دي، چې داسې څيزونه چې خپل ذات کې حرام وي، لکه د شرابو، خنزير، سګريټ، نصوارو، د ټنګ ټکور آلاتو او داسې نورو شيانو تجارت،

يا هغه قسمونه د بيع چې شريعت حرام کړي وي لکه سودي معاملات، دا قطعاً حرام دي اګر که د مسلمانانو ترمينځ هم وي، نو د کفارو سره خو په طريق اولی حرام دي،

حديث کې راځي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ، قَالَ : رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا عِنْدَ الرُّكْنِ ، قَالَ : فَرَفَعَ بَصَرَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَضَحِكَ ، فَقَالَ : « لَعَنَ اللَّهُ الْيَهُودَ ثَلَاثًا : إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْهِمُ الشُّحُومَ فَبَاعُوهَا ، وَأَكَلُوا أَثْمَانَهَا ، وَإِنَّ اللَّهَ إِذَا حَرَّمَ عَلَى قَوْمٍ أَكْلَ شَيْءٍ حَرَّمَ عَلَيْهِمْ ثَمَنَهُ » (سنن أبي داود: رقم ـ 3029)

ژباړه: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي: ما رسول الله صلى الله عليه وسلم وليده چې د حجر اسود سره ناست و، خپل نظر يې اسمان ته پورته کړ نو ويې خندل، پس ويې ويل: الله دې په يهودو لعنت وکړي، الله وربانډي چربي(وازدي) حرامې کړې وې، نو هغوی به (دا وازدې) خرڅې کړې او د هغې پيسې به يې وخوړې، او يقيناً الله تعالی چې کله په يو قوم د يو څيز خوړل حرام کړي، نو د هغې پيسې يې هم وربانډې حرامې کړې دي.

دا حديث واضح دليل دی چې هغه څيزونه چې شرعه کې يې استعمالول او خوړل حرام وي نو د هغې پيسې او تجارت هم حرام دی.

او سودي معاملاتو باره کې خو قرآن او سنت داسې ښکاره څرګندونې کړې چې د هغې څخه هر مؤمن خبر دی چې ذکر کولو ته يې ضرورت نه ګنم.

دويم: پدې تجارت او يا کار کې به عزت د کافر او اهانت او سپکوالی د مسلمان نه وي.

أبو موسى أشعري رضي الله عنه يو نصراني کاتب نيولی و، عمر رضي الله عنه ورڅخه په مسجد کې د يو ليک د لوستلو مطالبه وکړه چې د شام څخه راغلی و، أبو موسى أشعري رضي الله عنه ورته وويل دا خو نصراني دی، عمر رضي الله عنه ډير غصه شو

دغه ډول دابوبکر رضي الله عنه باره کې راځي، چې هغه د نبي صلى الله عليه وسلم په ژوند مبارک شام ته تجارت ته تلي وو لکه دابه مسنداحمد او سنن ابن ماجه وغيره نورو کتابونو داحاديثو کې دي، خو د دى روايات په يوسند کې زمعه بن صالح دى، چې محققينو په هغه دامام احمد، امام ابن معين او امام ابوداود ابن حجر ابوزرعه او بشار رحمهم الله نه جرح نقل کړى، چې هغوى ورته ضعيف فرمايلى دي، کما فى تهذيب الکمال ٩/٣٨٩ او ١٤/١٣ کتاب المجروحين لابن حبان ١/٣١٢ اوبل سندکي زهرى رحمه الله دعبدالله بن أبي أمية رضي الله عنه نه روايت کوي خو محققين وايي د زهري رحمه الله سماع د هغه نه ثابت نه ده ،ځکه هغه رضي الله عنه دنبي صلى الله عليه وسلم په ژوند مبارک وفات شوى وو، دا شو ددى روايت حيثيت بل روايت دغه ډول دکېسان رضي الله عنه باره کې دى، چې هغه هم د نبي صلى الله عليه وسلم په ژوند مبارک کې شام ته تجارت ته تلى وو، خو ددى په سند کې هم ابن لهيعة دى اوهغه ضعيف دى اوددى باوجود هغه په دى روايت کې تفرد هم کړى دى دغه ډول دسورة الجمعة ١١ ايت کريمه د شان النزول باره کې چې کوم روايت ذکر کېږي ،چې صحابه د مسجدڅخه د شام نه راغلى د تجارة سامان ته ووتل اونبي صلى الله عليه وسلم يى په خطبه ولاړ پريښوده ، ويل کېږي چې دغه سامان ددحية الکلبي رضي الله عنه وو چې هغه دشام څخه راوړى وو .

دلته خو دى کې شک نه شته بلکه صحيح ثابته ده، چې دغه سامان دشام نه راغلى وو خو ددحية الکلبي متعلق داخبره چې ده راوړى د شام څخه، دغه تخصيص په غيرصحيح سندونو نقل دى، نو لهذا استدلال ترينه په ياده موضوع باندى کول ثابت نه دى، ځکه طبري چې کوم روايت ذکر کړى دهغې سندکي محمد بن حميد الرازى دى او هغه باندى محدثينو لکه ابن عدى امام بخارى وغيره وو جرح کړى ده او امام بزار رحمه الله چې په کشف الأستار کې په کوم سند باندى ذکر کړى ، هغې کې عبدالله بن شبيب دى، امام هيثمى رحمه الله هغه ته ضعيف ويلى دى الغرض تر دى ځايه دا شو د دوه قسمه مرفوع رواياتو اصل اوحقيقت چې لوستونکو ته ذکر شو چې هغه ضعيف اوپه ياده موضوع داستدلال قابل نه دي ، اوس راځو دويم قسم رواياتو ته .

ب :ـــ چې هغه موقوف روايات دي نو يى له شکه بعضې موقوفات په صحيح سندونو داسي شته چې دخليفة ثاني عمربن الخطاب رضي الله عنه په دور خلافت کې مسلمانان د دارالاسلام نه دارالکفر ته د تجارتونو د پاره تلي دي، لکه دا په مصنف د عبدالرزاق اوپه السنن الکبرى دامام بيهقي رحمهما الله کې په صحيح اسانيدو سره نقل دي ، چې في الجمله د تجارت دپاره دارالکفر ته د تللو جواز ترينه ثابتيږي، خودا جواز هم دامت داهل علمو په نزد سره دکراهية دى ، د هاغو علماؤ نومونه به ذکر کړم چې داجائز مع الکراهية ګڼي ،يو له هغي جملې څخه امام مالک رحمه الله دى المدونة ٣/٢٩٤

احمد بن حنبل رحمه الله دى شيخ الاسلام بن تيميه رحمه الله د هغه څخه نقل کړي إقتضاء الصراط المستقيم ٢/١٦

دغه ډول امام بغوى رحمه الله هم مکروه ګڼلى شرح السنة ١٠/ ٢٤٦

امام خطابى رحمه الله هم مکروه ګڼلي: معالم السنن ٢/ ٢٧٢

امام اوزاعي رحمه الله يى هم مکروه ګڼي .

حسن بصري رحمه الله يى هم مکروه ګڼي ابن حزم رحمه الله يى هم مکروه ګڼي المحلي ٧/ ٥٧٣

اوبيا داهم يادلرئ چې سره د کراهيت نه دغه جواز د هغه چا د پاره دى، چې دا دارالکفر ته د تجارت د پاره داسې لاړشي ، چې د کفارو أحکام په ده او هلته په دى تجارت سره جاري نه شي سحنون بن سعيد فرمايى ما ابن القاسم ته وفرمايل هل كان مالك يكره أن يتجر الرجل إلى أرض الحرب؟ قال: نعم، كان يكرهه مالك كراهية شديدة، ويقول: لا يخرج إلى بلادهم حيث تجري أحكام الشرك عليه(ژباړه: ايا امام مالک رحمه الله دا مکروه ګڼله ، چې يو کس تجارت دپاره دارحرب ته لاړشي، نوهغه وفرمايل هو امام مالک رحمه الله دا ډيره سخته بده ګڼله او فرمايل به يى چې نه دى ورځى تجار د کفارو ښارونو ته داسې چې دهغوى د قانون دشرک أحکام په ده باندي جارى کېږى المدونة ٣/٢٩٤

دغه ډول ابن حزم رحمه الله فرمايي: ولا تحل التجارة إلى أرض الحرب إذا كانت أحكامهم تجري على التجار،(ژباړه) اوحلال نه دي تجارة کول د دارالحرب ځمکه کې چې کله احکام دهغوي په (مسلمانانو) تاجرانو تطبيقيږي المحلى ٥/٤١٨

علامه ابن المنذر رحمه الله فرمايى يكره أن يدخل الرجل أرض الحرب حيث تجرى أحكامهم عليه . ژباړه: مکروه دى دا چې يوسړى دارالکفر ته داخل شي، داسې چې دهغوئ قوانين پرى جاري کېږي الأوسط ٦/٤٠٥

الغرض دأهل علمو د أقوالو څخه د تجارت د پاره دارالکفر ته د تلو دپاره درى صورته دي، چې خلاصه يى دمجموع الرسائل څخه رانقلوم

١: صورت د يو جماعت د علماؤ په نيزد سره له کراهيته جايز دي. اودا هغه صورت کې چې په ده باندې هلته د کفارو أحکام نه جاري کېږى!!

٢: صورت تلل حرام دي که چرته دا په هغه بيع اوشراء باندى مجبور وي، چې هغه په شريعت کې حرامه وي اوياهم دغه مسلمان هلته د ذلت او سپکاوي سره مخ کېږي!!

٣ : صورت تلل مغلظ حرام دي، که چرته ده باندې هلته د کفارو أحکام اوقانون جاري کېده لکه فيصله وړل طاغوت ته او يا راضي کېدل په حکم د هغه ، نومعلومه شوه چې د تجارت په نيت دارالکفر ته تلل دامطلقاً جائز نه دي، بلکه جائز دى خوسره دکراهيت نه اوهغه هم هغه صورت کې چې دى تجارت کونکي مسلمان باندې نه د کفر احکام نافذوي اونه يي په ممنوع البيع اومحرم البيع اموالو په اخستو مجبوروي او نه هم د کفارو له لوري هلته له ذلت او سپکاوي سره مخ کېږي، خوکه دى مذکوره مشکلاتو څخه يو مشکل سره هم مخ کېږي، بيا دارالکفر ته د تجارت دپاره تلل حرام دي، والله اعلم دا شو د اومي مسألي وضاحت اوس راځو اوپه توفيق دلوى رب متعال ستاسې د پوښتنو جوابو نو ته:

عزتمنده ! دا چې ستاسې د پوښتنو د جواب نه مخکې د جواب داسان فهمۍ په خاطر مونږ د الله رب کريم په خاص فضل اوتوفيق ددې مسأئلو په وضاحت مشتمل تمهيد ذکر کړ، اوس له هغې بعد راځو ان شاء الله اوستاسې د پوښتونو جوابونه ذکر کوو ، ستاسې لومړۍ پوښتنه چې مسلمانان د کومو اهدافو په خاطر د شريعت له مخه په کفري ملکونو کې د اوسيدو حق او جواز لري؟

الجواب بعون الله الوهاب: داچې مخکې مسائلو کې معلومه شوه چې دارالکفر د کفارو ملک وي، ددی بل نوم دارالحرب دی داديته وايي چې د کفارو احکام او شعائر په کې غالب وي ، نو دلته مسلمانانو ته جنگ او قتال روا دی ، نو د کتاب اوسنت اواجماع د امت نه همدا ثابتيږي، چې اصل په داسې ځمکه او علاقه کې مسلمان ته د اوسيدو حرمت دی، مسلمان ته دلته قطعاً اوسيدل حلال اوجائز نه دي، لکه مخکې په ثلورمه مسأله کې ددی وضاحت وشو. مگر د هغو أهدافو لاس ته راوړو دپاره کوم چې دمتعددو أعذارو په صورت کې مونږ په اومه مسأله کې په توفيق دالله تعالی ذکر کړي دي هغی ته مراجعه وکړئ.

نو د جواب خلاصه همدا ده چې بغير د کوم مقبول عذر څخه چې مونږ دا اعذار پورته ذکر کړل هيڅ مسلمان ته جائز نه دي، چې هغه دکفارو ملک ته سفر وکړي، هغه که د اوسيدو دپاره وي او که د سير او چکرلپاره وي.

نو اوس تاسې خپله دی کې هم لږ څه فکر وکړئ چې هغه انسان چې دارالکفرکې اسلام راوړي نو هغه باندې له دی ځايه دارالسلام ته هجرت کول فرض دي، چې کله هغه په اظهار د دين باندې قادر نه وي ،نو هلته اوسيدل ورته حرام دي ،چې دی باب کې راغلي شديد وعيدات او دلائل مونږ د دريمې مسألي په وضاحت کې ذکر کړي دي، نوبيا هغه کس ته به څنگه جائز وي، چې هغه پيدايشي مسلمان وي اوځانته مسلمان هم وايي او هغه دی دارالکفر ته ځي علامه ابن رشد المالکې رحمه الله فرمايي: فصل فإذا وجب بالكتاب والسنة وإجماع الأمة على من أسلم ببلد الحرب أن يهاجر ويلحق بدار المسلمين ولا يثوي بين المشركين ويقيم بين أظهرهم، لئلا تجرى عليه أحكامهم، فكيف يباح لأحد الدخول إلى بلادهم؛ حيث تجرى عليه أحكامهم في تجارة أو غيرها، وقد كره مالك - رحمه الله تعالى - أن يسكن أحد ببلد يسب فيه السلف، فكيف ببلد يكفر فيه بالرحمن وتعبد فيه من دونه الأوثان، لا تستقر نفس أحد على هذا إلا وهو مسلم سوء مريض الإيمان.

ژباړه: فصل دی په دی کې چې کله په کتاب سنت او اجماع دامت سره دا واجب شوه ، چې که څوک په دارالحرب (دارالکفر) کې اسلام راوړي، نو هغه به هجرت کوي او د مسلمانانو کور سره به ځان پيوست کوي ا ونه به پاتې کيږي دمشرکانو سره ،چې د هغوئ ترمنځه واوسيږي، ددی دپاره چې د هغوئ احکام پرې جاري نه شي نو دا به څنگه يو چاته جائزشي ،چې د هغوئ ملکونو ته داخليږي، چې د هغوی احکام پرې جاري کيږي هغه تجارت دپاره ځي او که بل څه دپاره . بيا فرمايي او امام مالک رحمه الله مکروه گڼلی دا چې يو کس دی په هغه ځاي کې واوسيږي، چې هلته سلفو ته کنځل کيږي، نو څنگه به بيا جائز وي اوسيدل ،يومسلمان ته په داسې ملک کې چې په رحمان ذات په کې کفرکيدای شي او د هغه پرته په کې د بوتانو عبادت کيدای شی نو راحت نه مومي زړه ده يوچا په داسې اوسيدو مگر هغه بد (ناکاره) مسلمان چې ايمان يی مريض شوی وي المقدمات الممهدات ۲/۱۵۳

دويم جواب: الجواب بتوفيق الله الوهاب دادی چې د موجوده کفري ملکونو حکم بار،بارمعلوم شو ،چې هغه دارالحرب او دارالکفر دی، مسلمانانو ته دلته جهاد کول روا دي، هيڅ مسلمان ته پرته له هغو أعذارو چې مونږ ذکر کړل اوسيدل هرگزجائز او روا نه دي اودا کومې خبرې چې دوئ د اوسيدو دپاره عذر گرځوي نو دا قطعاً عذرونه نه دي.

اول : ځکه که دوئ دارالکفر ته د امن په خاطر ځي، نو دا کارخپله د الله او د هغه د نبي صلی الله عليه وسلم د حکم او امر ضد او برعکس اعتقاد لرل دي، ځکه الله او رسول (صلی الله عليه وسلم) دارالکفر دارالحرب گرځولی دی، او ددی معنا مونږ باربار ذکر کړه، چې دلته جنگ قتال او هرقسم رعب او ويره خپرول مسلمانانو ته جائز دي، خو ده ددی خلاف هغوئ د خپل طرف نه په امن کې وگرځول او هغوی ته يي د جنگ بندئ اوعدم عداوت لاس ورکړ.

دويم: داپه مسلمانانو د کفارو څخه زيات نيک او ښه باور کونکې اومعتقد دی ، چې الله فرمايی دا هيڅ کله ستاسې خيرخواه او ستاسې په مال ،عزت، دين او ايمان باندې آمنين نشي کيدای ، خو دی انسان د الله رب کريم او د هغه د نبي صلی الله عليه وسلم جمله أگاهی او خبرداری عبث وگاڼه او هغوئ يي په ځان دين ايمان او مال باندې آمنين وگڼل

دريم : د کفارو سره قتال اوجنگ بندول صرف دری صورته لري

الف : ـــ کله چې کفار اسلام راوړي

ب : ـــ يا دا چې(جزيه) ورکړي

ج : ـــ يادا چې عهد (سوله) وکړي، ددی نه پرته کفارو سره مسلمان هيڅ وخت کې جنگ او قتال نه متوقف کوي، بس چې چرته يی هم وينې او وسعه يی پرې برشي نو وينه او مال به يی مباح گڼي خو دلته دا ځانته مسلمان ويونکی دغه حربي کافر په ځان دين اومال امين او خپل محافظ او هغه ته ځان دوست معرفی کوي نود دی ځانته مسلمان ويونکې دغه عمل او کردار دکتاب اوسنت او د شريعت د اصولو او اسرارو نه سراسر مخالف دی.

ثلورم: ـــ دا چې کله دوه ضرره انسان ته متوجه شي او ددی نه چاره نه وي ،چې يو به په کې خامخا قبلوي ،نو بيا د شريعت نه مستنبط دا قاعده ده چې په دې کې به اخف الضررين يعنی کوم ضرر چې وړوکې وي، هغه به اخستلی شې، ددی دپاره چې غټ اوسخت ضرر نه پری ځان بچ کړای شې او دليل په دی قاعدی عمل د خضرعليه السلام عمل دی، چې هغه د الله په امر کشتئ سورئ کړه ، چې ظالم بادشاه يي غصب نه کړي، ځکه که کشتئ غصب شوی وی ، نو ضرر غټ وو او سوری کيدل دا وړوکې ضرر دی ، ددی جبيره ممکن وي، الله متعال يی قول قرآن کې نقل کړی چې هغه وويل " فأردت أن أعيبها"نو اوس ددی قاعدې موافق مونږ ددی ځانته مسلمان ويونکې نه پوښتنه کوو چې تاته کوم ځای کې خطر دی او ته اصلاً د کوم ځاې اوسيدونکې يي مثلاً که دا د داسې ځای اوسيدونکې وي، چې هغه دارالکفر الطاري وي، لکه موجوده د مسلمانانو ممالک ، چې حکام يي مرتد شوي او د غيرالله قوانين په کې نافذ دي، نو که مثال افغانستان کې ورته خطره وي او داخطره يقيني دده دين مال عزت او ايمان او ژوند ته متوجه وي او ده ته بله لاره نه وي، نو بيا دی د اصلي دارالکفر په مقابل کې بل طاري دارالکفر ته لاړشي لکه پاکستان ،ترکيه، سعودی، تاجکستان وغيره ځکه دا هم دارالکفر دی، خو دومره ده چې ددی ضرر بيا په نسبت د اصلي دارالکفر ډيرکم وي ځکه دی ممالکو کې غالب اوسيدونکي مسلمانان وي او اوس دارالاسلام نه وي.

پنځم : ـــ موجوده ټول کفري ممالک د خپل کفري نظام اوقانون موافق داسې پناه ورکونکو ته خپلې ټولې مادی وړاندې کوي، که يوه يی هم ونه منلی شي، نو هغه ته خپل ملک کې د اوسيدو اجازه نه ورکوي. الغرض خلاصه يي دا چې د هغې ملک متابع او دفاع کونکې

به ګرځي او چې کله انسان د کفري قانون داسې متابع شي نو دا په الله او د هغه په رسول کافرګرځي نو لهذا د امن غوښتني په نوم دغه اوسيدل دا دکفري نظام اوقانون منل دي اوڅوک چې دکفر يوحکم په ظاهره ومني، اګر که زړه کې ترينه کرکه او بغض کونکې هم وي، نو دا مرتد دی د خسر الدنيا والآخرة مصداق دی، والعياذ بالله تعالى ځکه سلفو مسلمان ته هغه تجارت کول د دارالکفر نه مغلظ حرام ګرځولي، چې هغې کې د کفارو أحکام او د هغوی قانون پرې تطبيقيږي وګورئ اومه مسأله اګرچې دا د ابد دپاره هم نه وي، نو چې يو سړی د ټول عمر تيرولو لپاره دغه کار ته زړه خه کوي، هغه ته څنګه دا کار حلال اوجائز وګرځول شي اوڅنګه به دا مسلمان پاتی شي، چې په رضا اوخوشحالۍ د کفري ملک او قانون تابعيت ته غاړه ږدي او هغې ته منقاد ګرځي اوددی نه بيا وخت په وخت نور څومره اسلامي نواقض توليديږي نو دا په هيڅ عاقل مسلمان باندی پټه نه ده ، نو خبره همدا ده چې دا هغه صريح ردّت دی ،چې کونکې يې د اسلام د دائرې څخه خارج ګرځي والعياذبالله تعالى .

شپږم : ـــ داچې نه يواځې دا بلکه د ده اهل اوعيال د هغې تربيت ، عقيده ،نظريه ددی ټولو به څه حال وي، څنګه به يو نوپيدا بچې خپل رب وپيژني چې په داسې ملک کې اوسيږي او غټيږي، چې هلته د الله په ځای د غيرالله عبادت کيږي، د شريعت په ځاي جهالت اوطاغوت نافذ وي، حيا ،عزت او شرم په کې له سره وجود نه لري، بې حيايي او فحشا سود او حرام په کې دين اوعبادت ګڼل کيږي، نوددی هرڅه ذمه دار به د قيامت په ورځ همدا په خپله وي،ځکه د الله تبارک وتعالى امر دی، فرمايي: **قُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ .**

ژباړه: بچ کړئ ځانونه خپل او اهل عيال او اولاد خپل د اورڅخه هغه اور چې خس اوخاشاک يې انسانان او ډبري دي، خو دا ددی برعکس خپل ځان او اولاد جهنم ته برابروي اعاذنا الله واياكم من ذلك . ځکه نه اوس دا او نه دده اهل د کفر او کافرانو نه براءت کولی شي کوم چې د دين اسلام اساسي ماده ده اونه د اسلام ددين اظهارکولی شي او نه کفار دوی ته ددی اجازه ورکوي اظهار ددين نه څه مراد دی ؟ داموږ په څلورمه مسأله کې بيان کړي، که ضرورت محسوسوئ رجوع ورته وکړئ، نو دا او دی ته ورته نورهم ډيری ايماني اوعقيدوي تاوانونه او أضرار شته چې دوی ته متوجه، بلکه دوی ته يې کلکه غاړه ورکړې، چې په هيڅ صورت کې دوی له هغی څخه ځان نه شی ژغورلای.

اوم : ـــ بيا پوښتنه کوو چې دغه خطر چې ده ته متوجه دی، دا دکافر او مرتد له لوری دی، که د مسلمان. که دکافر او مرتد له لوری وي، نو څنګه مسلمان ځانته وايي او د کافرنه د کافر مقابل کې پناه غواړي، بل دا به څنګه مسلمان وي، چې هغه ته د کافر نه خطر متوجه نه وي، ځکه د کفر او اسلام معرکه د انسان د ايجاد سره فوراً متصل شروع شوی، نو ځان دکافر نه په دی ډول په امن کول چې بل کافر ته په کې سرټيټی ذلت اومهانت راشي جايز نه دی، نو چې د کفری نظام او قانون احکام پری تطبيقيږي او هغی ته منقاد کيږي دا خو بيخی کفراو ردت دی

اوکه بالفرض دغه خطره ورته د مسلمان څخه وي، نو کتاب اوسنت ددی هم حل ښودلی دی ،که د قصاص مسأله وي، هغه دی په ديت راضی کړي،که نوری شخړی وي، نو هم قرآن اوحديث کې د هغې حل شته خو دا په کې قطعي نه شته چې د دی مقابل کې دی له کافر څخه د هغه د قانون د سيوري لاندې امن وغوښتلی شي، نو د دی نه معلوميږي، چې دا د امن ،امن نوم ذکر کول داهسی طفل تسلي ده.

نور د ده ظاهر دليل دی په خراب والي د باطن دده ، ځکه دا هغه ولاء (دوستی) اونصيحت (خيرخواهی) دی ته مجبورکړ، چې د کفارو سره يی لري او الله تبارک وتعالى فرمايی **{يا أيها الذين آمنوا لا تتخذوا اليهود والنصارى أولياء بعضهم أولياء بعض ومن يتولهم منكم فإنه منهم إن الله لا يهدي القوم الظالمين"** ژباړه: ای ايمان والاو مه نيسئ يهود اونصاری په دوستی سره بعضی د دوی د بعضو نورو دوستان دي اوچا که دوستي وکړه، په تاسې کې ددوی سره بس دا د دوی څخه شو ، بی شکه الله ښودنه نه کوي (دجنت اوحق) ظالمانو ته . ددی ايت په تفسير کې جمله مفسرينو همدا مقصود ذکر کړی چې دوستي کونکې د کفاروسره دا کافرګرځي .

چې د هغی جملې څخه به د يو څو اهل علمو أقوال نقل کړم :

امام المفسرين علامه ابن جرير الطبري رحمه الله ددی په تفسير کې فرمايی: من تولى اليهود والنصارى من دون المؤمنين فإنه منهم. أي من أهل دينهم وملتهم، فإنه لا يتولى متول أحدا إلا وهو به وبدينه وما هو عليه راض، وإذا رضيه ورضي دينه فقد عادى ما خالفه وسخطه وصار حكمه حكمه. ژباړه: چاچې د يهودو اونصاراو سره دوستي وکړه بغير د مؤمنانو څخه نوپس دا د دوی(کفارو) څخه وګرځيده يعنې دا د دوی ددين او ملت څخه وګرځيده ځکه چې دوستي نه کوي، يو دوستي کونکې د چاسره مګر داچې دا په هغه او د هغه په دين او هغه څه باندی چې دا پری معتقد وي، راضي وي او چې کله دا په هغه او د هغه په دين راضي شونو ده اوس يقيني دښمني شروع کړه دهغه چا سره چې دده د دوست مخالف دی اوهغه يی بدګڼي نوبس دده حکم د هغه د حکم غوندی شو تفسير الطبري ٦/ ٢٧٧

علامه ابن حزم رحمه الله فرمايی صح أن قول الله تعالى: {ومن يتولهم منكم فإنه منهم} إنما هو على ظاهره: بأنه كافر من جملة الكفار، وهذا حق لا يختلف فيه اثنان من المسلمين. ژباړه: صحيح دی دا قول چې بې شکه د الله تعالى دا وينا چې چاچې له دوی سره په تاسې کې دوستي وکړه، نوبس بې شکه داد هغوی څخه شو " دا په خپل ظاهر باندې حمل دی ، داسې چې داکافر دی د جمله کفارو څخه او دا هغه حق قول دی ،ددې ايت په تفسير کې) چې دمسلمانانو څخه دوه کسانو هم په دی کې اختلاف نه دی کړی المحلى ١٣/ ٣٥

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله ددی ايت په تفسيرکې فرمايي أخبر الله في هذه الآية: أن متوليهم هو منهم وقال سبحانه: {ولو كانوا يؤمنون بالله والنبي وما أنزل إليه ما اتخذوهم أولياء "فدل على أن الإيمان المذكور ينفي اتخاذهم أولياء ويضاده ولا يجتمع الإيمان واتخاذهم أولياء في القلب. فالقرآن يصدق بعضه بعضا.

ژباړه: الله په دی ايت کې خبر ورکړی چې بې شکه دوستي کونکې د کفارو څخه به د هغوی څخه ګرځي او دغه ډول الله سبحانه وتعالى فرمايي او که چرته دوی په الله اورسول اوپه هغه څه چې په دی نبي نازل شوي مؤمنان وای نودوی (کفار) به يي په دوستی نه واي نيولی "الإيمان لابن تيمية صــ١٤ دغه ډول علامه ابن القيم رحمه الله فرمايي: إن الله قد حكم ولا أحسن من حكمه أنه من تولى اليهود والنصارى، فهو منهم " ومن يتولهم منكم فإنه منهم " فإذا كان أولياؤهم منهم بنص القرآن كان لهم حكمهم.

ژباړه: بې شکه الله حکم کړی اونشته ډيرخايسته په اعتبار دحکم سره دالله نه بې شکه هغه دا چې که چا د يهودو او نصاراو سره دوستي وکړه نو دا د هغوی څخه شو نو چې کله دوستان د دوی له همدوی څخه ګرځی ،په دليل د قرآن دوی د هغوی حکم اخلي أحكام أهل الذمة ١/ ٦٧

نو بناء ددی اهل علمو ددی تفسير موافق داخبره کوو چې د امن په نوم دارالکفرکې د

کفارو ترمنځه اوسيدل د هغوی قانون او مادی منل او هغوی سره عداوت ختمول دا د اسلام د دين نه وتل او په کفري باطل دين کې داخليدل دي، که مرتکب يې اقرارکوي او که انکار خو دا پرې داسلام نه خارجيږي، دوخت اوعصر ډيری هغه خلک مونږ مشاهده کړل چې هغوی داسې ښارونو ته صرف د موقت وخت دپاره مزدورۍ ته تللي، بيرته مرتد او بې دينه راګرځيدلي او ډير کم يې داسې دي، چې د غليظ فسق نه خو په هيڅ صورت کې خالي نه وي، الا ماشاء الله ورحم عليه وحفظه من الدنس.

نود امن بهانه دا نه عذر دی او نه اسلام ددې په جواز باندې قائل دی والله اعلم.

داشو د امن متعلق ددوی د بهانې جواب راځو د عصري علومو د زده کړې متعلق جواب ته

١: اول جواب دادی چې که عصري علوم زده کول ځومره هم ضروري شي، دغه ضرورت ددې توان اوطاقت نه لري چې حرام اوناروا ورته حلال او روا وګرځي نوسفرکول دارالکفر ته اصلاً حرام او دضرورت په بناء جائز دي او هغه ضرورتونه مونږ اومه مسأله کې ذکر کړي ، په کفري ملکونو کې نن با تعليم کول قطعاًنه دي

٢: جواب دادی چې کفار کفار وي داپه هيڅ وخت کې دوستان نه شي کيداي ،خو که بالفرض والتقدير د مسلمانانو عامه منفعت ددی تقاضاکوله ،چې دغه تعليم دی حاصل شي او ددی نه بغير بله هيڅ لاره نه وه نواول دی پوره کوشش صرف شي په دی کې چې دغه ضرورت دمسلمان استاذ ځخه ترلاسه شي اونن صباح ددی ډيری سهولتونه موجود دی مسلمان استاذ ته ممکن وی چې دغه حاجت پوره کړای شي اوکفارو ته بيځي ضرورت رانه شي ځکه د استاذ په شاګرد ډيرتأثير کيږي ځکه خو به سلفو دمبتدعينو اوباطل پرستو ځخه ددين زده کړه نه کوله ،ځکه چې داستاذ نظراکثر د شاګر نظرګرځي،خو که ددی ټول کوشش باوجود بياهم دغه عصري علوم دمسلمانانو ځخه نه شو زده کيداي او دغه ممکن نه وو اوضرورت يې دومره اشد و،چې د مسلمانانو د عامه منفعت تقضاوې په بل ځه نه جبيره کيدې، نوبيا دی اول دا کوشش وشي چې د دی دپاره داسې کفار خاص شي چې حربي نه وي، ياذميان وي يا معاهدين وي.

خو دا چې نن ددی دواړو ځخه يوقسم هم نه شته اوضرورت دی تعليم ته اشد وي، نو بيا دی د يهودو پرځای نصارا خاص شي، ځکه عداوت دنصاراو په نسبت د يهودو کم دی .

بل داهم واورئ چې که بعضې أهل علمو د داسې علم زده کونکو ته دارالکفر ته د تلو اجازه ورکړي، نو هغوی هم مطلق اجازه نه ده ورکړي، بلکه دايې په هاغه صورت کې ورکړي، چې دغه زده کونکي خپله د اسلامی عقيدې نه پوره خبر ولري، د کفارو عداوت اوخيانت باندی معتقد وي، چې دايو خائن قوم دی ،هيڅکله د مسلمانانو په خيراوفائده نه تماميږي او دلته مسلمانانو سره دغه علم نه وي، نوبيا تلای شي خو دغه شرطونه به ملحوظ وي:

١: خپله به زده کونکي د صحيح عقيدې خاوند وي د نورو علومو تر ځنګ د ولاء او براء علم به ورته خاماخا وي .

٢: د خپلو مسلمانانو سره به روابط پالي .

٣: حلال اوحرام به پيژني دحق اوباطل ترمنځه به تميز اوفرق کولی شي .

۴: دغه علم چې کوی عبث علم به نه وی بلکه مفيد به وی اومصلحت به يکې اجتماعي وي.

۵: دغه علم به دفائدې په لحاظ شخصي نه وي، بلکې فايده به يې ټولو مسلمانانو ته عامه وي .

٦: دمسلمانانو سره به يې زده کول ممکن نه وي.

٧: اوسيدل به يې صرف د دی علم تر حاصلولو پورې وي .

٨: هلته به په ده د کفارو قانون او نظام نه جاري کيږي.

٩: نارينه به وي، زنانه به نه وي.

١٠ : نارينه به هم عاقل او بالغ وي، ساده او نابالغ به نه وي.

نوکه يوشرط هم په دی شروطو کې پوره نه شي، بيا تلل حرام او ناجائز دي، ځکه دا تلل بيا ده ته دايمان اوعقيدی د بربادولو ځخه بغير په بل ځه نه تماميږي، نو بيا د جواز فتوی شنيع جرأت او د مفتي په حق کې د"فَضَلُّوا ، وَأَضَلُّوا " مصداق دی

نو اوس دی په دې کې مسلمانان خه سوچ وکړي چې دا شروط صرف هغه چاته چې هغه تنها د تعليم دپاره دارالکفر ته ځي ، نو چې کله يوسړی د تعليم په نوم د ټول فاميل سره دارالکفر کې اوسيږي، هغوی ته خو قطعاً ددی جواز نه شته والله اعلم وعلمه اتم واحکم .

او کوم چې د دوی د کاروبار کول دي په کفري ممالکو کې، نو په دې اړه جواب دادی چې دا کاروبار به له دوه قسمه ځخه خالي نه وي.

اول : يابه تجارت کوي، دارالکفرته به مال وړي او يا به له هغې ځای ځخه مال راوړي .

دويم : او يا به هلته داخل کې مزدوري کوي او اوسيږي به، نو کوم چې تجارت دی نوددی په اړه مونږ په اومه مسأله کې وضاحت کړی، که په اړه يې وضاحت ته ضرورت وي هلته سر وربشکاره کړئ ، او کوم چې هلته د مزدورۍ دپاره اوسيدل دي، نو داخو په هيڅ صورت کې جايز نه دي، د هاغو ايماني بربادېو د وجهې نه چې په عقل لرونکو مسلمانانو پټې نه دي، کومې چې کفري ممالکو کې د مزدورۍ دپاره د تلونکو انسانانو د أحوالو او اوصافو نه معلومې دي، ،بس خلاصه داچې اسلام کې د خيټې دپاره هجرت قطعاً نه شته بلکه دا په الله متعال بدګماني او بې باوري ده داسې خلک چې کفارو سره زړه کې بغض لري او دين اسلام خپل دين ګڼي او محبت ورسره هم کوي او صرف د دنيا دحصول لپاره کفري ملکونو ته ځي، نو دا کاريې غليظ فاسق ګرځوي، علامه سحنون رحمه الله فرمايي: من رکب البحر الی بلد الروم فی طلب الدنيا فهی جرحة عليه .

ژباړه: ځوک چې روم ته په سمندر کې د دنيا د طلب لپاره سفر وکړي ، نودا کار په ده باندې داغ لګول دي ،يعنی دا اوس ددی قابل نه دی، چې ګواهي يې قبوله شي، حسن بصري او اوزاعي رحمه الله داسې کس ته فاسق ويلی دی ،وګورئ الجامع لمسائل المدونة ١٣/٩٩٣ علامه ابو اسحاق البرقي رحمه الله فرمايي: که دغه ډول تلونکي دشريعت له احکامو ځخه جاهل وي، نو بيا به تعذير ورکولی شي، کما فی نفس المصدرالمذکور،نو هغه خلک چې کفاروسره زړه کې بغض نه لري، محبت ورسره کوي او قانون او نظام يې د شرعي قانون اونظام نه محبوب ګڼي، نو داکه دارالاسلام کې هم وي، کافرګرځي پاتې خو لا داچې دارالکفر ته تلی وي.

د دويم سوال ځواب: دادی چې مخکې بار، بار دا ذکر شوه چې اصل په درالکفر کې حرمت دی د اوسيدلو ،که دغه حرمت په جواز بدليږي نودا به مؤقت او د يوضرورت په بناء وي، کوم چې مونږ دغه بحث د أومی مسألی په وضاحت کې ذکر کړ.

اوس داچې يو انسان له دغه ذکر شويو اعذارو پرته دارالکفر ته لاړشي ،نو هغه به دالله او د رسول نافرمان اوحتی بعضو صورتونو کې به يې دغه تلل دايمان په زوال تماميږي.

اوکوم چې تاسې په پوښتنه کې د اوسيدونکو د حال متعلق ذکر کړی، چې د هغوی لائحی او دساتير ومني، هغوی به دوستان ګڼي دفاع به يې کوي، که په دی ملک چرته بالفرض ځوک حمله وکړي، ولو که مسلمانان هم وي، دوی به يې مقابله کوي اومخه به يې نيسي او دغه ډول نوري هغه مادی چې د تابعيت پورې اړه لري لاحول ولاقوة الا بالله

نود داسې انسان په کفراو

ردت کې به اوس څه شک او د تردد ګنجائش پاتې شي، چې دارالکفر کې ،د ابدي ژوند او زندګۍ تیرولو په پار د هغی ځای تابعیت غواړي، چې دا ځان د هغوی څخه وګڼي، د هغوۍ نظام خپل نظام ګڼي، د هغی نظام اوقانون مخالفت بدګڼي او د هغوی هره فیصله اومحکمه په سر اوسترګو قبلوي، هغوی دوستان او بیا دوستان یي دوستان ګڼي او د هغوی دښمنان خپل دښمنان ګڼي، نو دا خوبیا هغه صریح ردّت دی، چې فکرنه کوم دأهل علموڅخه څوک په دی حکم کې اختلاف ولري، ځکه موجوده عصرکې کفري ممالکو کې د اوسیدو جواز او اجازه د کفارو له لورې هغه وخت یو انسان ته ورکول کیږي، چې هغه د هغویډ قانون، نظام ،دستور،ملکي حدود او د نظام ټولې مادې، ددوې ددین او عقیدی په توګه ومني او د هیڅ کارعمل او دین او د کفارو د جوړو کړو ټولو کفري قوانینو مخالفت به یي نه کوي او دی کې خو بیخي شک نه شته چې دغه کارخپله په کفر اقرار کول اومنل دي، اګر که زړه کې ترې کرکه هم کوي، نو دا ډول انسان مرتد ګرځي، په دی کار اودا کار دده ترجیح ورکول دي، کفر ته په اسلام باندی او کافرو ته په مسلمانانو باندی، او دار الکفر ته په دار الاسلام باندې، نو دی باب کې ټول وعیدات چې کتاب اوسنت کې ذکر دي، هغه به ټول دداسې انسان په حق کې په حقیقت اوخپل ظاهر باندی حمل وي او دغه ډول انسان به دنیاکې مرتد او په اخرت کې به د الله د عذاب مستحق ګڼل کیږي، نو داچې هرڅوک وي، له ده نه براءت لازمي دی، الله تبارك وتعالی په سُورَةُ التّوبَة ۲۳ او ۲۴ نمبر اياتونو کريمه وو کې فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَتَّخِذُوٓا ءَابَآءَكُمْ وَإِخْوَٰنَكُمْ أَوْلِيَآءَ إِنِ ٱسْتَحَبُّوا ٱلْكُفْرَ عَلَى ٱلْإِيمَٰنِ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ.

قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ .

ژباړه: اې مومنانو! خپل پلرونه او وروڼه هم خپل دوستان مه نیسئ، که چیري هغوی پر ایمان باندې کفر ته ترجیح ورکړي. ستاسې څخه چې څوك هغوی په دوستۍ ونیسي، همغوی به ظالمان وي.

ووایه أي پیغمبره! که ستاسې پلرونه، ستاسې زامن، ستاسې وروڼه، ستاسې میرمنې، ستاسې خپل خپلوان، ستاسې هغه مالونه چې ګټلي مو دي، ستاسې هغه تجارت چې د هغه په ورانېدو اندېښمن کیږئ او ستاسې د خوښې کورونه؛ تاسې ته له الله او د هغه له پیغمبر او د هغه په لار کښې له جهاد څخه ګران وي، نو انتظار وباسئ تر دې پورې چې الله خپله فیصله ستاسې مخې ته راولي، او الله فاسقانو ته لارښوونه نه کوي.

علامه مفسر قرطبي رحمه الله فرمايي ظاهر هذه الآية أنها خطاب لجميع المؤمنين كافة، وهي باقية الحكم إلى يوم القيامة في قطع الولاية بين المؤمنين والكافرين‌وروت فرقة أن هذه الآية إنما نزلت في الحض على الهجرة ورفض بلاد الكفرة. فالمخاطبة على هذا إنما هي للمؤمنين الذين كانوا بمكة وغيرها من بلاد العرب، خوطبوا بألا يوالوا الآباء والإخوة فيكونوا لهم تبعا في سكنى بلاد الكفر" إن استحبوا" أي أحبوا، كما يقال: استجاب بمعنى أجاب. أي لا تطيعوهم ولا تخصوهم. وخص الله سبحانه الآباء والإخوة إذ لا قرابة أقرب منها. فنفى الموالاة بينهم كما نفاها بين الناس بقوله تعالى:" يا أيها الذين آمنوا لا تتخذوا اليهود والنصارى أولياءومـن يتولهـم منكم فإنـه منهـم إن اللـه لايهـدي القـوم الظالمين"

ليبين أن القرب قرب الأديان لا قرب الأبدا.

ژباړه: اوظاهر ددی ایت دادی چې داخطاب دی ټولو مؤمنانو ته او دا حکم به تر قیامته پورې د کافرانو سره د دوستۍ د قطعه کولو په اړه باقي وي. اویوې ډلی د راویانو دا روایت کړی، چې دا ایت نازل شوی په ترغیب ورکولو هجرت ته او په پریښودلو دښارونو د کفارو نو مخاطب په دی کې هغه مؤمنان دي، چې په مکه او نورو ښارونو دعربوکې اوسیدل، دوۍ مخاطب کړاې شول ،په دی چې دوۍ دی د پلرونو او ورونو سره دوستانی نه کوي، چې دوۍ د هغوی ملګری شي په پاتی کېدو کې په ښارونو کې د کفر دان استحبو معنی ده یعنی محبت کول لکه څنګه چې ویل شوي چې استجاب د جواب په معنا راځي، یعنی د دوۍ پلرونو او ورونو چې دوۍ کفر په ایمان خوښوی) طاعت مه کوئ او مه خاص کوئ دوۍ په دی دوستۍ کې او الله سبحانه پلرونه او ورونه خاص (ذکر) کړل ځکه چې ددوۍ نه بل نږدې قرابت نه شته، نو د دوۍ ترمنځه یی دوستي ختمه کړه ،لکه څنګه یی چې دخلکو(نوروکفارو اومؤمنانو) ترمنځه ختمه کړی ده ، په دی وینا چې فرمایلی یی دي ای دایمان والاو مه نیسئ یهود اونصاری په دوستۍ سره اوچاکه په تاسې کې د دوۍ سره دوستۍ وکړه ،نو هغه د دوۍ له ډلي څخه وګرځیده ، دا یي ددې لپاره بیان کړې ده چې نیزدیکت (دوستي) به د دین په وجه وي، نه د بدن او رشتې په وجه .تفسیر القرطبي ۸/۹۴.

علامه ابن کثیر رحمه الله ددی ایت متعلق فرمایی أمر الله تعالى بمباينة الكفار به، وإن كانوا آباء أو أبناء، ونهى عن موالاتهم إذا (استحبوا) أي: اختاروا الكفر على الإيمان، وتوعد على ذلك كما قال تعالى: {لا تجد قوما يؤمنون بالله واليوم الآخر يوادون من حاد الله ورسوله ولو كانوا آباءهم أو أبناءهم أو إخوانهم أو عشيرتهم أولئك كتب في قلوبهم الإيمان وأيدهم بروح منه ويدخلهم جنات تجري من تحتها الأنهار} الآية

ژباړه: امرکړی دی الله تعالی ،په دی ایت کې په جداوالي د کفارو څخه اګر که دغه کفار یي پلرونه او ځامن هم وي اومنعه یي کړل دوۍ، د هغوی د دوستۍ څخه که چرته هغوی کفرته په ایمان باندی ترجیح ورکړه او وعید یی اعلان کړ، لکه څنګه یی چې فرمایلي دي "او داسې قوم به ونه مومې چې هغه په الله او د الله په رسول او په ورځ د اخرت ایمان هم لري او بیا دې د هغه چاسره دوستي کوي چې هغه د الله او د الله د رسول دښمنان وي ، اګرکه هغه د دوۍ پلرونه وي، د دوۍ زامن وي، د دوۍ وروڼه وي او که ددوۍ د قبیلې وي، دا هغه خلک دي چې الله د دوۍ په زړونو کې ایمان لیکلی دی اومضبوط کړی دی د دوۍ

په روح باندی د خپل طرف نه او داخل به کړي، دوۍ لره (په اخرت کې) جنت ته، هغه چې لاندی د هغی څخه نهرونه دي تفسیر ابن کثیر ۴/۱۲۱

داشو د کفارو نه د برآءت متعلق د یو څو مفسرینو أقول چې داختصار په دائره کې مو د نورو ډیری مفسرینو أقوال پریښي دي، بس خلاصه دا که دکفري قوانینو دغه ډول منل او دارالکفر کې دغه ډول اوسیدل جواز لرلی، نو قسم بالله کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه نبي صلی الله علیه وسلم د کفارو له لورې په تعذیبونو اوسختیو باندې داسې برقرار پریښي وی ،نو معلومه شوه چې دلته نه صرف یواځې اوسیدل بلکه د کافرحاکم کفري حکم منل او په هغی رضا لرل دا ټول هغه ښکاره نواقض دي، چې دغه اوسیدونکي یي د ایمان له دائری څخه خارج کړي دي، اعاذنا الله وایاکم من ذلک ،ددی قسم خلکوکفر په اړه لا زیات دلائل د لومړي ځواب په تشریح کې بیان شوي دي والحمد لله رب العالمین.

د دریمې پوښتنې ځواب : بغیر له شرعي اعذارو څخه د کفارو سره اوسیدل حرام اوناجائز دي، نو مختلط تعلیم او د هغوی د نصابونو زده کړه لکه څنګه چې پوښتنه شوی قطعاً ناجائز او حرام دي داسې خلک چې هغوۍ ځانونه اسلام ته منسوبوي او د اصلي کافرو په ملکونو

کې اوسیږي، نو که د هغوئ تابعیت یی منلی وي، دا په نفس منلو د هغوی دنظام اوقانون کافرګرځیدلي دي، نوبیا د مختلط تعلیم نه بحث کول مفید نه دی او که بالفرض د هغه ځای تابعیت نه لري، په پټه په غلا او نورو ورته شکلونو وغیره اوسیږي، هغوئ کفارګني،بغض او کینه هم ورسره لري ، اسلام او مسلمانانو سره له زړه نه محبت لري د توحید عقیده لریو خو له دې حکم څخه ناخبره وي، چې هلته اوسیدل حرام دي، نو بیا ددی نه د خبرولو پورې معذور دی ،چې کله ورته د دی علم وشي باید ځان له هغوئ څخه جدا کړي.

اوکوم چې د دوئ د بچو د کفارو سره د مشترکه زدکړو او دنیوي تعلیماتو دحاصلولو خبره ده، نو د کفارو هغه ښکاره اوپټه دښمني او کینه چې مونږ ته الله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم د هغې متعلق خبر راکړی دی، هغې نه همدا ثابتیږي، چې دغه تعلیم ددوئ د بچو عقیده او ایمان بربادوي، اسلام ورته ناکاره ظالم او وحشي او کفر ورته خائسته دعدل او د درمیانه روئ دین په صفت ورپیژني اوخپله مونږ په سلګونو داسې خلک لیدلي، چې هغوئ ددی ډول تعلیماتو په سبب د اسلام نه ګیله مند او د کفر څخه راضي شوي دي، لنډ مثال دا وګورئ کله نه چې د مسلمانانو ملکونو باندې کفار برلاسي شوي، کفري او نجس وضعي قوانین پری نافذ شوي، د جهاد اومجاهدینو مقابله شوې او دشرعي نظام دتطبیق مخه نیول شوې او دا دی اوس هم نیول کیږي نو دا ټول د همدی قسمه زده کونکو له کبله دي، چې کفار دمسلمانانو څخه زیات محبوب ګڼي ،کفر د اسلام څخه زیات د عدل ، رفا او پرمختګ دین ګڼي ، نو لهذا دغه ډول مسلمانانو ته دشریعت له طرف نه د خپلو بچو متعلق داحکم متوجه دی ، چې هغوئ دی خپل بچي سمدستي د داسې زده کړوڅخه بند کړي که داسې ونه کړي، نو ددی ګناه به د والدینو او د هرهغه چا دپاره وي، چې ددی مسؤلیت لري او د دی مخه نه نیسي، نو د یو صحیح مسلمان د قیمتي سرمایي څخه داده چې هغه خپل اولاد د توحید اوشریعت منو نکې اوپه هغی عمل کونکې او دفاع کونکې وروزي، نه داسې چې د کفاروپه لاس یي ورکړي، چې ایماني فطرت ورته دړی وړی کړي نسأل الله لنا ولکم العافیة فی الدنیا والآخرة

او په اخره کې مو ټولو هغه خلکو ته دا پیغام دې چې هغه په مختلفو شکولونو په غربي ، اروپایي او نورو کفري ملکونو کې اوسیږي ، زمونږ او هغوی ددی علم نه لري، چې هلته اوسیدل بغیرله دی چې د هغوئ قانون او مادی ومني، په اسلام کې حرام اوناجائز دی ،اهل علمو د داسې خلکو باره کې د غلیظ فسق فتوی جاري کړی ده تردی چې بعضی اهل علم وایی ګواهي به یی نه شي قبلیدای او بعضی وایي چې تعزیر به ورکول کیدای شي، حتی چې داحتیاط په بناء امام ابن حبیب المالکې رحمه الله داهم فرمایی چې ینبغی أن یمنع الإمام من ذلك ویشدد فیه ویجعل الرصد فیه . ژباړه: امام ته په کاردي، چې خلق منعه کړي، ددی تللوڅخه دارالکفر ته اوسختي وکړي په دی کې او داچې ددی مخې ته بند واچوی الجامع لمسائل المدونة ۱۳/۹۹۳

نو هغه خلک چې هغوئ ددی کفري دولتونو مادی، نظام، قوانین اصول اوضوابط مني، نو داخلک خو د اسلام د دین نه په دی سره خارج شوي دي،که دوئ ته ددی علم وي او که نه، ددوئ دغه کار ردت دی او په دی قسم ارتکاب باندی د دوئ دتکفیر دلائل بار،بار ذکر شول چې خلاصه یی داده :

۱: د دوئ دا عمل کفر او کفارو ته ترجیح اوخوښي ورکول دي، په مسلمانانوباندې، او دا کار انسان د اسلام څخه خارجوي والعیاذ بالله تعالی

۲: د دوئ داعمل رضا لرل دي، په کفر د کافرانو، اګر که دوئ د دغه کفر مراسم نه عملي کوي؟! اودا کار انسان د اسلام څخه خارجوي.

۳: دوئ به اوس دغه کفار دوستان ګڼي اوددی کفارو دښمنان به دښمنان ګڼي اود کفارو دښمنان خو بل څوک نه دي ، مګر الله او د هغه رسول او مسلمانان د کفارو دښمنان دي او دا کار انسان د اسلام څخه خارجوي.

۴: که سبا مسلمانان په دی ښار حمله کول وغواړي، نو دا به مشترک د کفارو سره د مسلمانانو مقابله کوي او مخه به یي نیسي اودا کار انسان د اسلام څخه خارجوي.

۵: که سبا دغه یاد حکومت په مسلمانانو حمله کوي او ده ته امر وکړي، نو دا به خامخا په هغې کې ملګری کیږي، ښکاره مثال یی کرزی او د هغه هاغه لوړپوري مأمورین وو چې اروپا کې میشت وو او دصلیب په حمله کې ورسره ملګري شول اودا کار انسان داسلام څخه خارجوي .

دا او دی ته ورته نور هغه اعتقادي کړنې او اعمال چې د دوئ په دی اوسیدوکې دوئ د هغی مرتکب شوي، نو دی ټولو باندی کتاب سنت او اجماع دامت دلیل دی، چې دوئ به دی کارسره مرتد شوي او د اسلام څخه وتلي دي، خو ددی سره سره بیا هم دالله تبارک وتعالی دلامتناهی احساناتو او مهربانیو څخه په بنده ګانو دا احسان اومهرباني هم ده چې د توبی دروازه یي داسې پرانستی چې ترقیامته یی نه بندوي او هر انسان ته یي بیا ددی اختیار ترهغه ورکړی ،چې ترڅو یی مرګ مری ته نه وي، رارسیدلی نولهذا ټولو ته مو دا اعلان دی چې دخپل رب دین اود هغه رالیږلی شریعت د هرڅه نه مخکې محبوب او د عمل قابل وګڼئ او دغه کفار چې تاسې یی ملکونو کې د دنیاد لذتونو په شوق او رغبت کې دکوم جرم مرتکب شوي یاست له دی نه توبه وباسئ دا د الله اود هغه د رسول او د مسلمانانو دښمنان دي، په هیڅ وخت اوقیمت داد مسلمانانو خیرخوا نه شي ګرځیدای دا مو جهنم ته برابروي، دا مو د حیاء او عزت څخه خلاصوي، دوئ به عراق کې څومره اهل السنت مرتد کړل،نو الغرض د کفري ممالکونه راووځئ، ددی غیر شرعي عمل څخه توبه وباسئ، رب مسلمانانو ته لائق امام او خلیفه ورکړی ،که نن نه وي سبا او که سبا نه بل سبا خو ان شاء الله دی ملکونو باندی به اقدامي جهاد شروع کیږي، مسلمانان به یوځل بیا دعزت او مجد دغونډئ په څوکه ورپورته کیږي، په خپل رب خه ګمان وکړئ دا ورځی نږدی دي او ارمان به هرهغه څوک وکړي ،چې په خپل رب بدګمانه وي، اسلام هیڅ کله په مادیاتو او افرادو جنګونه نه دي ګټلي، بلکه دایی په ایماني معنویاتو ګټلي، نو ستاسې خیر خواهي په همدی کې ده چې دغه کفار تاسې ته ستاسې رب دښمنان معرفي کړي دي دوستان یی مه ګڼئ او د دښمن په سترګه ورته وګورئ او دوئ سره د دښمنۍ پاللو په هدف وروسته له توبې د اسلامي دولت لیکو سره یو ځای شئ .

او هلته مېشتو ځوانانو ته مې دا پیغام دې چې په پورته بحث کې ځان وګورئ که په هره درجه کې یاست نو څه ډول چې درڅخه شریعت غوښتنه کړې همغسې عمل وکړئ ، تاسې ځوانان یاست انرژي لرئ ، ډیرې یي د اسلام د دعوو سره ، سره په دې نواقضو اخته دي نو له دې ګندګیو راووځئ ، د اسلامي نظام د قیام په لاره کې خپله انرژي مصرف کړئ او دغه کفارو سره د دښمنۍ پاللو لپاره د اسلامي دولت په صف کې ودریږئ .

والله غالب علی امره ولکن اکثر الناس لایعلمون وصلی الله تعالی علی خیرخلقه محمد وعلی اله وصحبه وسلم

د شفق لمني سرې شوې

د کیمپ وړو همزولو را سره کړې ورځ د کور سامانونه د غټې لارې خوا و شاته راوچلول، ماذیګر قضا مې د خپل ماشومتوب د چمانو او خټو جوړ کیمپ ټیټو دیوالونو سره ولاړو ماشومانو ته د لارۍ له جنګلې په لمدو سترګو د الله په امانۍ لاسونه خوځول .

لارۍ د کیمپ په کچه سړک مخ قبلې لورته روانه شوه، له بره راته ټول کیمپ ښکاریده، چپ لاس ته مې په خپل ښونځي د ورستي ځل لپاره خپل نظر تیر کړ، وطن ته د ستنیدو د خوشالۍ رنګینې شیبې به راڅخه لحظه په لحظه د خاپوړو ددې خړ کلي یادونو پیکه کولې، لارې پاخه سړک ته شوه، خړ ګرد یې تر شا پریښود، شاته مې د ماشوم ژړا واوریده د لارې جنګلې سره جوخت په سامانونو پورته د کورنۍ ښځې ناستې وې، شفق دغه وخت دوه کلن و، لاسونه مې وروغځول، له موره مې راواخست، لږه شیبه پس یې په پستو خپړو کې زما مخ راونیوه او په غټو سترګو کې اوښکې او په شونډو یې موسکا وه .

خپل پلارني کلي بڼې کوټ، باریکاب ته راورسیدو، دلته نو راته غټې برجه وري کلاګانې بیخي سترې ښکاریدې، لارې زموږ د زړې کلا د لرګینې غټې دروازې ترڅنګ ودریده د کلي ګڼ خلک مو استقبال ته راټول و، بیا نو څو ورځې پرلاپسې میلمستیاوې او زموږ څخه مخکې له کیمپ څخه راغلو ملګرو سره خوا او شا کلیو ته چکرې وې، ژوند ډیر په خوند او مینه روان و، شفق هم په نازونو او رنګونو کې رالویده، له ماشومتوبه به ټولو نازاوه، بیا چې زلمې شو هم نو هغه د چا خبره خلې په خلې یې نه ایښوده، سبقونو سره یې هم چندان علاقه نه وه، په زور مې د پوهنتون په وره ورننویست، درسته ورځ د ملګرو سره چکرې او بنډارونه و، او دې به و، ددې هر څه سره مې په پلار زموږ له ټولو زیات ګران و، یوه ورځ موږ ټول ورونه او د تره زامن په دیره کې ناست و، شفق دغه وخت نه و، زما دپلار ملګرې حاجي صیب سمیع الله هم ناست و، الله دې مغفرت نصیب کړي، نوموړي به مې پلار سره ډیره شوخي کوله، دواړو به د پخوانیو وختونو کیسې کولې کله به یې سره لانجه هم شوه د یو ، بل د زلمي توب د شوخۍ حالونه به یې سره ویل او موږ به ورته په مینه خندیدو، حاجي صیب موږ ټولو ته وکتل دغه وخت یې زما پلار ته مخ کړ ورته یې کړه : په زامنو کې درته کوم زوی ډیر ګران دې ؟

پلار مې په موږ ټولو یو ځغلنده نظر تیر کړ، ویل یې : یاره اجي ! دا شرافت خو دادې اوس شته هم نه دې او الله شاهد دې خوږه ګوته مې پې نه ده ترل شوې، تک کار نه کوي خو په ټولو کې راباندې ډیر ګران دې .

رښتیا یې ویل شفق کې د مشرانو د زړونو د ساتلو نا اشنا جوهر و.

د طاغوت په زندګۍ کې به مې ورسره تل په سبقونو لانجه وه، که به مې هر څومره ورټلو، ان زلمې و، ګذارونه به مې پرې وکړل خو مخ به یې نه راګرځاوه.

کله چې زه د اسلامي دولت تمکین ته په دویم ځل د راډیو د فعالولو په نیت راغلم او بیا بیرته ستون نه شوم او الله عزوجل مې همدلته د پاتې کیدو قسمت وکړ، نو د کورنۍ د راغوښتو په فکر کې شوم، له ټولو زیاته سودا مې شفق ته وه چې څنګه به په دې راضي شي چې د ښار رنګونه او خوندونه پریږدي او دې غرونو او مرګونو ته راشي، ځکه شفق له ماشومتوبه ډیر سهولت پسند و، دشفق په نوم مې یو اوږد لیک ټولې کورنۍ ته ولیکه، ټول مې لمړې خپلو تیرو وختونو او بیا د جهاد او هجرت فضیلتونو او په اوس وخت کې زموږ مسولیت او رسالت ته متوجې کړي و او ترینه مې سمدستي د هجرت غوښتنه کړې وه، بیا چې خبر شوم نو شفق همدغه لیک د اوښکو په بدرګه ټولې کورنۍ ته لوستې و، او بې له کوم عذر او پلمې سمدستي تیار شوې و.

دوه ورځې پس مې کورنۍ راورسیده، شفق چې مې ولیده له لرې په خندا و، ویل یې : ډیر ستر ګام دې پورته کړ، ګوره چې په نیمه کې ستون نه شې او ومو نه شرموې .

ورته مې کړه : بس ته چې راسره ملا وتړې ان شاء الله داسې کړنه به ونه کړم چې خجالت شې .

بیا نو تمکین کې د وخت په تیریدو شفق هغه د ښارونو او نازونو نازک شفق نه و، اوس یې نو تورو هیبتي غټو سترګو سره ګورګورتي څښو څیرې ته یو ځانګړې جذابیت او ښکلا ورکړې وه د صورت سره یې سیرت هم تغیر وموند هغه شفق چې په طاغوت کې به مې پلار په زور د سحار لمانځه ته اوچتوه اوس یې نو تمکین کې هره شپه په تهجدو کې غټې سترګې په اوښکو لمدې وې .

هغه شفق چې کله یې د ډز

غبړ نه و اوريدلې دلته نو دومره زړور او سترګور شو، چې د هرې سختې خونړۍ جګړې لمړۍ ليکې ته به رسيدلې و، او د ډرونونو، کروزنو بې باون او بې ون د درنو بمونو په باران کې به يې راپورونه چمتو کول او ملګرو ته به يې ډاډ او حوصله ورکوله .

ډير ژر يې د هجرت په باعظمه ديار کې د ټولو مشرانو او کشرانو په زړونو کې د داسې خوږې مينې کر وکړ چې دادې د ډير وخت په تيريدو لا اوس هم د محبت دا فصل شين او ښيرازه دې .

يوه ورځ د اعلام ټول ملګري د هغه وخت د والي حافظ سعيد خان تقبله الله ځنګ ته لاړو، شفق راسره په دې نيت لاړ نه شو، ويل يي چې ته يي نو ماته حاجت نه شته، خو چې لاړو نو حافظ صيب لمړۍ پوښتنه ده شفق وکړه:

ما ورته کړه چې د هغه راتلو ته اړتيا نه وه ؟

ويل يي : ته څه خبر يي شفق په ما څومره ګران دې، همغه و چې ملګرې پسې واستول، حافظ صيب پسه حلال کړې و، او موږ د ډوډۍ له وخته يو ساعت وروسته هم ټول د شفق راتللو ته منتظر و، چې راغې نو حافظ صيب خپل ځنګ ته کيناوه او غورې يي ورسره کولې، په مشرانو هم په دې ګران و، چې مشرانو ته به يي هم بې له کومې ويرې او ډار سختې، ستغې او سپينې خبرې کولې، د نظام په وړاندې يي د هيڅ پروا نه لرله.

هغه شفق چې طاغوت کې به ورته ما نصيحتونه او غصه کوله دلته لکه زما مشر ورور چې وي ماته تل نصيحتونه کول، يوه ورځ يي راته د درې تنه ملګرو په اړه په سخته وويل، چې ته ټول سخت کارونه په همدې ملګرو کوې او دا عدل نه دې الله به درنه پوښتنه وکړي د ملګرو ترمنځ بايد فرق ونه کړې، دا خو څه ستا مزدوران نه دي .

ما ورته په خندا وويل : ددې ملګرو مسوليت همدا دې چې همدا کارونه وکړي، نور ملګري په نورو کارونو مصروف دي، او زه خو پرې څه شخصي کارونه نه کوم .

ويل يي نه داسې درسره نه منم خير که دا نالوستې ملګري دي موږ ترې ذره فوقيت نه لرو،

همغه و چې د دريو ملګرو کار يي د ځان په شمول راباندې په پنځلسو نورو ملګرو وويشه.

له شهادته څو ورځې وړاندې راته مسجونه کړي و، سخت په غصه و، ويل يي : ملګرې درڅخه ټول شکايتونه کوي چې احتياط نه کوې، ستا کيسه کې نه يم خو دا پردې کورونه پرې مه ورانوه .

ورته مې وليکل : څه لالا بيا به داسې نه کوم .

ماهم ورته وليکل ته هم لږ پام کوه ، نن دې څومه ورځ ده دغه ځاې کې پروت يې ، او په دې وړه بانډه کې يي څو تنه وويشتل ، دلته جاسوس خاماخا شته ، نور له دې ځآيه لاړ شه .

راته يي وليکل : سمه ده ، لږه دا فضا راجوړه شي ، حرکت کوم ان شاء الله دلته مې لږ کارونه پاتې دي تر هغې به دا راتکميل کړم .

همدا مې ورسره اخرې مسجونه و.

ماذيګر و، له يوې ختيځې برنډې مې بره فضا څارله ، نن هم ډرونونو هغه د چا خبر سمه خوله لګولې وه ، لمر د غرونو سرونو ته نيږدې کيده چې د وړانګو له کبله يي د شفق لمنې سرې شوې ، خو نه پوهيږم کوم کيفيت و، نن راته د شفق لمنې د نورو وختونو په پرتله ډيرې سرې ښکاره شوې ، موږ هم د ډرونونو په مسير او ګرځيدو کې پوره تجربه موندلې وه ، راسره ملګري راته کړه ، ددې ډرونونو دوره په پونګو ده (پونګود اوغز د درې بر سر ته د سپين غره په لمن کې د ګڼ ځنګل په منځ کې يوه بانډه وه) او شفق هم هملته ديره دې ، بايد له دې ځآيه وتلې وې .

ملګري ته مې وويل څو ورځې مخکې مې هم ورته ويلي چې له دې ځآيه ووځه خو لکه چې دا خبيثان د وتلو چانس نه ورکوي .

په هر صورت موږ په نورو خبرو مصروف شو ، چې همدغه مهال مو د ډرون د ميزائل تراخه غبړ توجو يو ځل بيا

76

د ډرونونو په لور ورواړوله ، مالومه نه وه چې کوم ځاې او څوک يې وويشتل خو غالب ګمان مو دا وو، چې پوڼګو طرف يې ګذارونه وکړل ، موږ هم داسې ځاې کې وو چې رابطې کار نه کاوه ، سبا ناوخته مې څو ملګري څنګ ته راغلل او د شفق له شهادته يې خبر کړم.

دا دي د شهادت يې تقريبا پنځه کاله په پوره کيدو دي ، نه مې د شهادت پر مهال وليده، نه يې چرته جنازې ته ورتلاې شوم او نه يې لا راته تر اوسه قبر مالوم دي ، له شهادته څو مياشتې وروسته هغه مهال راته قاري صيب وويل : زه ورځم چې دا قبر خو يې پيدا کړم، د واورو په يو سخت طوفان کې سره د يو بل ملګري څو ورځې پس راغلل، له قبر څخه يې تصويرونه اخستي و، مکمل په واورو کې پټ و، يواځې پرې پراته د وچو خاښونو سرونه ښکاريدل .

نظر د شوکت او سباون تقبله الله تر شهادته د شفق په شهادت مې حوصله ډيره برابره وه، خو بيا هم ورور، ورور وي کله، کله يې چيناړ، چيناړ ځواني سترګو ته راودريږي، شفق ډير نرم دله او خوږ انسان و. په زيد تقبله الله هم انتهايي ګران و، فضا سخته خرابه وه. (دلته چې ډرونونه انتهايي زيات او د ګذار په حال کې وي، نو ملګري وايي فضا سخته خرابه ده) خو زيد ويل: مشره ستا څنګ ته درځم ؟

سباوون تقبله الله .

ما فکر کاوه چې د شفق تعزيت ته به راځي، ورته مې وويل : وروره بس راتلو ته اړتيا نه شته بس هغه دې الله قبول کړي، تاسې پام کوئ الله دې ستاسې غم نه راښايي .

په غريو نيولي غږ يې جواب کړي و: وروره زه د هغه تعزيت ته نه درځم بلکې ددې لپاره درځم چې ماته تسليت راکړې بيخي راڅخه هيريږي نه، له کاره يې غورځولي يم .

ورته مې کړه : الله بنده دومره حوصلې مه پريباسئ، د ملګرو شهادتونه بايد زموږ مورالونه لا لوړ کړي .

بله ورځ مې چې کاته نو په شرک باران کې لوند خيشت په حجره راننوت .

زيد له زره ډير کلک و، او دومره زړور او بهادر انسان و، چې ويره او ډار يې نه پيژندل، د ټوټه، ټوټه مجاهدينو غوښې به يې راټولولې خو حوصله يې نه خرابيده خو چې راغاړيوت نو سخت يې وژړل، په ډيره خوارۍ مې دلاسه کړ .

دوه شپې يې راسره وکړې، چې تللو نو هم ويل يې: په ځان ډير پام کوه ګوره ستا غم نه شو برداشت کولې او زه خو وايم چې موږ ته نور شهادت غوره دي بس ټول ملګري مو لاړل يواځې موږ پاتې يو .

ورته مې وويل : وروره مايوسي خه نه ده موږ ته ډير درانده مسوليتونه راتر غاړې دي او بايد په ورين تندي دا هر څه وزغمو.

زيد لاړ خو دوه ورځې پس خبر راغې چې زيد يې هم وويشت او شهيد دي .

د زيد د شهادت غږ هم ډير تريخ و، د شفق نه پرې زيات وردريدم، زيد به يو وخت ماسره ګرځيده او داسې شپه به نه وه چې دا به په دې تنکۍ ځوانۍ کې د شپې خپل رب ته نه ژړيده، الله عزوجل ورته ډير نا اشنا استعدادونه ورکړي و، او په اعلام کې هم په ډيرو حساسو او مهمو کارونو بوخت و.

لنډه دا چې د زيد د شهادت سره مې حساب وکړ يواځې په اته مياشتو کې زموږ د اعلام يو ديرش تنه شهيدان شوي و، خو دا زموږ ژورناليستان او اعلاميان زموږ دښمن ته تر ټولو سر سخته دښمنان ښکاريدل او په انتقام کې يې کله چې د اسلامي دولت زمرو په کابل کې لس تنه لوفر ژورنالوستان ووژل نو ټوله نړۍ پرې وخوځيده او هر چا همدا بغاري وهلې چې خبريالان بې طرفه دي او ددوي ګنا څه ده ؟ ما به ملګرو ته ويل ددوي بې طرفي او بې ګناهي له دې ثابته کړئ چې د نړۍ ټولو کفارو په دوي باندې بريد په سختو ټکو وغانده، دوي سره د سرو کافرو دومره د زړه له تله خواخوږي ددوي په ارتداد او کفارو ته په زيات چوپړ او وفادارۍ دلالت کوي .

[رسول الله ﷺ وفرمایل: د مسلمانانو جماعت او خلیفه لازم ونیسه، حذیفه (رضي الله عنه) ورته وویل: کچیرته د مسلمانانو جماعت او خلیفه نه وي، بیا څه وکړم؟ هغه ﷺ وفرمایل: بیا د دې ټولو ډلو څخه په ډډه شه اګر که ته د ونې په جرړې باندې چک لګوې، تردې چې په همدې حالت کې درته مرګ راشي.] متفق علیه

مؤسسة العزائم یې وړاندې کوي